د میوند د تاریخي بري د
یوسلمو شلمې کالیزې په ویاړ

# د افغانستان د طبیعي سرچینو پېژندنه


لیکوال

پوهنوال محمد بشیر دودیال



۱۳۷۹ ل کال

۵۸

# دافغانستان دطبيعي سرچينو پيژندنه

لیکوال

پوهنوال محمدبشیر دودیال

PROPERTY OF ACKU

PROPERTY OF ARIC Established 1989

۱۳۷۹ل کال

Download From: Aghalibrary.com

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00009140 4

a13

بسم الله الرحمن الرحيم

Download From: Aghalibrary.com

## دکتاب پېژندنه

- دکتاب نوم : دافغانستان دطبیعي سرچینو پېژندنه
- لیکوال : پوهنوال محمدبشیر دودیال
- کمپوز : بابري کمپوزنګ سنټر - محمدنادر هاشمي
- خپرندوی : دافغانستان دکلتوري ودې ټولنه - جرمني
- دخپرونو لړ : (۱۹)
- چاپ شمېر : (۱۰۰۰) ټوکه
- چاپ نېټه : ۱۳۷۹ ل / ۲۰۰۰ م کال

دکتاب دچاپ حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي

۹۴

# نیولیک

**سرلیک** | **مخ**


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| دخپرندویې ټولنې یادښت | ۱ |
| تقریظ | ۳ |
| تقریظ | ۵ |
| سریزه | ۷ |
| دطبیعي منابعوداقتصاد پېژندنه | ۱۱ |
| دطبیعي منابعو داقتصاد ځانګړې ربړې | ۱۴ |
| له نورو پوهنیزو څانګو سره د پنځیزو سرچینو | ۱۷ |
| د پنځیزو سر چینو وتپوهنې د کتنې اړانې | ۲۱ |
| دطبیعي سرچینو ځانګړتیاوې | ۲۶ |
| دچاپېریال دشتمنیو او زېرمو وېش | ۲۹ |
| ځمکه | ۳۵ |
| دځمکې داقتصاد پولې او منځپانګې | ۴۱ |
| له ځمکې څخه ډېره او ښه ګټه اخیستنه | ۴۹ |
| دبېلابېلو اقتصادي ګټو اخیستولپاره | ۵۴ |
| هغه لاملونه چې دځمکې دمنبع پر اقتصادي | ۶۱ |
| دافغانستان دځمکو لنډه کتنه او | ۷۳ |
| ځنګلونه | ۸۵ |
| دفغانستان مهم ځنګلونه او د هغو | ۹۹ |
| څړځایونه | ۱۰۹ |
| دڅړځایونو اقتصادي ارزښت | ۱۱۵ |

| | |
|---|---|
| دافغانستان ځړځایونه | ۱۱۸ |
| اوبه | ۱۲۷ |
| په نړۍ کې داوبوزېرمې | ۱۳۱ |
| دافغانستان مهم سیندونه | ۱۳۵ |
| دافغانستان داوبولګولو حوزې | ۱۴۰ |
| کانونه | ۱۴۴ |
| دکانونو وېش | ۱۵۰ |
| په اوسنۍ پېړۍ کې د کانونو | ۱۵۲ |
| دافغانستان دکانونو ډولونه | ۱۶۳ |
| نفت او ګاز | ۱۶۵ |
| په اقتصادي وده کې د پنځیزو | ۱۸۰ |
| دافغانستان دځانګړي جغرافیایي | ۱۸۴ |
| اخځونه | ۱۹۶ |

Download From: Aghalibrary.com

# دخپرندويې ټولنې يادښت

ديوې ژبې او ملت دپرمختګ او ترقۍ لپاره بېلابېل لاملونه دي. په دې کې يو لامل هم په يوه ټولنه کې دهغې دوګړو په خپله ژبه دګڼ شمېر علمي، ټولنيزو، ادبي اونورو اثار ليکل او خپرول دي. که په يوه ژبه زيات اثار وليکل شي نو هم به يې خپل خلک او هم نور وګړي د پوهنيزې اړتيا له کبله هغه اثار ولولي، اوپه نتيجه کې به دعلم دحاصلولو ترڅنګ هغه ژبه هم زده کړي. خپله دمحصلينو او زده کوونکو لپاره هم په خپله مورنۍ ژبه دکتاب چاپول او هغو ته يې رسول ځکه ډېر ضروري دي، چې زده کوونکي دزده کړې په بهير کې يوازې دزده کړې لړۍ تعقيبوي نه دژبې. که درسي کتاب په بله ژبه وي نو زده کوونکي مجبور دي چې په يوه وخت کې هم ددرس لړۍ تعقيب کړي او هم دژبې دزده کړې . دا دوه باره په يوه وخت کې ديوزده کوونکي فشار زياتوي او دزده کړې بهير يې ټکنی کېږي.

زموږ پرټولنه يو لوی ناتار تېرشوی او هرڅه له هغې جملې نه دهېواد فرهنګي شتمنۍ يې ترستوني تېره کړې، نو دنورو فرهنګي کارونو ترڅنګ دعلمي اثارو خپراوي ته سخته اړتيا ليدل کېږي.

دافغانستان کلتوري ودې ټولنې دخپلو علمي او کلتوري خدمتونو په لړ کې دادی دهېواد د يو نامتو ليکوال او دننګرهار پوهنتون داستاد

ښاغلي پوهنوال محمدبشیر دودیال په زړه پورې علمي اثـر (دافغانسـتان دطبیعي سرچینو پېژندنه) درنو لوستونکو او قدرمنو محصلینو تـه وړانـدې کوي.

داکتـاب چـې پـه عـام ډول طبیعـي سـرچینې او پـه خـاص ډول دافغانستان طبیعي سرچینې او شتمنۍ راپـېژنـي نـه يـوازې دپوهنتونونـو دمحصلینو لپاره يې لوستل خورا ضروري دي، بلکې له خپل هـېواد اوپـه تېره بیا دهغه له طبیعي سرچینو او شتمنیو سره داشنايۍ لپاره يـې مطالعـه عامو لوستونکو ته هم خورا ضروري ده.

موږ په داسې حـال کـې چـې دقدرمـن اسـتاد پوهنـوال محمدبشـیر دودیال داعلمي کار او زیار ستایو، دلوی خدای (ج) له دربـاره ورتـه پـه دې کار او چار کې دلازیاتو بریو هیله کوو، له ښاغلي ډاکـټر عبدالرسـول رسول څخه دزړه له کومې مننه کوو چې ددې کتاب دچاپ لـګښت يـې پرغاړه واخیست. موږ له نورو درنو قلموالـو او دپوهنتونونـو لـه اسـتادانو څخه هم په ډېردرنښت هیله کوو چې په خپله تخصصي څانـګه کـې پـه زړه پورې علمي اثار ولیکي اوچاپ ته يـې تیار کـړي. مـوږ لـه قدرمنـو استادانو سره ژمنه کوو چې ترخپله وسه به يې داثارو دچاپ په برخه کـې هلې ځلې وکړو او په دې ډول به ټول په ګډه ددې جوګه شـو چـې پـه هېواد کې دمعنوي فقر مخه ونیسو.

دهمداسې یوې هیلې دپوره کېدو په هیله

دافغانستان دکلتوري ودې ټولنه – جرمني

# تقریظ

دهرهېواد پنځیزې سرچینې ، ټولې طبیعي شتمنۍ او منابع دهغه هېواد د وګړو لپاره بدایه زېرمه بلل کېږي، نو ځکه د هغو پېژندنه او دهغو په هکله پوهه هومره ارزښت لري، چې نن ورځ دعلومو او پوهنو یوه ځانګړې برخه ورته جلا کړی شوی. د یو هېواد د خلکو لپاره د دغه هېواد د پنځیزو زېرمو پېژندنه لکه د دغه هېواد د تاریخ او جغرافیې د پېژندنې په اندازه ارزښت لري او دخپلو طبیعي منابعو په هکله احساس او شعور د ملي شعور یو جز دی.

په ۱۹۷۶ ز ( ۱۳۵۵ لمریز ) کې د کابل پوهنتون د کرنې په پوهنځي کې د ځنګلونو او طبیعي منابعو څانګه را منځ ته شوه. د دغې څانګې په درسي پروګرامونو کې د ځنګلونو ، څړځایونو ، ژویو ، بوټو ، ملي پارکونو او طبیعي منابعو ( ځمکې ، کانونو ، اوبو او نورو ) د تنظیم مسایل ځای شوي وو. له دې کبله چې طبیعي منابع د هېواد په ملي اقتصاد کې ډېر ارزښت لري ، په تېره بیا دا چې کرنه زموږ د اقتصاد غوره برخه جوړوي؛ نو د ۱۳۶۳ لمریز کال راهیسې د پنځیزو سرچینو و تېپوهنه ( د طبیعي منابعو اقتصاد ) هم د یو مضمون په توګه د کرنې په پوهنځي کې لوستل کېده.

له نېکه مرغه، دادی پوهندوی محمد بشیر دودیال په دې برخه کې ارزښتمن اثر لیکلی. دغه اثر هم دځانګېزو څېړونکو لپاره او هم هر افغان ته چې په هر ځای کې اوسي خورا ارزښت لري، چې د ګران هېواد افغانستان له زېرمو، شتمنیو، دهغو د اندازې، دموندل کېدو له سیمو او نورو ځانګړتیاوو څخه خبر شي. په دغه کتاب کې د دغو شتمنیو په کارونه په تېره بیا د ټولنیز اکر دښه کېدو لپاره ښوونه شوې ده.

ما دغه کتاب وکوت، په کتاب کې زموږ د ګران هېواد شتمني را پېژندل شوی. په نورو هېوادو کې په دې برخه کې لا زیات کار شوی او نورې هڅې هم روانې دي او ډېر په مینه په دی برخه کې زیار ګالي. دا دی زموږ له بیداره، بخته افغانانو هم دې خواته پام واړاوه. زه د دې کتاب خپراوي ستایم او هر هېوادوال ته یې د خپریدو مبارکي وایم.

په هېوادنۍ مینه

پوهاند غلام نقشبند ناصري د کابل پوهنتون د کرنې د پوهنځي استاد

# تقریظ

محترم پوهندوی محمد بشیر دودیال د پنځیزو سرچینو د و ټپوهنې په هکله غوره کتاب لیکلی . ما دغه کتاب ولوست او ډېر خوښ شوم چې د نړیوالو پوهنیزو آرونو په کچه داسې غوره اثر په پښتو ژبه هم وکښل شو. اوس هم لا وخت شته چې د ګران هېواد زېرمې او شتمنې ، دهغو اندازه ، د هغو د ښه کارولو لارې چارې ، ددغو زېرمو او شتمنیو ساتنه او په دې اړه نورې ارزښتمنې خبرې وپېژندل شي. دغه کتاب د شتمنیو او زېرمو په هکله پوهنیزې تیورې ګانې او دنورو هېوادو تجربې هم بیانوي چې موږ ته ډېر ارزښت لري. په کتاب کې له غوره علمي اخځونو څخه ګټه اخیستل شوې . که چېرې په راتلونکې کې د ګران هېواد د بیا رغاونې ، په ټولنو ټېزو چارو ، د بیا رغاونې پلانونو ، په الواکې پالیسیو غوره کولو او نورو کې ددغه کتاب ارزښتمنه منځپانګه پام کې وساتل شي. نو په ډاډ سره ویلای شم چې همداسې چاره او پلان به ډېره بریالۍ او هېوادنۍ وي. د ګران هېواد مادي او معنوي شتمنې او طبیعي منابع ، ښکلې چاپېریال ، ځنګلونه ، خاوره ، اوبه او هوا هر افغان ته ګران دي ، خو دهغو ښه ساتنه ، ښه کارونه او له بې ځایه لاسوهنې ډډه کولو لپاره پوهنیزه زده کړه په کار ده. دادی دا ډول پوهنیز کتاب هم بشپړ شو او ستاسو په واک کې دی. تاسو پوهیږې او

ګران افغانستان او دهغه ښایسته چاپیریال سره مو وطني مینه چې په دې کتاب کې ځېرېږي او هیله ده دا مینه د هر افغان په وینه کې لا توده شي او وده وکړي.

په درنښت
پوهاند محمد طاهر

Download From: Aghalibrary.com

# سریزه

پنځیزې سرچینې چې په اقتصادي وده او ټولنیزه هوساینه کې ستر ارزښت لري، هغه شتمنۍ او زېرمې دي، چې د وګړو په واک کې دي. په دې کې کرنیزې ځمکې، ځنګلونه، څړځایونه، سیندونه، دښتې، تر ځمکې لاندې منابع لکه وسپنیزې او نا وسپنیزې ډبرې، د لمر وړانګې او نور راځي. دا ټولې هغه شتمنۍ دي، چې د وګړو له خوا نه دي را منځ ته شوي. بلکه له نغدي پانګې (ګاڼو، اسبابونو، نغدو پیسو) څخه پرته، دا زموږ په چاپېریال کې موجودې شتمنۍ را اخلي. آن دا چې له تاریخ څخه مخکې پېر کې لومړني انسان هڅه کوله خپل چاپیریال وپېژني، د هغه ګټورې سرچینې په خپله ګټه په کار واچوي او زېرمه یې کړي. ورو ورو انسان د خپلې پوهې په مرسته د پټو او پوښل شویو سرچینو په پلټنه پیل وکړ، آن دا چې دا هڅې یې پیل کړې چې د خپل چاپیریال بیولوژیکي سیستم (د ژوند پېچلې زنځیر) وپېژني او وده ورکړي. په دې لړ کې، د سرچینو په هکله پلټنو په پوهنیزو څېړنو (Scientific Researchs) او اقتصادي لیکنو کې ځای وموند، آن دا چې کلاسیک او لرغونې پوهان یې په دې برخه کې څه لیکلو ته اړ کړل. کلونه کلونه وړاندې نامتو پوه (Ricardo ریکاردو) د ځمکې د په کارولو په هکله لیکنې کړې وې، چې هغو کې یې د پنځیزو (طبیعي) سرچینو ځینې اړخونه جوت کړي وو. نامتو فیلسوف

دورینګ د داسې سرچینو ( منابعو ) په هکله یو قانون را منځ ته کړی و، چې دهغه لومړۍ برخه کې یې لیکلي :« د تولیدي وسایلو ، طبیعي منابعو او بشري ځواک په کار وړل له نویو موندنو سره لا پراخیږي »(۹) وروسته بیا په نولسمې پېړۍ کې یو شمېر نورو پوهانو لکه ( Libig لیبیګ) د حاصلاتو او چاپیریال له شتمنیو څخه د ښې ګټې اخیستنې په هکله څېړنې وکړې. (Mayer مایر ) پر ۱۸۶۹ زیږدي، په دغه برخه کې نورې خبرې هم را برسېره کړې . ورو ورو انسانانو ته دا پوهه ورپه برخه شوه، چې ګواکې دوی کولای شي چې د یو شمېر کړو وړو او هڅو په مرسته د ژوندي پاتې کېدو لپاره د یو شمېر نا بیولوژیکي عواملو ( لکه کار ) په ترسره کولو بیولوژیکي سیستم او دچاپیریال سرچینې ځان ته ګټورې وګرځوي. همدا وخت لومړنۍ کرنه پیل شوه . په دې توګه د چاپیریال د زیرمو ګټور توب دوی ته زبات شو. د یویدریکاردو ( ۱۷۷۳-۱۸۲۳ ز) دځمکې او له ځمکې څخه د ګټې اخیستنې ( Rent ) په هکله پوره او کره څېړنه وکړه ، دغه څېړنه د نورو پوهانو له خوا نوره هم بشپړه شوه او دکانونو په هکله هم وغږېدل، خو داچې دغه پوهنیزه څانګه څه وخت د یو دسپلین په توګه په پوهنتونو او اکاډمیو کې رامنځ ته شوه ؟ نو ویلای شو چې هغه ۱۸۹۲ ز کال و . دغه کال کې دویسکانس په پوهنتون کې کله چې (Rechard.T ریچارد تی) خپل سیمینار د پنځیزو سرچینو او دځمکې دجایداد په هکله وړاندې کړ، دځانګړې پوهنیزې څانګې په توګه وپېژندل شو. وروسته یې په ۱۹۱۹ ز کال کې نوره هم وده وموندله او د امریکا د متحده ایالاتو د کرنې په وزارت کې یوه ځانګړې څانګه (دځمکې داقتصاد The Land Economic) په نامه را منځ ته شوه چې دنده یې دځمکې له سرچینو څخه ګټه اخیستنه ، د هغو ساتنه او څارنه او دهغو

په هکله د پالیسیو ټاکل و. نن ورغ د نړۍ ډېرو زیاتو هېوادونو د پنځیزو سرچینو پېژندلو او په پوهنیزو څانگو کې د هغو څېړنو ته پام اړولی او یوه غوره نن مهالې پوهنه ده. دا پوهنه له دغو زېرمو او شتمنیو څخه غوره گټه اخیستنه هم را ښیي په تېره بیا چې زیات شمېر داسې شتمنۍ لکه سیندونه او دلمر وړانگې تیرېدونکی او بهیدونکې Flow Resources دي چې دا له یوه ټاکلي وخت څخه وروسته هرو مرو له لاسه وتونکی دي او د زېرمه کېدونه دي، تر دې هم د پامور خبره داده چې له دې شتمنیو څخه یو شمېر یې بېرته نه شي نوې کېدای دا سرچینې یا Non- Reproducible resources دي، ځکه که یو ځل له لاسه ووتې بېرته یې د راگرځولو کېدون نه شته لکه کانې توکي. په تېره بیا په ځینو پورې یې دوگړو ژوند تړلی لکه ونې، بوټې، ژوي، کرنیزې ځمکې او څړځایونه.

* * *

د ملگرو ملتونو له یوه رپوټ سره سم؛ لوږه او د خوړو کمښت په تیره وروسته پاتې او پرمختیایي هېوادو کې د روانې پېړۍ ستره ستونزه ده. همدا اوس څه له پاسه ۵۰۰ میلیونه وگړي له لوږې سره مخامخ دي! د F.A.O د رپوټونو له مخې په پرتلیزه توگه ویلای شو چې په منځنۍ توگه په پرمختللو هېوادو کې هر وگړي ته د ورځې ۳۰۰۰-۳۵۰۰ واحده کالوري چمتو ده، خو لږو پرمختللو هېوادو کې یوازې هر وگړي ته ۱۷۰۰ واحده کالوري رسېدای شي، چې دا ډېره لږه انرژي ده. همداسې؛ د نړۍ په سلو کې ۱۷ تنو ته د ورځې هغومره پروتین چې ورته اړتیا ده (۳۰ گرامه) رسېږي، په سلو کې ۲۵ تنو ته ۱۵-۳۰ گرامه او نورو پاتې سلو کې ۵۸ خلکو ته ډېر لږ پروتین چې ایله ۱۵ گرامه کېږي رسېږي.

پېنځه کاله مخکې دنړۍ ټول وګړي ۸, ۲ بیلیونه وو، اوس (په ۲۰۰۰ کال کې) ۸, ۵ بیلیونو ته رسیدلي. هر کال په نړۍ د ۸۰ میلیونو په شاوخوا کې وګړي زیاتېږي چې په دې توګه به په ۲۰۲۵ کال کې دنړۍ ټول نفوس ۸ بیلیونو ته ورسېږي (یو بیلیون ۱۰۰۰ میلیونه دی). زموږ په هېواد کې د وګړو کلنی زیاتوالی په منځنۍ توګه په سلو کې ۲, ۶ ښوول شوی، نو که دغو زیاتیدونکو وګړو ته پوره خواړه (چې ټول له کرنې څخه تر لاسه کېږي) برابر نه شي، دهېواد د سرچینو او زېرمو په هکله پوهنیزې هڅې پر مخ لاړې نه شي، د خوراکي توکیو په هکله اړینې کړنې تر سره نه شي او دهېواد له شتمنیو څخه ښه ګټه پورته نه شي، نو خدای مه کړه لویې ستونزې به پیښې شي. همدا لامل دی چې په نورو هېوادو کې هڅې کېږي چې د پوهې او ټکنالوژۍ او ډېرو غوره تدابیرو سره د طبیعي منابعو تولیدي کچه لوړه بوځي. د نولسمې پېړۍ په پرتله په شلمه پېړۍ کې د کرنیزو توکیو ګټه وټه څو څو ځله اوچته شوې وه. وګړي دخپل هېواد او چاپیریال شتمنیو، ځمکو، ځنګلونو، اوبو او نورو سرچینو ته دخوړو د تر لاسه کولو، اوسیدو، ځای د بنذونو جوړولو، د خپلو ښارونو او کلیو پراختیا، دخپلو ښارویو مړولو، د هوساینې د ځایونو برابرولو، ښکلو، شنو او ښایسته سیمو لیدلو او نورو ته اړتیا لري. نو ویل کېږي چې: سرچینې لېږ او د ټاکلو پولو لرونکې دی، خو اړتیاوې پراخه او تل تر تله ده چې همدغه ربړه د پنځېزو سرچینو د وتپوهنې (د اقتصاد د علم) بنسټیزه سکالو جوړوي.

# لومړی څپرکی

## د طبیعي منابعو د اقتصاد پېژندنه

اقتصاد داسې پېژندلای شو : اقتصاد په پراخه مانا هغه ټولنیزه پوهه ده، چې په لږو او تنګو پولو کې ایسارې سرچینې او شتمني د وګړو د زیات شمیر غوښتنو او پراخو اړتیاو و لپاره بیلوي او د ټولنې ډېرو زیاتو پراخو اړتیاوو او غوښتنو ته د دغو لږ شمېر شتمنیو په کارولو راښیي! همداسې د وګړي دخپلو ګټو ، وټو لپاره لږ شته لري. دشتو دغه لږ والی انسان تل ګټې وټې ته هوښیار او چمتو ساتلی . که چیرې سرچینې لږ او محدودې نه وای، نو د اقتصاد ربړه به هېڅکله نه وه را پورته شوې.

**اقتصاد دوه برخې لري:**

**۱- ملي یا لوی اقتصاد** National economics (Macro economics)

**۲- کوچنی یا د تصدي اقتصاد** Micro economics

په عامه ژبه ملي اقتصاد د ټول هېواد په کچه د ګټې وټې ربړې څېړې اوښې لارې یې ښیي . که لږ په ژور ډول یې د اقتصاد دعلم له پلوه وڅېړو نو ملي اقتصاد داقتصاد ټول سکتورونه ( برخې ) او دهغو اړونده ښکارندې لکه ملي تولید، ملي عاید، استخدام ( په کار ګومارل ) ، بشري ځواکونه ، بیې ، انفلاسیون ، د یفلاسیون ، لګښتونه ، څښتنواله (مالکیت) ، مالیه ،

ټکسونه او دې ته ورته نورې خبرې ښيي.

د تصديو اقتصاد ( کوچنی اقتصاد ) له ټول اقتصاد څخه يوازې يوه برخه را اخلي ، لکه د يوه ښاروي روزلو دفارم يا د غلو د انو د کروندې ، د سستې جوړولو د يوې فابريکې ، د سپکو صنعتونو يا يوازې په يوه هېواد کې د درنو صنايعو او داسې نور و کوچنۍ کوچنۍ برخې ښيي.

د طبيعي منابعو اقتصاد (Natural Resources Econom-ic ) د اقتصاد هغه برخه ده چې د پنځيزو سرچينو او شتمنيو ارزښت ، د هغو ښه په کارول ، ساتنه ، د هغو وده ، د دغو شتمنيو پلانول او په دې هکله تيوري په اقتصاد کې څرگندوي. دا راښيي چې په هېواد کې ملي شتمني لکه ځنگلونه ، سيندونه، ځمکې ، کانونه او نور څنگه وکاروو ، چې هم ښه گټه ترې تر لاسه شي او هم راتلونکو ته پاتې شي.

پنځيزې شتمنۍ ټول هغه وټيز توکي را اخلي چې زموږ په شاوخوا چاپيريال کې پرته زموږ له هستوونکې کار او هڅو څخه شته . طبيعي منابع ټول هغه طبيعي شرايط ، امکانات ، ارزښتونه او شتمني ده چې د ټولنې د ژوندي پاتې کېدو او ودې لپاره ورته اړ يو. دا د انسان له کار او هڅو پرته د ځمکې په مخ ( کرنيزې ځمکې ، اوبه ، بوټي ، ژوی ... ) تر ځمکې لاندې ( کانونه ) ، پر ځمکه پاس ( د لمر وړانگې ، باد او نور ) دي چې دې ته طبيعي ثروت ، نه ليږيدونکې شتمني (Real property) او طبيعي دارائي هم ويل کېږي. دا د مانا له پلوه ټول په يوه لړ کې راځي خو په ځينو ځانگيزو څېړنو کې يو له بل سره توپير مومي: د بېلگې په توگه که چيرې وغوښتل شي سرچينه يا منبع د چاپيريال او ټول طبيعت د يوې برخې (جزء) په توگه وپېژنو ، نو « طبيعي منبع » ورته کاروو ، خو که د هغې قانوني ، حقوقي ، اقتصادي اړخ جوتوو ، بيا نو « نه ليږديدونکې شتمني »

ورته غوره بريښي ، که دنورو توکيو په پرتله يې لا جوتول غواړو نو « قدرتي يا طبيعي ثروت » يې هم بللای شو چې دا له نغدي پانگې سره توپير کيږي.

## د پنځيزو سرچينو د وتپوهنې سکالو ( موضوع ):

دغه ځانگيزه پوهنه دځمکې پر مخ ، ترځمکې لاندې او له ځمکې څخه پورته سرچينو د اندازې ، دموندل کېدو دځايونو ، ظرفيت ، د هغو دفزيکي اډانې او موسساتي اډانې او دې ته ورته ستونزو باندې خبرې کوي.

لکه چې وويل شول دا د ټولنيز علم (اقتصاد ) يوه برخه ده چې له ټولو هغو ستونزو او ربړو (Probolem) سره سرو کار لري، چې په هغو کې ټولنيز خوی او عادات ، د طبيعي زېرمو دځينو ارزښتونو لکه موقعيت ، جايداد ، ځانگړو فزيکي واحدونو دملکيت په اړه او د ټول اقتصاد په شان ددغولږ موندل کېدونکو شتمنيو د ويش په هکله پوښتنو لکه څومره ؟ چيرته ؟ د چاليارة ؟ ولې ؟ څرنگه ؟ ته ځواب وايي، چې يو جوت اړخ يې دهغه عملي والی او تطبيقي والی يا د تطبيق کېدو وړتيا (Applicubility) ده . بشر ځکه پنځيزو شتمنيو ته پراختيا ورکوي چې هغه په کاروي او دخوښې وړ گټې ،وټې ترې تر لاسه کوي.

# د طبيعي منابعو د اقتصاد ځانګړې ربړې

داقتصاد هره بېلابېله برخه ځانته ځانګړې ربړې (Problems) لري
ې ورسره مخامخ کېږي. ربړه او ستونزه د څېړنې Research په ترسره
کولو، د توليد په پروسه کې يا دهست کېدو (Output) لپاره دعامل
(Input) د په کار اچولو په لړ کې چې دهغه موخه د ګټې همانغه لوړې
پولې پورې رسيدل وي، داسې اکر دي چې په هغه کې هرو مرو شک (نا
څرګندوالی)، پېچلتيا، يو په بل اوښتونکي وريانتونه او داسې نور کړاوونه
ليدل کېږي. دلته کېدای شي پيل شوې لړۍ يا له واکه ووځي، يا ځنډ او
ځنډ په کې پيښ شي، يا هم د په کار اچول شوي عامل (پانګې، منجمنټ،
کار) لګښت پوره نه شي او داسې نور. که داسې پېښې را منځ ته شي نو
هغه ګټه، وته چې په تمه يې ياستو، نه شي تر لاسه کېدای. دلته به د هغو
ځانګړو ستونزو (پرابلمونو) نوم واخلو چې د طبيعي منابعو په اقتصاد
برخه کې پېښيدای شي:

**۱- زيان Risk :** طبيعي منابع دانسان له واک څخه وتلو پېښو سره
تړلې دي. د بېلګې په توګه: له هر پسل (پسرلي، اوړي، ژمې) سره
تړلتيا او د ناڅاپي پېښو (وچکالي، توپان، ډېر اورښت) له امله دهغه
زيانمنېدل.

**۲- ناڅرګندوالی Uncertainty**: د ساینس او ټکنالوژۍ په ډېره پرمختیا سره سره بیا هم ځینو برخو کې بشریت نه دی بریالی شوی، چې ټول هغه رازونه او مکنونات څرګند کړي چې دده له واکه وتلي، نو ځکه د طبیعي منابعو په پلټنه کې بې شمېره خنډونه پېښېدای شي، چې د اقتصادي کړنو (فعالیت) پایله د پروسې تر وروستي پړاو پورې په شک کې اچوي.

**۳- دطبیعي منبع د کارولو د ډېرښه وخت پېژندن Opportunety**: دغه پرابلم په تیره بیا هغه وخت پېښېدای شي، چې منبع د کرني لپاره کارول کېږي. ځکه کرنه بیولوژیکي سیستم دی، دا د زرغونیدو (ځینې وخت د زیږېدو)، ودې، پخیدو (ځوانۍ) او دعمر د پای ته رسېدو بېلابېل پړاوونه لري، چې باید وپېژندل شي. د بېلګې په توګه؛ دا چې له ځنګل څخه څه وخت ګټه اخیستل پیل شي، یا ځمکه څه وخت یوې شي، کرونده څه وخت اوبه کړای شي او څه وخت وربېل شي او داسې نور، د دغو پوښتنو ځواب یوازې او یوازې په یوه لنډ ټاکلي وخت کې موندل کېدای شي له دغه وخت څخه مخکې یا وروسته څه کول زیان پیښوي.

**٤-زغم Forbeanance**: د طبیعي پړاوونو په چټکولو، درولو او ځنډ راوستو کې مونږ هیڅ واک نه لرو او نه هم هغه له خپل وخت مخکې بشپړوالي ته رسولای شو. د بېلګې په توګه د یوې میوې پخیدل ځانته خپل وخت غواړي چې د دغه وخت رسیدو ته زغم په کار دی یا د بادونو د درېدلو او دیخنې پای ته رسیدو ته هم زغم په کار دی.

**٥- پالیسي او تیوري ګانې Policy and Theory**: د طبیعي منابعو په اړه پالیسي ګانې د اړونده ادارو، ارګانونو، ځانګیزوالو پوهانو یا د کار د یوې ټاکلي ډلې ګروهې او الواکونه (عقاید او نظریات) دي چې

په پام کې نیول شوي ستونزې هوارولو ته ځانګړې شوې او دا د پروګرام د پلي کولو لپاره جوړېږي. دا ستونزه (Problem of theory) له پورته یادو شویو ستونزو سره ډېر توپیر لري، ځکه دا ټولنیزه او موسساتي بڼه لري. ځینې وخت کله چې جوړه شوې پالیسي پلې کېږي ، کېدای شي دا د ټولنې له دود ، دستور او رواج سره پوره سمون ونه لري. کېدای شي د ټاکلې شتمنۍ او طبیعي منبع په اړه یې د پلي کولو اغیزمنتوب ډېر ټیټ وي او داسې نور. نو ځکه ځینې وختونه د ټولنې له خوا ډېر کلک غبرګون او ناخوښۍ سره مخامخ کېږي، آن دا چې ځینې وخت آره موخه هم نه شي ترلاسه کېدای، خو علمي سنجول شوې پالیسي او تیوري دا نیمګړتیا نه لري او هېڅ ستونزه په کې نه وي.

ځینې وخت پورته شمېرل شوې ستونزې په یو وخت کې را برسېره شي، ځینې وخت دیوې منبع د څو ډوله کارونې ( د څو څو موخو لپاره) ستونزه هم را پیښه شي ، د دغو ستونزو هوارولو ته پوره پوهه په کار ده.

# له نورو پوهنيزو څانګو سره د پنځيزو سرچينو د
# وټپوهنې اړيکې

پوهنيزې څانګې خامخا يو له بل سره اړيکې او ګډې پولې لري، په تيره بيا ټولنيزې پوهنې (Social Sciences) هېڅکله په غوڅه توګه يو له بل څخه جلا نه دي. دا څانګې زياتره وخت يو بل سره مرستندويې هم وي او ځينې وخت تجربي پوهنې (له طبيعي پوهنيزو څانګو) سره هم ګډه پوله لري.
دلته به له نورو څانګو سره د پنځيزو سرچينو د وټپوهنې اړيکې وکتل شي:

**۱- له وټپوهنې سره د پنځيزو سرچينو د وټپوهنې اړيکې:**

اقتصاد د ګټې وټې ښوونه کوي. ګټه مانيز اړخ لري چې له مادي توکيو (وټې) سره تړل او ددې سرچپه اړيکې راښيي. دا چې عمومي اقتصاد د وګړو پراخو اړتياوو ته د لږو سرچينو او شتمنيو د ښېلولو او ويشلو ښې لارې ښيي، نو د طبيعي منابعو د اقتصاد څانګه د عمومي اقتصاد د تطبيقي اړخ لرونکې برخه ده، چې له دغو شتمنيو او زېرمو سره د ټولنې کړه وړه، له هغو څخه غوره کار اخيستنه، د هغو ښه ساتنه او څارنه او دې ته ورته خبرې څېړي، نو د طبيعي منابعو اقتصاد له عمومي اقتصاد سره سيده اړيکې لري او هغه په لاندې ډول ښوولای شو:

طبيعي - هستوونکې هڅې - دوتېزو توکيو جوړېدل - د اړتياوو پوره کېدل

**۲-له شمېر پوهنې سره د پنځيزو سرچينو د ونپوهنې اړيکې:**

شمېر پوهنه (Statistic) هغه لارې چارې ، روښونه او ميتودونه دي چې د شمېرنو (Data) ، معلوماتو او اطلاعاتو را ټولولو ، شننې ، څېړنې ، لنډيز او وېشنې لپاره په کارېږي. په بله وينا ؛ شمېر پوهنه د ارقامو هرې هغې ټولګې ته ويل کېږي ، چې د چاپېريال ښکارندو او ځانګړتياوو يا هم د وګړو ټولنو تېزو هڅو پورې اړه لري. په تېره بيا او سمهال چې د ساينس او ټکنالوژۍ په پرمختګ سره زموږ د چاپېريال په هکله د هغه د ششمنيو او زېرمو په هکله او د پراخوالي داندازه کولو په هکله يې په ډېر لوړ کچ مقياسونه او ناغي رامنځ ته شوي او د دغو ټولو ښکارندو څومره والي او څرنګوالي ټول په شمېر سره ښوول کېږي او دا تر لکونو او کروړونو رسېږي نو ځکه شمېر پوهنه د پنځېزو سرچينو لپاره پوره په کارېږي. د بېلګې په توګه د يو ځنګل د ونو شمېر ، څېرځايونو د پراختيا څومره والي او داسې نور ټول د شمېر پوهنې په آرونو تلل کېږي.

**۳-له کرنيزو پوهنو سره د پنځيزو سرچينو د ونپوهنې اړيکې:**

د پنځېزو سرچينو ونپوهنه د کرنې د ببلابېلو ځانګېزو پوهنو لکه ايکالوژي ځنګلپوهنې ، بوټپوهنې ، کرنيز اقتصاد او نورو سره نېږدې اړيکې لري ، دا ځکه چې کرنه په خپله يو لړ هغو انساني فعاليتونو ته ويل کېږي چې په هغو سره د نا بيولوژيکي شرايطو ، سرچينو او عواملو (کار ، منجمنټ، پانګې) په اړه د چاپېريال بيولوژيکي سيستم (په ځمکه ټول حياتي سيستم ، له مايکروژوند يو نيولې بياتر لويو ونو بوټو ځارويو او نورو) را اخلي ، چې د وګړو د ژوندي پاتې کېدو لپاره تر کار لاندې نيول کېږي په بله وينا : د بوټو او ځارويو د روزنې ، دځمکې ، اوبو ، ځنګلونو او څرځايونو په ښه توګه په کار اچول او له هغو خوراکي او نور د توکيو برابرول

کرنه ده. نو دغه توکي ټول له پنځ ( طبیعت )څخه سرچینه اخلي.

**٤- له حقوقو سره د پنځیزو سرچینو د ټپوهنې اړیکي:**

سره له دې چې د پنځیزو شتمنیو پر ځینو برخو باندې د وګړو د ځانګړې ملکیت کومه حقوقي ادعا نه شي کېدای، لکه د لمر په وړانګو، په آزاده فضا، باد او نورو باندې، ځکه له دې څخه د ځمکې پر غوندارې ټول اوسېدونکي وګړي ورڅخه ګټه اخلي، خو ځینې نورې شتمنۍ لکه سیندونه، ځنګلونه، څرځایونه او داسې نورو ځانګړو هېوادو د سیاسي پولو اوجغرافیاوي حدودو دننه د هغوی ملي شتمنې شمیرل کېږي او دلته نړیوال حقوق د هغو په هکله ځانګړي احکام او نورمونه لري. د بېلګې په توګه د ۱۹۹۹ م کال د دوبلین کنفرانس چې د اوبو د اقتصاد په هکله جوړ شوی و، د اوبو د حقوقو په اړه یې خبرې او پریکړې وکړې. ځینې شتمنۍ او نا لیږدیدونکې ثروتونه په ځانګړو وګړو پورې اړه لري لکه کرنیزې ځمکې، ځینې د حقوقي شخصیت لرونکو ادارو او تصدیو ملکیت کې دي لکه د تصدیو پورې، د ښاروالۍ اړوند پارکونه او باغونه، د کوپراتیفونو ځمکې او جایداد. په دې بېلګو کې حقوق د ټولنیز سازمان ( اساسي حقوق) او اقتصادي هڅو او فعالیتونو ( د ځانګړو وګړو وجایب ) ټاکي. په دې ډول حقوق د پنځیزو سرچینو پلورل، پېرودل، اجاره، کرایه، په هغو د قراردادونو تر سره کول د هغو لیږدول او نه لیږدول او داسې نور ټاکي. په دې کې تر ټولو درنه وجیبه د ملي شتمنیو په وړاندې د هر وګړي پاره ده. دا هماغه د ټول هېواد او د هغه د طبیعي منابعو، شتمنیو، ثروتونو او زېرمو په هکله وطني، ملي احساس پوهه او د ملي شعور تر سطحې عظیمه دنده ده چې د ټولنې د وګړو له ټول شعور سره تړلې. په دې برخه کې په ټېټه کچه ولس نرخونه، دودونه او پریکړې هم شته چې د رسمي حقوقي وجیبې

حیثیت لري، لکه دځنګلونو د پرې کوونکيو ناغه کول.

**۵- له جغرافيې سره د پنځيزو سرچينو د وتپوهنې اړيکې:**

دجغرافيې په مرسته د بېلابېلو سيمو د شتمنيو ، کانونو ، کرنيزو ، ځمکو ، ځنګلونو ، سيندونو اونورو ځاى پېژندل کېږي.

پر پورته يادو شويو پوهنيزو څانګو برسيره، د پنځيزو سرچينو وتپوهنه له نړيوالې سوداګرۍ سره هم اړيکي لري ځکه چې نړيواله سودا ګرۍ هغه ده: کله چې د وتېزو توکو هستونه دخپلو اړتياو لپاره نه ترسره کوي، هغه په نورو هېوادو د پلورلو لپاره جوړ او وړاندې کوي. نو هغه هېوادونه چې ځينې سرچينې نه لري. ددغو سرچينو توکي په قانوني لاره او اجازه دقانوني سندونو له مخې تر لاسه کوي چې دا قوانين په نړيواله سوداګرۍ کې جوت او منل شوي نو دلته دهېوادونو ملي ګتې ډېر ارزښت پيدا کوي. له نورو پوهنو سره داړيکيو په برخه کې اروا پوهنه هم د يادولو وړ ده ،ځکه ددغې پوهنې په مرسته کېداى شي دعامه ذهنيتونو شننه او پېژندنه وشي او خلک د اروا پوهنې له مخې په وړلارو د ملي شتمنيو ساتنې ته ځير کړاى شي.

# د پنځیزو سرچینو وتیپوهنې دکتنې اډانې

د پنځـیزو سـرچینو او شـتمنیـو د وتیپوهنې پراخه وربوي چې له نورو پوهنیزو څانگو سره هم اړیکي لري ، په دریو اډانو کې کتل کېدای شي. چې د دغو شتمنیو پلانوونکي او دگټه پورته کولو چارواکي له همدغو اډانو د وگړو یا ټولنې چلند له دغو زېرمو او سرچینو سره پلټي او هغسې وړ لارې چارې ورته لټوي. کله چې موږ د هېواد سرچینې څېړو نو له دغو دریو اړو اډانو به یو یو ځل ورته ځیر کېږو ، سره له دې چې په کار اچولو کې دریو اړه اډانې یو ځای کېږي. خو د ځیرنې او شننې پروخت بیا پړاو په پړاو پر مخ تلل په کار دي. دلته به هره اډانه وپېژنو :

**۱ - فزیکي اډانه Physical Framework:**

دلته هر وگړی ځان په هغه چاپیریال کې مومي ، چې دده په شاو خوا کې شته او د ډول ډول شتمنیو څومره والي ته ځیر کېږي. وتیپوهنه او پلانونه هم باید په دغه څومره والي ځان پوه او خبر کړی پرته له هغې یې انداو هاند نیمگړی دی. ځکه بشپړ او بریالی پلان هغه دی چې د موندل کېدونکیو توکیو ، سرچینو او شتمنیو له څومره والي څخه خبروي او هغه په کې ځای شوی وي. په دغه اډانه کې د طبیعي منبع فزیکي ځانگړنې لکه د ځمکو ، ځنگلونو او اوبـــو اندازې ، دخـاورې جوړښت Structure ofsoil ، اقلیم ، Clirmet تودوخه ، باران ، تـــوپوگـــرافي ، د کانونو ژور تیا او ظـــرفیت او داســـې نـــور مطالعه او شرحه کېږي. دا د منبع په عرضه فوق العاده تاثیر لري.

## ۲- اقتصادي اډانه Economic Framework :

دلته د طبيعي منبع اقتصادي اړخونه مطالعه کېږي او زياته علاقه له دې سره وي چې په څه ډول سره دغه محدود او لږ منابع د مختلفو اهدافو لپاره ځانګړی شي؟ په څه ډول د توليد عمليه پرې اجرا شي؟ ايا ددې نسبي سهم په ملي اقتصاد کې څومره دی؟ يا داچې مثلاً که يو جريب ځمکه ولرو آيا بايد کرنې ته پرېښودل شي؟ کور پکې جوړ شي؟د فابريکې لپاره يې پرېږدو او که کوم بل استعمال ته کار ترې واخلو په بل عبارت دلته د نرخ د سيستم له عملياتو خبرې کېږي چې دلته هر څوک دا هڅه کوي چې له ټاکلې منبع څخه ښه ګټه واخلي. په دې کې داقتصاد عمده مفاهيم لکه ارزښت ، لګښتونه ، عوايد او نور مطرح وي چې د اړوندې منبع کارونه يې د توليدي او استهلاکي هدفونو په خاطر لري.

## ۳- موسساتي اډانه Institutional Framework :

دوګروا و ټولې ټولنې ، دکولتوري چاپېريال او دټولنيزو ګډو عملونو دفشار له ونډې سره چې د وګړو دخاصيت په ټاکلو کې مهم دی، سروکار لري. دلته دخلکو عنعنات ، ديني ارشادات ، د طبيعي منبع د برداشت په هکله د هغوی عقايد، رواجونه ، دولتي قوانين او پاليسي ، ولسي نرخونه او پرېکړې کنټرل کېږي . يعنې آيا خلک دطبيعي منابعو په اهميت پوه دي که نه ؟ آيا د طبيعي منابعو دځينې برخو له ګټې اخيستنې سره دهغوی عقايد بـــرابـــر دی کــــه نه ؟ آيـــا خلک د طبيعي منبع مطلوبه ساتنه کې هڅې کوي که نه؟

په بله ژبه انسان د ټولنې يو غړی دی، دده فردي سلوک ، کړه وړه او عمل د ټولنې له جمعي برخو سره تړاو لري نو څنګه چې اجتماعي ذهنيت حکم کوي فرد هم ځان ورسره برابروي. په تېره بيا کار ، دوتيزو توکيو هستول

او داسې نورو ژوره ټولنيزه ځانګړتيا لري، نو د وګړي هر ډول کار، اند واند، فرهنګي کړنلارې، د ټولنې هڅوب، دود، نرخ، سوچونو، انګېرنو، قانوني ترتيباتو او نورو تر اغېز لاندې وي چې الواکي، چارواکي، پلانوونکي، پاليسي جوړوونکي او نور بايد له همدې اړخه د ټولنې د شتمنيو په وړاندې دوګړو کړه وړه وڅېړي. دلته ځيني وخت د ډېرې پانګې، پرمخ تللي ټکنالوژۍ او د نورو په پرتله همدغه فکتور غوره بلل شوی د بېلګې په توګه کېدای شي په يوه سيمه کې شتمن کان وي، خو دا سيمه به هديرې ته نژدې وي نو مونږ په ډېره پرمخ تللي ټکنالوژۍ او پانګې هم هېڅ نه شو کولای.

## وسايط:

او سمهالې پوهنيزې ځانګې هره يوه يې ځانته ځانګړي وسايط لري چې د هغو په مرسته خپلو موخو ته رسېدلای شي. د پنځېزو شتمنيو اندوال هم بايد خپله څانګه کې خپل وسايط وپېژني، هغه دادي:

**لومړی: اند پوهه Theory**: يعنې د ټولنې د ټولو شتمنيو، زېرمو او د چاپېريال د ګټورو توکيو په هکله خبرتيا، فهم، پوهه او درک. بايد ووايو چې د وګړو د شمېر ورځ په ورځ زياتوالې د خلکو د ګټو ورځ په ورځ لوړتيا، د ځينو ځانګړيو نويو اړتياوو را منځ ته کېدل او د نويو ټکنالوژيو اغېزې د غو شتمنيو ته اړتياوې لا ډېرې او پراخه کړي.

**دويم: د پوره معلوماتو لپاره د شمېرنو (Data) شتوالی**: داچې د چاپېريال شتمني په ريښتينې توګه زمونږ تر شا وخوا شته، نو په دې سره ويلای شو چې هغه په شمير نوښو دلای شو او آن دا چې په دې «واسطې» سره د هغو تر منځ اړيکي روښانه کېدای شي د هغو ارزښتونه پرتله کېدای شي، د

گټې ، وټې وخت يې ښودل کېدای شي او نورې خبرې. دلته پلان جوړوونکې ،الواکي او چارواکي ، وټپوهان دشتمنيو اندازې او دهغو تر منځ بايد د بېلابېلو خصوصياتو اړيکي تشريح کړی لکه دهغو موقعيت ، په هغو د لاسبرى لارې ، ظرفيت ، د توليد پروسه په هغې کې د توليدي عواملو په کار اچول او نور. داچې د طبعي منابعو زياته برخه نظر جغرافيوي موقعيتونو ، اقليم ، د موسم بدلون او نورو فکتورونو په اثر بدلون موندلای شي نو په معلوماتو کې بايد تغير تحليلونه او پيشگويې هم شاملې وي. دغه ډول معلومات لرل د طبعي منابعو اقتصاد پوه ته ډېره مرسته رسولای شي.

**دريم: احصائيوي محاسبې :** ځينې وخت داسې اشتباه را منځ ته کېږي چې له دې څخه موخه يوازې د ارقامو شتون دی يعنې د طبيعي منابعو دځومره والي ثبتول موخه پوره کوي، حال دا چې واقعيت دادی چې ارقام Data يوازې دخامو موادو حيثيت لري مهمه خبره داده چې اعداد او ارقام پروسس شوی وي . يعنې نه يوازې د منبع کميت ارائه کړی بلکې ددغې منبع څخه توليد د عملي يا د اړتيا وړ محصولاتو تر لاسه کولو لګښت ، د عامل په کار تلل ، د محصول تمام شد قيمت ، د هغو خرڅلاو او داسې نور په محاسبه شوې بڼه موجود اوسي.

**څلورم- ليد (مشاهده) :** مشاهده د هر علمي تحقيق او څېړنې بنسټ دی کله چې د طبيعي منابعو اقتصاد پوه د طبيعي منبع په هکله څېړنه کوي بايد خپل کار له مشاهدې څخه پيل کړي لکه چې پوهېږو د طبيعي منابعو څېړنه تطبيقي اړخ لري يعنې يو Applied Research وي، نو دلته نږدې کتنه او Survey اساسي شرط دی. کله چې د طبيعي منابعو وسايط بشپړ شول د طبيعي منابعو اقتصاد پوه اساسي وظايف هم بايد په ګوته شي. په دې هکله د اقتصاد پوه بنسټيزې دندې دادي :

**۱- څېړنه Research:** د طبيعي منابعو اقتصاد پوه د توليد لاملونه يا عوامل ( ځمکه ، کار ، پانګه او منجمنټ) تشخيصوي، احصائيوي محاسبې اجرا کوي او بيا دغو ټولو ته له تخنيکي اړخونو سره ارتباط ورکوي يعنې د طبيعي منبع په ارتباط ژوره او عالمانه څېړنه سرته رسوي تر هغو چې د في واحد مولديت اوچت شي.

**۲- اداره منجمنټ او تصميم نيول:** د طبيعي منابعو اقتصاد پوه وظيفه لري چې له طبيعي منابعو څخه د استفادې ، دهغو د ساتنې او پر له پسې ځارنې لارې ، چارې وارزوي او وړ سپارښتنې وکړي دبېلګې په توګه آيا دغه طبيعي منبع بايد د عامه سکتور په واسطه اداره شي او که دخصوصي سکتور په واسطه؟ آيا د يوې ټاکلې منبع د اندازې ، وخت او نورو وسايلو په هکله بايد څه تصميم ونيسي او داسې نور .

**۳- د سياست او پاليسيو تطبيق:** د طبيعي منابعو د اقتصاد پوه وروستۍ دنده د منابعو په ارتباط د پاليسيو او سياستونو سالم او معقول تطبيق دی. ښکاره خبره ده چې د اقتصادي پلانونو او پاليسيو لپاره دولتونه او يا هم مربوطه ادارې او ارګانونه ټاکلې پاليسي لري. آن زياتره وخت دولتونه يا د پلان ټاکلو اړوندې ادارې ( د پلان وزارت يا د پلان جوړولو دولتي کميټه ) د ملي اقتصاد د ودې لپاره د طبيعي منابعو په اړه مېرميتونه ټاکي او موخې ښکاره کوي. ځينې وخت دولتي پاليسي هسې حکم کوي چې ممکن يوازې د هغوی له خوا په مجموع کې وړ بلل شوي وي،نو دلته ضرور ده د طبيعي منابعو اقتصاد پوه په تطبيقي ډګر کې په دې پوه وي چې آيا بايد د يوې مشخصې منبع څخه په څه طرز استفاده وشي؟ په څه طرز تصميم ورته ونيسي؟ د طرح شوې پاليسۍ هر توکی څرنګه تطبيق کړي؟ منبع بايد د کوم هدف لپاره تخصيص شي. او داسې

نور يعنې نوموړی په دې برخه کې دنده لري چې د ګټې اخيستنې او ساتنې لارې چارې واندوي وروسته ځانګړې او تولېزې موخې او دهغو په هکله د پاليسيو تطبيق وشي ، ډېر ځله وړ بريښي چې په پر مختيا يي هېوادو کې طبيعي منابع دعامه سکتور له خوا اداره شي بهتره به وي .

## د طبيعي سرچينو ځانګړتياوې:

د دې لپاره چې د طبيعي سرچينو د ځانګړتياوو په هکله څرګندونې تر لاسه کړو بايد دهغوی بېلابېل ډولونه دهغو د خصوصياتو له مخې وپېژنو. دغه تقسيم بندي هېڅ کله د منابعو کارونې ، دهغو د استفادې د طرز او نورو له لحاظه نه دي بلکې د هغو د ترکيب او دوام له پلوه دي کېدای شي په دې تقسيم بندۍ کې د هر استعمال منبع شامله وي. دلته به د منابعو له ويش څخه مخکې دهغو تقسيم بندي دخصوصياتو له مخې ذکر شي:

١- زېرمه کېدونکې سرچينې Land Resourses or Stock

٢- تيرېدونکې (بهيدونکې ) Flow Resources

٣- ترکيبي (ګډ خصلت لرونکې ) Composite group

## ١) زېرمه کېدونکې شتمني Stock:

داهغه منابع دي ، چې د ذخيره کېدو وړتيا لري او يوازې د کارولو او ګټې اخيستلو له امله استهلاک کېږي پرته له هغه په مودو مودو د زيرمو په توګه موجودې وي لکه کاني توکي ، چونه او د ډبرو د سکرو کان او داسې نور چې دغه منابع بيا په خپل وار په دوو نورو برخو ويشل کېږي:

**الف:** هغه منابع چې د يو ځل استعمال په اثر استهلا کېږي او دهغو کيمياوي ( دايمي) بدلونونو له کبله چې د استعمال له امله په هغو کې

پښتنې د دويم ځل لپاره دکار اخيستنې له وړتيا څخه وځي لکه نفتي مواد ، د ډبرو سکاره او نور.

ب- هغه منابع چې سم له استعمال سره وار له واره نه استهلاک کېږي بلکې په تدريج سره استهلاک کېږي يعنې د زياتې مودې لپاره کار ورکوي ، ځينې وخت وروسته تر لنډ بدلون دغه شتمنې د بيا ګټې اخيستلو وړ هم وي لکه وسپنې چې د پرزو ، لوښيو يا نورو سايلو په استهلا کېدو سره د بيا ويلې کېدو او قالب کيدلو استعداد لري.

## ۲) بهنۍ سرچينې (جرياني منابع):

هغه منابع دي چې د هغو جريان دوامداره وي يعنې که دا منابع استعمال شي يا نه شي ، له هغو څخه استفاده وشي يا ونه شي هرو مرو له لاسه وتونکې دي لکه سيندونه ، د لمر وړانګې ، باران د ځرځاى پوره بېلګه رسيدلي نباتات چې زياتره دهمدغې ځانګړتيا لرونکې منابع کرنيز استعمال لري.

## ۳) ترکيبي منابع:

هغه منابع دي چې هم جرياني خواص لري او هم ذخيروي . يعنې دهغو له جملې څخه ځينې په عين وخت کې هم جرياني دي او هم بيا د ذخيره کېدو وړ وي او ځينې يې بيا په يوه ټاکلي وخت کې جرياني خاصيت لري مګر يو بل وخت کې بيا ذخيروي خاصيت پيدا کولاى شي . منابع د خپل دغه خصوصيت له مخې په دريو ګروپونو ويشل کېداى شي:

۱- بيولوژيکي منابع : Biological Res ources

۲- دخاورې منابع Soil Resources

۳- د انسان په لاس جوړې شوى منابع: Man made improvement Res ources.

**دلته به په‌لنډه توګه له هر یو څخه یو یو مثال ذکر کړو:**

پورته یاد شوي ګروپونه ځینې هغه منابع را اخلي چې ژوندي وي لکه نباتات، ځنګلونه طبیعي اومصنوعي ( د انسان په‌لاس جوړ شوی ځنګلونه، د اوبو بندونه چې په‌دې کې بیا بیولوژیکي منابع لکه‌کبان روزل کیږي)څرځایونه ( طبیعي او دانسان په‌لاس جوړ شوی ) ، ماهیان او داسې نور. په‌دغو ټولو کې ځینې خصوصیات جریاني دی، په‌دې مانا چې دوخت اومودې په تېرېدو سره دهغو یو شمېر د بدلېدو وړ دی لکه ځنګل په‌هر ډول ځنګل ،ځنګل دی په‌دې‌کې دوخت په‌تېریدو سره زیات شمېر بوټې او ونې داستفادې‌لپاره پرې کیږي مګر په مجموع کې له آره ځنګل د ځنګل په‌توګه‌شته. یا د یو شمېر ونو او بوټو د تخمونو په‌ساتلو سره کېدای‌شي د راتلونکیو نسلونو لپاره وساتل ( ذخیره ) شي چې همدغه ډول منابع په‌ټاکلي وخت کې د ذخیروي منابعو په توګه حسابیدای‌شي. هغه فکتورونو او محدودیتونه‌چې په پورتنیو ځانګړنو اغېز لري بېلابېل دی همدارنګه د مختلفو ساحو منابع د خپلو ځانګړنو او ظرفیت‌له‌مخې یو له بل سره توپیر لري دغه توپیرونه له لاندنیو لاملونو څخه سرچینه اخلي:

۱) دلمر رڼا او تودوخې درجه

۲) رطوبت‌او د اوبو په‌ذخایرو لاسبری

۳) توپوګرافي او زیم ایستنه

٤) دخاورې‌شرایط ، دځانګیز پوړ طبقه‌بندي‌او دکاني موادو شتون

۵) د بازار او ټرانسپورټ د آسانتیاوو موقعیت.

کله ددغو لاملونو شتون ، دمنبع مولدیت ، دوام او ظرفیت وچتوي پرته له‌هغو څخه‌چې د منبع د مولدیت پر خاصیت ناوړه اغېز پریباسي.

PROPERTY OF ACKU 9140

# دویم څپرکی

## د چاپیریال د شتمنیو او زېرمو وېش

د پنځیزو سرچینو وتپوهانو د چاپیریال شتمني او زېرمې په بېلابېلو برخو وېشلي. دغه وېشنه د کان پېژندونکو له لید لوري، د کرنې د ماهر له لیدلوري، د پلان جوړونکې له لید لوري او د نورو له پلوه توپیر مومي. ددغې وېشنې پېژندنه د هغو د پلانولو او کارولو په برخه کې ډېره مرسته کولای شي. ځینو دغه شتمنۍ په ملي اقتصاد کې د هغو د کارونې له مخې په انرژیکي، کاني، لرگیو، ځمکې، اوبو او اقلیمي سرچینو ویشلي، بیا یې د ځمکې او اوبو بیولوژیکي منابع په بیله ډله کې شمیرلي. په دغه ویشنه کې د هغو کارونه د خامو توکیو په توگه په پام کې نیول شوې ده. ځینو پوهانو د صنایعو، کانونو او د کرنیزې کارونې له مخې په لاندې برخو ویشلي:

- انرژیکي منابع: energy resources
- لرگي، کانونه او د خامو موادو منابع: mineral and raw material
- اگرو بیولوژیکي منابع: Agrobiological Resources

د طبیعي منابعو پورتنۍ ویشنه ډېره جامع او کلي ده، نو ځکه هغه په څو نورو برخو هم ویشل شوې: د بېلگې په توگه انرژیکي منابع په بلیدونکو Fuel او نه بلیدونکو non-fuel یا غیر محروقاتي، بیرته نوی

کیدونکیو او نه نوی کیدونکیو ، لومړنیو (Primary) او دویمو (Secondary) برخو ویشل شوی. بلیدونکې منابع لرگي ، سکاره ، تیل ، د سون گاز ، د ډبرو سکارو او یو شمیر نورې دی. نه بلیدونکې منابع له اوبو څخه را منځ ته کیدونکې برېښنا ، اتومي انرژي ، د باد قوه Wind powe لمر Solar energy او داوبو د څپو ( مدو جذر tidal energy) انرژي گانې را اخلي.

نوی کیدونکې منابع Rcproducible resources (یا قابل تجدد) لکه د سمندرونو ټول منابع ، باد ، د لمر وړانگې ، څپې tide او لرگی دی. نه نوی کیدونکې منابع Non- reprodu cible resources (غیر قابل تجدد) هغه منابع دي چې له یو ځل کارولو سره له منځه ځي لکه د سون گاز ، سکاره ، تیل او نور .

بلیدونکې او نه بلیدونکې منابع په دوو دوو نورو برخو ویشل کیږي : که خپله د سون گاز لومړنی انرژي وبولو ، نو دهغه له سوځیدو څخه را منځ ته شوي تودوخه دویمه انرژی Secondary energy بلل کیدای شي یا د سرولو په وخت کې د تودو اوبو د انرژی خوشې کیدل دویمه انرژی ده. دخامو موادو منابع هغه دی چې د پروسس تر پړاوونو وروسته په ځینو صنعتي توکیو بدلیږي لکه د ربړ جوړولو لپاره د ربړدونې ځوبنا یا د بورې ، گوړې او عوریو د جوړولو لپاره جغندر ، گني ، شړشم ، لمر گلی او نور داویشنې د کانونو او صنایعو د سکتور ونو له پلوه وي ، خو بیولوژیکي منابع بیا د کرنې د سکتور منابع دی لکه ځنگلونه ، بوټي او ژوي .

ځینو پوهانو د چاپیریال شتمني دهغو د پیدا کیدو د ځایونو له مخې داسې ویشلې :

- ترځمکې لاندې منابع ( لکه کانونه ، کاني تودې اوبه ، گاز او نور )

-ترځمکې باندې منابع ( لکه خاوره Soil ، بوټي Plant ونې trees ژوي Animal او نور )

- له ځمکې څخه پاس منابع ( لکه لمر وړانګې ، باد ، دهوا مایکرو ژوندي ژوي اونور )

**ځینو پوهانو پهلنډه توګه ټولې سرچینې په دریو برخو وېشلې :**

١ - نهنوې کیدونکې منابع non- reproducible resources

٢ -له نوې کیدوُنکې منابع Reprpducible resources

٣ - نهتمامیدونکې منابع Inexhaustible

د منابعو دغه ډولونه او وېشنه هم دځمکې د ټول غـونډاري پر مخ او هم په کوچنیو جغرافیاوي پولو او سیمو کې ( لکه هېوادونـو ، ښارونو ، کلیو ، وچو ) او آن اتموسفیر کې دي. خو تر ټولو بشپړه ، کره او منل شوي ویشنه داده :

## ١ - نهنوی کیدونکې سرچینې :

دا هغه سرچینې دي چې تل تر تله په ټاکلې پیمانه شته او په هغوکې د نوې کول او زیږون ناشونی دی اونه هم وده ، لوییدل او پراختیا لري لکه ځمکه Land resources او کـانونه mineral دا ټول ثـابت دي. د بېلګې په توګه که چیرې د ډبرو دسکرو یو کان چې ټول ظرفیت یې ١٠٠٠ مکعب متره دی را وایستل شي ، بیا نو په همدغه کان کې دسکرو ایستنه ناشونې خبره ده نو ځکه دا نهنوي کیدونکې سرچینه ده ، خو دځمکې پهاړه ویلای شو سره له دې چې د بېلګې په توګه کرنیزه ځمکه هم ثابته ده ، خو په ځینو لارو چارو سره کېدای شي دهغې په حاصل کې زیاتوالی راوستل شي. خو دا دځمکې د بیا نوی کېدو مانا نهلري او نههم هغه ځمکه چې د

اوسیدلو لپاره غوره شوې دهغې ( دځای مفهوم Space ) نوی کیدای شي، نوپه کرنه کې ځمکه ذاتاً ثابته ده خو د هغې د هرواحد حاصل په پرتلیزه توگه بدلون موندلای شي. کانونه په خپل وار په بېلابېلو برخو ویشل کیږي:

- فوسیلي دسون توکي (Fossil fuel) دا تر ځمکنیو پوړونو لاندې دعضوي موادو او د ډېرو پخوانیو ژوندیو ژویو ، بوټو ، ونو ځانگړی کیمیاوي بدلون دی چې بیا وروسته تر کاني پلټنو او ایستلو دسون لپاره پکاریږي.

-وسپنیزې ډبرې ( Metalic ores ) دا دځمکې مخ ته لیږرا نږدې او یوځه برسیرن یا په لږه ژورتیا کې د تیږو په بېلابېلو ډولونو پورې اړه لري. چې دا ځینې وسپنیز عناصر او دهغو مرکبات دی لکه اوسپنه ، منگنیز ، کرومین ، مس ، سرپ ، جست ، المونیم ، بسموت ، ارسنیک ، سیماب ، سره زر ، سپین زر اونور .

- غیر فلزي ډبرې non- metalic ores : دا سلفر (گوگړو) ، باریت ، فلوریات ، سلسین ، گرافیت ، ابرک ، فاسفوریت ، مالگی ، د سرمینځلو ژیړې خاورې ، بوري اونور داسې کاني توکي را اخلي . په دې کې قیمتي ډبرې لکه زمرد ، لال ، یاقوت او لاجورد هم راځي.

۲) بیانوی کیدونکي طبیعي منابع Reproducible resources

دغه ډول سرچینې دنه نوی کیدونکو سرچینو په شان د شومره والي له پلوه ثابتې او په یوه اندازه نه دي بلکې د بیا ځلي ژوندې کیدو وړتیا لري یوشمېر یې له یونسل ځخه بل نسل تکثیر کوي، یعنې دهغو د شمېر او کمیت زیاتوالی د چاپیریال مساعدو شرایطو او دانسان په واسطه د هغو په زیاتوالي پورې اړه لري . ددغو منابعو په زیاتولو او کمولو کې دانسان

مداخله ، اقلیم ، پیښې او حوادث رول لري. دا ډول منابع هم په بېلابېلو برخو وېشل کېدای شي:

**الف- لرګي: Timber** پــــه اقتصاد کې دې منبع ته با ا همیت، Significance اقتصادي طبیعي منبع ویل شوی چې عمدتاً تعمیراتو ، د سون لپاره او پاتې یې (خصوصاً د افغانستان په شان په پرمختیایي هېوادو کې) د کار داسبابو (زغ ، سپارې او نورو) لپاره په کارېږي او د صنعتي استعمال زیات موارد هم لري.

**ب- کبان: Fish**: دا د اوبو ژوي دی ، بېلابېل ډولونه لري د خوړلو لپاره استفاده ورڅخه کېږي.

**ج-** دځمکې پرمخ د سبو ، بوټو او ژویو منابع هم د تحدد وړ طبیعي منابعو کې راځي.

**د-** سمندرونه پرته له کبانو نور شمېر بیولوژیکي منابع هم لري لکه اسنفنجونه ، بحري ستوري، صدف او نور .

## ۳- نه تمامیدونکي (Inexhaustible) منابع:

دا هغه منابع دی چې زموږ په چاپیریال کې تل ترتله شته ، ددغو منابعو پریماني او تل والی هېڅکله ددې لامل نه دې شوی چې د بشریت اړیکي ورسره پرې شي یا دهغو اهمیت کم کړي دا په بېلابېلو برخو ویشلای شو:

**الف:** داوبو منابع : Water resources

**ب:** د لمر انرژي Solar energy

**ج:** د اوبو د غاړو څپې یا د مدو جزرونو انرژي Tidal energy

(له دغې منبع څخه مثبته استفاده په معاصر وخت کې زیات رواج موندلې اما بدوی انسان مهلک او وژونکی آفت بللی و )

دغه وروستی وېشنه د بره منل شوې ده، چې کیدای شي هغه په لاندې توګه وښيو:



# دریم څپرکی

## ځمکه (Land)

ځمکه د نه‌نوی کېدونکو منابعو له ډلې څخه ده چې د کرنې په سکتور کې د تولید مهم عامل بلل کېږي. ځرنګه‌چې دځمکې عرضه ثابته ده او دنړۍ نفوس د زیاتیدو په‌حال کې دی، نو دا ډېره ضروري ګڼل کېږي چې د ځمکې له ثابتې عرضې څخه او همدارنګه‌له‌هغو نورو طبیعي منابعو څخه چې په‌ځمکه یا دځمکې پر مخ شته په اغېزمن‌ډول سره ګټه‌واخیستل شي‌او ځمکه بې ګټې پاتې نه‌شي د ځمکې له‌اقتصاد، د ځمکې له مفهومونو او دهغې له‌ډول ډول استعمالولو سره آشنا کېدل ضرور دی:

### د ځمکې اقتصاد Land Econonic

په‌معاصره نړۍ کې دځمکې د اقتصادي اهمیت په‌هکله ډېرې خبرې کېږي: ځمکه دانسانانو لپاره دهغوی ډېر ضروري احتیاجات لکه‌خام مواد، غذايي محصولات، نسج یا فایبرد، دعامه خدمتونو ځایونه او نور برابروي. تاریخ زبات کړې چې انسانانو له ډېرو پخوا زمانو را هیسې ځمکې ته دقدر په سترګه کتلي چې لاملي يې دځمکې په‌منبع پورې د دوی د ژوند بشپړه اړوند تیا او تړلتیا ده. مثلاً د مدیترانې پخوانیو خلکو او یونانیانو ځمکه لمانځله. دځمکو د لرلو غریزې تل‌وجود درلود او په

زرگونو خلکو له اروپا څخه د امریکې د حاصلخیزو ځمکو د ترلاسه کولو لپاره ځانونه ورسول. دامریکا په متحده ایالاتو کې دحکومت ډېر عاید د ځمکو له مالیاتو څخه دی حکومت فعال تحقیقي او تربیوي پروگرامونه دځمکو د ستونزو په هکله پرمخ بیايي او د متحده ایالاتو ٪۳۸ دځمکو ساحه دحکومت له خوا د اقتصادي گټې اخیستنې په منظور اداره کېږي چې متحده ایالاتو دټول ثروت ۲/۳ برخه په ځمکه او د ځمکو په اصلاحاتو لگېږي د ملکیت او کرایو د خصوصي عواید ۱/٤ برخه ځمکې جوړوي. دځمکې لپاره چې انسانانو د تاریخ په اوږدو کې مبارزه کړې له هغې سره یې ټل اړیکي ساتلي او دځمکې لرلو حقوقو ټل داقتصادي ، اجتماعي ، اوسیاسي عامل په توگه دانسانانو دریځ ټاکلی. اوس لویه ستونزه دا ده چې له ځمکې څخه په څه ډول ښه او په لویه کچه گټه واخیستل شي چې وگړو ته له خوړلو څخه پرته درفاهیت او آسودگی زمینه برابره شي چې داقتصادي کړنو وروستی موخه ده.

**دځمکې اقتصادي مفهوم** Economic Concept of Land

د ځمکې ویې یا گړنه بېلابېلو خلکو ته د هر چا له اند دود سره سم نظر او مانا ورکوي چې دا د هغوی په اند واکرا و مینې پورې اړه لري. دځمکې په ډېر پراخه منل شوې کارونه کې دغه اصطلاح دځمکې د مخ له یوې جامدې برخې څخه استازیتوب کوي، مگر ځینې وخت په یو ملت ، خلکو او دځمکې د مخ پر سیاسي ویش باندې هم دلالت کوي. زیاتره وخت دځمکې مخ ( ground ) ، خاوره (Soil) تېوله کره (earth) هم زموږ په کولتور کې ځمکه بلل شوې . دځمکې په هکله داسې فکر کېږي چې دوی وړباندې گرځیدلی شي، کور وړباندې جوړولای شي، باغ ، کرونده څړځای او نور پرې کرلای شي. د ځمکې دغه قبول شوی رواجي مفاهیم باید دهغې

له تخنيکي تعريفونو څخه چې اقتصادي ، حقوقي او قانوني مانا وې احتوا کوي تعريف شي چې له هغه سره توپير دادی:

**ځمکه دکار ، پانګې او منجمنټ ترڅنګ د تولید یو لامل دی، دا یوه نالېږنده شتمني ده چې دهغې په پراخه ساحه کې چې په هغې د مالکیت حقونه موجودوي د وګړي یا قانوني حقوقي شخصیت ملکیت ګڼل کېدای شي.**

پورتنې تعريف څه نا څه هغه منل شوی تعريف دی چې اقتصادي ، حقوقي او قانوني درې واړه جنبي لري خو د ځمکې ټول پراخوالی نه شي څېړلی نو ځکه یو بل تعريف هم ورته شته :

ځمکه د ټولو طبیعي Natural او دانسان په لاس جوړ شویو منابعو Man maderes ources مجموعه ده چې پر هغو دځمکې سطحه کنترول ولري.

په دغه دويم تعريف کې دځمکې ټول پراخوالی ( بعدونه ) لکه اوبه ، کنګل ، وچه برخه ، تعميرونه ، کروندې ، وده کوونکی ځنګلونه ، کان ، د لمر رڼا ، باران ، باد ، ګرمي او ټول پکې راغلي دغه ټول په یوه بنه نه په یوه بنه له ځمکې سره تړل او په آسانۍ ترې جدا کېدای شي چې هر یوې دځمکې اقتصادي ارزښت لوړولای یا ټيټولای شي . نو کله چې موږ یوازې له منل شويو دوديزو تعريفونو څخه علمي تعريف غوره کړ نو مجبوریو د ځمکې دوديزو مفاهيم هم پرېږدو او پرځای يې علمي مفاهيم چې پراخه او هر اړخيز دی وپېژنو چې هغه په لاندې توګه دي:

**۱- ځای (Space) :** دلته ځمکه د ځای په مفهوم د یو کوریا یوې ساحې په توګه مطرح ده چې انسان وربانديې ژوند کوي. له دغه مانا سره ځمکه په ثابته اندازه موجوده ده او د تخریب وړ نه ده. ځمکه د ځای په مانا

يوازې کورونه، سمندرونه، غرونه او دښتې نه نوموي بلکې دلته ځمکه درې اړخيز جايداد دی چې د يو مکعب شکل يا موقعيت لري يعنې هغه ځای هم په برکې نيسي چې د ځمکې تر سطحې لاندې دي چې هلته کانونه پيدا کيږي.

**۲- طبیعت (Nature)**: ځمکه د انسان له ارادې بهر د بېلابېلو عوامل ځخه اغيز منونکې ده، دلمر رڼايي بارانونه، باد، ترميمونکې اقليمي شرايط، تبخيرات په هغې په سيده توګه اغيزه لري. طبيعتاً ځمکه د ګټورو او ناګټورو خاورو، ځنګلونو، څرځايونو او نورو منابعو لرونکې ده.

**۳- د توليد عامل afactor of production**: اقتصاد پوهان له درې نورو توليدي عواملو (کار، پانګې او منجمنت) سره يو ځای هغې ته د توليد د عامل په توګه ګوري.

**٤- استهلاکي توکی یا (جنس) aconsumption good**: ځينې وخت ځمکې د دې لپاره استعماليږي چې د انسانانو لپاره محصولات توليد وي مګر ځينې وخت د استهلاکي توکي په توګه ارزښت پيدا کوي لکه تعميرات، د پارکينګ ساحه، د هغې انرژيکي منابع او کانونه او نور، ځينې وخت د هغې داومو موادو له مخې استهلاکي بلل کيږي او بل دا چې د خرڅلاو وړ ده.

**۵- موقعیت (Situation)**: په ننني پېر کې ځمکه د موقعيت په توګه زيات اهميت لري په دې مانا ځمکه د بازار موقعيت، جغرافيايي ځانګړنو او د هېوادونو د پولو له پلوه د نظر وړ وي. د غه مانا د ځمکې د کارونې او ارزښ له پلوه مهمه نه ده بلکې په عصري دنيا کې د ځمکې موقعيت له سياسي پلوه لا ډېر مهم دی.

**٦- جایداد (Property) :** دملکیت په توګه د ځمکې مانا او مفهوم قانوني جنبه لري ، دغه مفهوم له هغې سطحې سره سروکار لري، چې په (جایداد) کې وګڼل یا مستقل قدرتونه او نور حقوقي وګړي هستوګنه لري یا یې د تولید لپاره غوره کړي . په دې برخه کې ځمکه دخپل حقوقي ماهیت له مخې خپل مالک ته مسئولیتونه هم ور پیښوي . په دغه مفهوم کې دځمکې اهمیت تر ټولو زیات دی ځکه د انسانانو په کړنو ژوره اغېزه لري.

**٧- سرمایه ، ( پانګه) (Capital) :** دکلاسیکو اقتصاد پوهانو پرانده پانګه دانسان په لاس جوړه شوی وي. د تېرو سپماوو او ذخیره شوي تولید څخه استازیتوب کوي او د لګښت (مصرف) وړ وي. هغه وخت کلاسیک اقتصاد پوهان د ځمکې سرمایوي ځانګړتیا ته نه و متوجه ، خو په معاصر ژوند کې په تیر بیا د نفوسو په زیاتیدو او د ښارونو په ډېرېدو او ګڼ میشته کېدو او په هغو کې د ښاري پر ډېرګټو تشبثونو په رامنځ ته کېدو سره دځمکې ډېر خاصیتونه له پانګې سره ورته شول مثلاً دهغې آبادول د سپما په مانا او دهغې موجوده منابع دزېرمې په مانا تعبیر شول. د پیرودنې وړ ده او د پانګې په شان کرایه Rent تولیدولای شي. یعنې په اوسمهالي ژوند کې د پانګې مانا او دځمکو بېلابېلو مفاهیمو چې پخوا ورڅخه یادونه وشوه یو بل سره ګډیدلی شي . په کرنیز اقتصاد او دطبیعي منابعو په اقتصاد کې ځمکه له دې پرته چې د تولید عامل دی په صنعتي ، تجارتي او میشتیزو ځایونو کې دځمکې ارزښت له سرمایې سره نژدې اړیکي او ورته والی لري. نو دکلاسیکو اقتصادپوهانو په شان نه شو ویلای چې ځمکه د طبیعت مفته او رایګانه تحفه ده حال دا چې سرمایه د انسان د کار او زیار نتیجه . دځمکې او سرمایې تفاوت په پراخه ، مانا دسره توپیرولو

وړ دی، خو په تطبیقي ساحه کې یو له بل سره ګډېږي لکه یوه ګټوره ځمکه چې په هغې کې د انسان کار او زحمت مصرف شوی وي یعنی قلبه، خړوب، دواپاشي او د تخمونو شیندل پکې سرته رسېدلي وي مطلقاً د سرمايې حیثیت پیدا کوي. خو یوه شاړه ځمکه چې انسان په کې کار نه دې کړې هېڅکله سرمایه نه شمېرل کېږي. نو پایله اخیستل کېږي چې ځمکه د هغې له نورو مفاهیمو سره سرمایه هم ده حال دا چې ځای او طبیعت د ځمکې ځینې ځانګړنې دی چې د هغې د سرمايې په مانا باید د ناسم جاج اغیز ونه کړي. ځمکه شاید په ځینو حالاتو کې ( د کلاسیکانو له نظر سره سم ) مفته او ارزانه او پریمانه وي همدارنګه ممکن په طبیعت کې په دایمي توګه موجوده وي خو په اقتصادي چوکاټ کې د یوه سرمایه ګذار له نظره باید واخیستل شي، ځینې وخت وپلورل شي، ممکن په کرایه ورکړل شي ممکن په اجاره ورکړل شي. دغه کرایه ټوله په خپله یوه سرمایه ده. که چیرې د اقتصادي چوکاټ له مطالعې تیر شو هره ټولنه په خپل نظر ممکن بل ډول معامله وکړي. دا هم باید وویل شي چې آیا ځمکه او سرمایه په هر بېلابېل اقتصادي سکتور کې څه فرق لري د انو نظر سکتورونو ته فرق کوي. خو وروستۍ پایله داده. چې ځمکه د سرمايې له ځانګړنو سره ورته والی لري.

## د ځمکې د اقتصاد پولې او منځپانګې :

دلته په دې باندې غور کېږي چې آیا د عمومي اقتصاد په چوکاټ کې او په ځانګړي ډول د ځمکې اقتصاد د کومو پولو لرونکی دی یا په بله وینا دهغه دبحث منځپانګه څه ده ؟ مثلاً عرضه او تقاضا ، تولید ، د مولدیت دسطحې اوچتول او داسې نور مفاهیم عام اقتصادي مفاهیم دی، چې د نړیوال اقتصاد له نظره ، دهر هېواد د ملي اقتصاد له نظره او بیا په هر سکتور کې دهغو حدود ، او محتوا فرق کوي. موږ دلته یوازې د طبیعي منابعو داقتصاد په نظره دځمکې داقتصاد حدود او محتوا مطالعه کوو:

**دځمکې داقتصاد حدود دځمکې د سطحې په هکله او دانسانانو په واسطه د هغې د اقتصادي کارونې او په هغې باندې اقتصادي ، بیولوژیکي ، فزیکي او موسساتي اغېزمن فکتوررونه څېړي .**

د Leonard A. Salter له څېړنې سره سم د ځمکې اقتصاد لکه د طبیعي منابعو د اقتصاد په شان ،یوه ټولنیزه پوهه ده چې له هغو ستونزو سره سروکار لري چې دځمکې دسطحې په هکله ټولنیزې ځانګړنې دودونه، ددغې سطحې اندازه ، جوړښت ،اقتصادي ارزښت او مولدیت ، موقعیت ، جایداد او نور دهغو تر اغېز لاندې دی، په پای کې د ځمکې اقتصاد هم لکه دعمومي اقتصاد په شان دمحدودې منبع ( په خپله د ځمکې سطح ) له ویش او ځانګړتیا سره سروکار لري.

د ځمکې داقتصاد ټولې پولې او منځپانګې په دوو ډولو ځمکنیو پېرونو پورې تړلې :

**الف:** دښاري ځمکو حدود او محتویات

**ب:** دکلیوالي ځمکو حدود او محتویات

دښاري ځمکو پرابلمونه چې دځمکې اقتصاد بحث پرې کوي :کور جوړول ، د ښاري ځمکو پراختیا ، د صنعتي او تجارتي موقعیتونو ټاکل او داسې نور دی. د کلیوالي ځمکو پرابلمونه د ځمکې دکرنې لپاره له اوبو څخه ګټه اخیستنه ، په نویو ځمکو کې چې کرنی ته برابرې شوی میشته کېدل او دهغوی پراختیا دځمکې تخنیکي رغونه (زیم ایستنه ، دخاورې اصلاح او نور ) ، د ځمکې داستعمال پلان د هرکال او هر فصل لپاره ، دځمکې د استعمال کنترول او داسې نور شامل دی. دځمکې د اقتصاد د حدودو او محتویاتو په هکله د لازیاتې څرګندونې لپاره باید له ځمکې څخه د ګټې اخیستنې ډولونه له نظره تیر شي:

## د ځمکې داستعمال اساسي او بنستیز ډولونه :

**۱)** داوسیدو ( مسکوني ) ځمکې (Residential Land)

**۲)** تجارتي او صنعتي ځایونه (Commercial and industrial sites)

دغه دوه ډوله استعمال دښاري سیمو ډېره برخه جوړوي مګر په مجموع کې دځمکې ډېره کوچنې سطحه احتوا کوي. دا دوه ډله کره نیزه کارونه نه ده. د ځمکې دارنګه استعمال په عصري دنیا کې زیات اهمیت لري ځکه چې دغه ځمکې له هغو ځایونو څخه استازیتوب کوي چې هلته ډېر خلک کار او ژوند کوي ، او په پای کې کرنیز محصولات هم همدې ځایونو ته یا د مصرف یا په پخو موادو داړولو د پروسې لپاره راوړل کېږي

غو ځایونو فعالیت ډېر موثر او رنګارنګ دی په دې مانا چې دغه ځمکې په بشپړه توګه له تشدیدي استعمال سره مخامخ دی او د لوړ ارزښت لرونکي دی.

**۳)** نباتي ځمکې ( Cropland)

**٤)** د څرځای ځمکې (Pos ture and grazing land)

**٥)** دځنګل ځمکه (Forest land)

دغه درې ډوله ځمکې چې کرنیز استعمال لري، هغه ډېره زیاته ساحه ده چې اقتصادي ارزښت لري دغه درې ګروپونه تر ډېره د خوړلو محصولات او دصنعت لپاره خام مواد لکه فایبرونه، ربړ، د طبي صنعت لپاره طبیعي بوټي او نور تولیدوي.

**٦)** کاني ځمکې (Minral land)

دا هغه ځمکې دي چې په هغو کې د ډبرو سکاره، اوسپنې، د تیلو څاګانې او نور هغه کانونه لري چې تر ځمکې لاندې وي.

**۷)** تفریحي ځمکې (recreation land)

دغه ډول استعمال د پارکونو، سواحل، دلوبو او ورزش میدانونه، ازاد چاپیریال، لامبو ډنډونه او نور پراخ ځایونه را اخلي.

**۸)** د ټرانسپورټېشن ځمکې (Transportation land)

په دې استعمال کې هوايي ډګرونه، دریل سټېشنونه، بندرونه، سړکونه اوحتی کوڅې شاملې دی.

**۹)** خدماتي ځمکې (Service areas)

سره ددې چې کېدای شي ځینې وخت د ځمکې دغه استعمال د پورتنیو استعمالونو سره ګډ شي خو بیا هم دهغوی ځانګړې بڼه، پوځي میشت ځایونه، هدیرې، جیلخانې، ، د برېښنا بندونه داوبو زیرمتونونه او داسې

نور را اخلي . په پورتنیو ویشونو کې د ځمکې سطح (وچه) په نظر کې نیول شوې ده ځکه د ډېرې چلولو او کب نیولو په اړه وکتل شي بیا نو نورې ویشنې ته اړتیا لري.

**۱۰) شړې او خاره ځمکې (Barrenand waste):**

هغه ځمکې دي چې لامزروع وي او کرنه پکې نه شي کېدای او یا د کرلو وړ نه وي (لومړی انځور د دغو ټولو استعمالونو اقتصادي گراف ښکاره کوي)




**له ځمکې څخه د کار اخیستنې ظرفیت** (Land use Capacity)

دا د ځمکې د منبع د یو ټاکلي یوون (واحد) پر تلیز ځواک او جوک ښیي چې د هغې په گټې اخیستنې او لگښتونو سربېره، د گټو مازاد رضایتونه تولید کړي. دا د ځمکو د ټاکلیو ټوټو پر گټورتیا او مولدیت باندې دلالت کوي. کله چې یو ټاکلې ټوټه ځمکه په یوه ټاکلی وخت کې (مثلاً یوه موټی فصل کې) د ټکنالوژۍ او تولیدي عواملو په کارولو سره د یوه ځانگړي استعمال لپاره (مثلاً د سبو تولید، د غله جاتو یا د باغ احداث)

تراستفادي لاندي ونيول شي. کوم مازاده گټه (رضايت) ياد حاصل ثومره والى چې په لاس راځي دهغې د ظرفيت ښودنه کوي. کېداى شي ديوې سيمې عين اندازه ځمکه په عين ټکنالوژۍ او توليدي ګټو سره نظر د بلې سيمې ځمکې ته په عين ټکنالوژۍ او توليدي عواملو لوړ ظرفيت ولري چې دا ممکن د خاورې د جوړښت د ښه والي د اقليم د مساعد والي يانورو له کبله وي، دلته ويل کېداى شي چې دلومړۍ سيمې د ځمکې توليدي ظرفيت نظر دويمې ته ښه دى، همدا ښه والى د ظرفيت لپاره يو شاخص Index تهيه کوي چې وروسته دغه شاخصونه د بېلابېلو ځمکو د خاصيتونو د مقايسې لپاره په کارېداى شي.

که چيرې موږ C,B,A درې ټوټې ځمکې ولرو او د عين مقصد لپاره استعمال شي A ساحه پر عين ټکنالوژۍ او توليدي عواملو باندې ټاکلې موده کې 5000 AFg، B ساحه 10000AFg او C ساحه 15000 AFg نګر ګټه توليد کړي نو ښکاره خبره ده: C ساحه د اقتصادي استعمال لوړ ظرفيت لري، خو هيره دې نه وي چې داستعمال په ظرفيت دوه توکي مهم رول لري:

**الف)** په منبع لاسبرى: دځمکې په موقعيت او د هغې په منبع د استعمال په خاطر د لازمو معلوماتو او په فزيکي توګه په هغو لاس برې يا د ګټې اخيستو توان او امکان ښکاره کوي. پر لاسبري سربېره له مارکيټ څخه لرې والى اونږدې والى او ټرانسپورټي اسانتياوې هم دغه امکان قوي کوي.

**ب)** دمنبع څرنګوالى (کيفيت): دا دځمکې هغه جوک ښيي چې دخوښې وړ محصولات، عوايد يا رضايتونه ولرلاى شي. دا په کليوالى کرنيزه کارونه (زراعتي استعمال) ځمکو او د ښاري استعمال (تجارتي،

صنعتي او میشتنیز یا مسکوني استعمال ) ځمکو کې فرق کوي. په کرنیز استعمال ( نباتي ځمکې ، ځنګل ، څرځای) کې کیفیت ددوی آره ګټورتیا له کیمیاوي سرو سره ددوی عکس العمل اونور شامل دی پر کرنیزو ځمکو ځینې لاملونه او شرایط لکه د لمر وړانګې ، تودوخه ، اوربښت اقلیمي ښه والی لکه د باد شدت ، داوبو شتون اونور ښه او بد اغیز کولای شي.

دښاري ځمکو په استعمال (تجارتي صنعتي مسکوني) کې کیفیت ددې موقیعیت ، همسایګی ، جذابیت ، د تعمیراتو شکل ، عامه خدماتو ته نژدیوالی اونور مثبت تاثیر کولای شي . دا هم باید په یاد ولرو چې ځینې لاملونه لکه داوبو شتون ، ښه اقلیم ، ښایسته منظرې او د ونو شته والی هغه لاملونه دی چې دځمکو په هر استعمال کې لکه تفریحي استعمال ، زراعتي استعمال او دښار ي ځمکو استعمال کې متداخل او غوره عوامل دی. د ځمکو په هر راز استعمال کې دمنبع په څرنګوالي کې د ټکنالوژۍ استعمال او دانسان مهارت ، او کار بدلون راوستی شي. له ځمکو څخه موخه ګټه له مرکزي مارکیټ څخه د هغې په لرې والی او نږدیوالی پورې هم تړلی چې د پورتنیو یادو شویو لاملونو تر څنګ یو اغیزمن لامل دی څومره چې مرکزي مارکیټ ته ځمکې نژدې وي هغومره له هغې څخه ترلاسه شوی رضایت لوړ وي .




(۲) انځور

د موقعیت او مرکزي مارکیټ یا بازار څخه دواټن پر بنسټ پورتنی موډل Vonthunen شرحه کوي. «دوان تونن» موډل نور ټول عوامل او شرایط ثابت فرض کړي خو د ځمکې د استعمال توپیرونه مستقیماً د ټرانسپورټ لګښتونو، د محصول د رسیدو قابلیت، دوام نه فاسد یدو. مقاومت دروندوالی او نورو پورې تړلي بلل شوي بیا وروسته د ځایونو تقسیم بندي له پورتني شکل سره سم قیاس شوي ده.

**(۱) ساحه:** دغه ساحه باید د هغو نباتي اوحیواني محصولاتو د تولید لپاره چې ژر خرابیدونکي خاصیت لري، درانده او پلن وي استعمال شي.

**(۲) ساحه:** «دوان تونن» له دلیل سره سم بله سیمه چې ښار او مرکزي لویو مارکیټونو ته نژدې ده، کېدای شي هلته هګۍ اچوونکي چرګان، شیدي ورکوونکي غواوې او حتی د ځنګل لپاره استعمال شي. لومړنی دوه محصوله ژر خرابیدونکي دي او تقاضا ورته همیشه موجوده وي دهغو تازه ګي دهغو په بیه او ارزښت کې ونډه لري او ځنګل چې د سون او تعمیراتو مواد چمتو کوي دغه محصولات ډېر درانه وي نو ځکه یې نږدیوالې اقتصادي بریښي.

**(۳) ساحه:** په دې ساحه کې هغه نباتات او کرنیز محصولات چې حجم یې زیات وي لکه کچالو ریښې لرونکې نباتات (ملی، ټیپر) او نور د غلو سره په متناوبه بڼه وکرل شي چې په تشدیدي توګه استعمالیدای شي.

**(٤) ساحه :** دا ساحه هم د شیدو ورکوونکو څارویو د روزنې او غله جاتو لپاره ځانګړې کېدای شي.

**(٥) ساحه:** د پسونو، وزو او هغو څارویو د روزلو لپاره چې مارکیټ ته د خرڅولو لپاره تلای شي.

**(٦) ساحه:** شا و خوا وحشي سیمه د ښکار کولو لپاره. دغه سیمه هرو

مرو منظمې دايرې نه تشکيلوي بلکې د لويو لارو ، د سيندونو په امتداد ، دغونډيو يا غرونو دشتون له کبله نا منظمه بڼه هم غوره کولای شي لکه لاندې انځورونه .




(۳- انځور)
د دانې تونن موډل چې د سرچينې د موقعيت او له ځمکې ځخه د کټې اخيستنې په اړه دی .
Relation ship between resources location & land utilization.

د ځمکې د ځرنګوالي مفهوم ډېر ځله کرنيز اقتصاد او د طبيعي منابعو په اقتصاد کې د دې لپاره استعماليږي چې دهغې د بېلابېلو يوونونو (واحدونو) پرتليز جوکونه وټاکي او دهغو تر منځ توپير وشي چې دا د ځمکو د ظرفيت په بحثونو کې مهم ځای لري.

# له ځمکې څخه ډېره او ښه ګټه اخيستنه

## (The higest and best use of land)

د کرنې په سکتور کې له بېلابېلو توليدي واحدونو ( يو ټوټه باغ يوې ټاکلې کروندې ، دفارم د يوې چرګې يوه څاروي او نورو ) څخه ډېره ګټه تر لاسه کول چې د عواملو د ښه ترکيب ، ښې ادارې ، د کروندې د لګښتونو را ټيټول لږ حد ته ، د توليدي منابعو موخنه ځانګړنه ، د نسبي مزيت ټاکلو او نورو په واسطه غوره موخه ده چې دا محسوسي ګټې بلل کېږي. د کرنيز اقتصاد او د کروندې د تنظيم او د محصولاتو د توليد اقتصاد هڅې همدې ته اړم دی. ځينو کرنيزو پرکتيسونو ته انکشاف ورکول او دهغو اصلاح لکه خيشاوه ، کرنيز تناوب ، د کروندې د تجاربو عمليات Practiceof Field Expermenent د لابراتوارونو څېړنې ، لکه Potcu lture يا ګرين هاوس او آن ډېرې نورې سيمې تولې د آرو يا لومړنيو ګټو (Primary Benefits) او محسوسو ګټو لوړولو ته متوجه دي حال دا چې دمنبع ( ځمکې ) ښه او اعظمي استعمال داصلي او محسوسو ګټوسربېره نا محسوسي ګټې Intangible Benefits هم نه هېروي. ددې مثال د حجيمو محصولاتو ( وريجو ، کچالو اونورو ) پر ځای د مغذی محصولاتو ( لوبيا ، لنبياتو او نورو ) توليد چې ګټه يې هم لوړه وي او د وګړو پر روغتيا هم ښه اغيزه لري يا د يوې ټوټه ځمکې استعمال د ځانګړې محصول د توليد لپاره چې ورسره يوځای د ښکلې منظرې ، شنې سيمې يا د تفريح ځای هم وي . موږ مخکې د بېلابېلو موخو لپاره د ځمکو ويش ياد کړل چې په دې توګه دځمکو بېلابېلې سيمې د بېلابېلو موخو لپاره وړ

دی. هغه سیمې چې د مرکزي شغلونو په برخه کې ځای لري لوړ ارزښت لري. د یو اقتصادي قانون په توګه دځمکو خاوندان هڅه کوي چې خپلې ځمکې دهغه استعمال لپاره ځانګړې کړي چې د هغوی لپاره ښه او ډېره ګټه ولري.

**دځمکې منبع هغه وخت دخپل استعمال اعظمي اولوړ حد کې وي چې هغه داستعمال په برخه کې خپلو خاوندانو او ټولنې ته مطلوب عاید ور په برخه کړي.**

دغه دعاید اورضایت مطلوبیت د پیسو ارقامو اوټولنیزو نا محسوسو ارزښتونو پر اساس اندازه کېدای شي. ځمکه هغه وخت داستعمال لوړ پوړ کې وي چې دمقایسوي لوړ مفاد او نسبي ټیټ لګښت لرونکې وي. دځمکې ښه او لوړ استعمال تل بدلېږي. دځمکې د ظرفیت د مفهوم په شان د ځمکې اعظمي استعمال هم د ټکنالوژۍ او غوښتنې شتون پراساس بدلېږي ځینې وختونه دغه مفهوم د عامه پالیسیو، د ښار والیو او ناحیو تر فرمانونو او دولتي پلانونو لاندې راتلای شي، په ځینو حالاتو کې د خاوندانو درقابت په نتیجه کې بدلونونه پیښیدای شي. معمولاً په ښاري استعمال کې صنعتي او سوداګري استعمال او دځمکو کرنیز استعمال کې د سبو او میوو تولیدونکې ځمکې او د څارویو او چرګانو نوي فارمونه لوړ کارونه لري. دځمکې د استعمال په بدلون کې ښایي په نظر کې ونیول شي چې دځمکې هر یوون (واحد)، پانګه، کار او اداره په داسې ډول په کار واچول شي چې ټولنیزه ګټه ډېره زیاته کړي او کېچیرې دغه لاملونه په کوم بل استعمال یا د متبادل محصول په تولید کې په نظر کې نیول کېږي نو باید دومره اضافي تولیدي ارزښت را منځ ته کړي چې لږ تر لږه له هغو سره مساوي وي چې له دې لومړني ډېر ښه استعمال څخه یې په لاس

راوړي. همدا لامل دی چې کال په کال شاړې او خاره ځمکې په څړځايونو ، څړځايونه په کرنيزو ځمکو ، کرنيزې ځمکې داوسيدو په سيمو بدلېږي، يو شمېر کورونه د صنعتي سيمو د ايجاد لپاره تخريبېږي ، پخوانۍ ودانۍ د سوداګرۍ لپاره تخريب او په څو پوړيز شکل جوړېږي دا بدلونونه ښه او اعظمي استعمال ته د رسيدو په خاطر ترسره کېږي . هغه رضايتونه چې له اعظمي او ښه استعمال څخه تر لاسه کېږي کېدای شي يا محسوس وي يعنې په پولي ارقامو سنجش شي او کېدای شي غير محسوس يا غير مقداري وي لکه د ښکلا لپاره . دلته هغه کوښښونه چې د اعظمي او ښه استعمال لپاره کېږي په درې انځورونو کې توضيح کوو. په دغه هر يو انځور کې د يوې اوږدې مودې لپاره د ځمکې ښه او اعظمي استعمال په نظر کې نيول شوی. عمودي محور لګښتونه او عوايد او افقي محور وخت (کلونه ) ښکاره کوي (٤- انځور ) د کرنې لپاره د ځمکې کارول ښکاره کوي. په کرنه کې دبېلګې په توګه CR د څړځای ګټه اخيستنه ښکاره کوي . خو AR د سبويا ميوو د کرلو او روزلو لپاره د ځمکې کارول ښيي چې ګټه يې زياته ده. CS او AT په بېلابېلو کارولو کې ټوله ګټه وټه ښکاره کوي.




(٤- انځور )

په یوه ودانۍ کې پانګه اچونه او لګښت ښکاره کوي، چې په پیل کې کلنۍ لوړې ګټې ورڅخه ترلاسه کېږي. دلته هم افقي محور د تعمیر (ځمکې) ګټې او OL کرښه داوږدې مودې په ترځ کې کارول ښکاره کوي. د ګټو اندازه ورو ورو د وخت په تېرېدو سره چې ودانۍ زړېږي مخ په کمېدو ده دلته د DROL ځلور کونجه سیمه د ځمکې ګټه ښيي چې د APCM څخه لوی دی، یعنې ګټه یې زیاته ده.




(۵-انځور)

له پورتنیو دوه انځورونو سره توپیر لري. دلته داسې ګڼو چې ځمکه د بېلګې په توګه د سوداګرۍ چارو لپاره کارول شوی عمومي محور عواید او لګښتونه او افقي محور وخت ښکاره کوي. نومړي کارول او ګټه اخیستنه یوازې د لنډې مودې لپاره ډېر عواید لري. خو دلته غوره خبره داده چې سوداګرۍ تر ګټې اخیستنې لاندې ځمکې یوازې تر E کال پورې لوړه ګټه تر لاسه کولای شي. وروسته تر هغه چې دغه پلورنځي، هټۍ او سرایونه زړېږي او نورو سیمو کې نوي پلورنځي او مارکیټونه

جوړېږي نو ددې گټې وروورو مخ په کمېدو وي چې د ځمکو په کارولو کې

باید مخکې له مخکې اټکل شي.




(٦- انځور)

په دغو پورتنيو دريو اړو بېلگو کې بنايي اټکل شوی کلنی لگښت په پام کې وساتل شي. کېدای شي دغه لگښتونه په يو منځني حد کې اټکل شي لکه د (S) کرښه چې په هر يوه شکل کې ښوول شوې او دا هم بايد وسنجول شي چې: کېدای شي دغه لگښتونه د وخت په تېرېدو يا زيات يا کم شي، همدارنگه دهغو ثابتو لگښتونو (Fixed Cost) اندازه چې د کروندو (٤- انځور) يا ودانيو (٥- انځور) يا د سوداگرۍ په استعمال (٦- انځور) کې د پراختيا له امله تر سره کېږي. په پام کې ونيول شي، د ساتنې، څارنې، ماليې، بيمې او نورو عملياتي لگښتونو په هکله اټکلونه ترسره شي. ددغو اټکلونو زياته موده شل کلونه وي. ددغو کلونو په موده کې هرومرو اټکل شوي ټول عوايد بايد له لگښتونو څخه زيات وي. د ښه اولوړ استعمال لپاره د کارولو بدلونونه Move of operators زموږ شاوخوا ډېر زيات دي او هر وخت د ځمکې په کارولو کې بدلونونه وينو. د بېلگې په توگه هغه ځمکې چې يو وخت کرنه پکې کېده اوس کورونه پکې جوړ شوي، کېدای شي څو کاله وروسته دا په پلورنځيو او اوږي

هغه ځمکې چې یو وخت د امریکا ډېرې لویې ساراگانې وې بل وخت للمي کرنې Dry forming ته په کار کېدې . بیا په څړځای بدلې شوې ، اوس د سوداگرۍ صنعت او اوسیدو لپاره په کار یږي . د لویو ښارونو یا گڼ کرل کېدونکیو ځمکو را منځ ته کېدل هم ددې یوه بېلگه ده ، چې یو وخت لوی بیا بانونه وو ، نو د ښه کارولو بدلونونه یوه خوځنده او فعاله پروسه ده.




(۷- انځور)

## د بېلابېلو اقتصادي گټو اخیستو لپاره د ځمکې عرضه

انسان د تاریخ په اوږدو کې دژوند ډېرې بنسټیزې او لومړنۍ اړتیاوې له ځمکې څخه پوره کړې دي، دهمدغو پراخو ډېرو بنسټیزو اړتیاوو او دځمکې د کموالي له امله ځینې اقتصادي مفاهیم لکه دځمکې د کارونې ظرفیت ، دځمکې ډېر ښه اولوړ کارول اونور را منځ ته شوي. پوښتنه را منځ ته کېږي چې آیا د انسانانو ( ټولنې ) دغو بې شمېره اړتیاوو ته دځمکې عرضه په څه ډول ده ؟ ددې ځواب د موندلو لپاره ښایي د ځمکې عرضه او هغې ته اړتیا وپېژنو.

د عرضې او تقاضا نومونې زیاتې ماناگانې لري؛ په اقتصادي بحثونو کې یې داسې را پېژني:

**عرضه بازار ته دهغو اجناسو او خدماتو تاکلي اندازه ده، چې په يوه تاکلي وخت کې وړاندې کېږي او تقاضا د اجناسو خدماتو او د ګټې وټې توکي دي، چې پېرېدونکي اواره لرونکي په يوه تاکلي وخت کې دهغو پېرودلو ته چمتو وي.**

پورتنې پېژندنه د پنځيزو سرچينو د (وړاندې کونې او غوښتنې) عرضې او تقاضا لپاره بشپړه نه بريښي . دا هم بايد ووايو چې ددغو نومونو لپاره په اقتصاد کې ځينې نورې پېژندنې هم شته.

د ځمکې عرضه کېدونکيو توکيو ته په هر وخت او هر ځای کې دهر کولتور لرونکي خلک يوډول اړتيا لري، خو له دې کبله يې ددغو توکيو هستول د چاپېريال ، هوا ، تودوخې ، وچکالۍ ، ناروغۍ او ډېرو نورو اغېزمنو فکتورونو پورې تړلي، نو د عرضې اټکل يې ستونزمن کار دی، خو په صنعت کې د عرضې او تقاضا پېژندل او اټکل کول ډېر آسانه کار دی. په دې پوهيدل آسانه دي چې ژمی ورينو جامو ته اړتيا ډېره وي، اوړی کولر او اير کينډشن ته . صنعتي توکيو ته داړتيا په برخه کې د بېلابېلو سيمو کولتور هم اغېزه لري او د خلکو د ګټې زياتوالی او کمښت هم اغېزه پرې لري. خو د ځمکې عرضه چې د ژوند بنسټيزې اړتياوې دي، د ذوق ، ګټې ، فرهنګ ، ژبې ژمي او اوړی او نورو پورې نه دي تړلي ، خو د ځمکو د کارونې په اړه ويلای شو چې ځمکې ته دځای ، جايداد او نورو په اړه ځينې وخت تقاضا بدلون موندلای شي . که چيرې د کابل ښار شاوخوا سيمې وګورو سل کاله پخوا دومره آبادي پکې نه وه او نه هم خلکو دهغو د پېرلو هڅې کولې ، د بېلګې په توګه اوسنۍ خوشال مېنه کې سل کاله پخوا د يوه کور جوړولو ته هيڅ دومره پيسې نه ورکولې لکه چې ننني يې ورکوي، نو ځکه ويلای شو کېدای شي چې حتی ځمکې ته هم ځينې وختونه تقاضا نظر ځينو لاملونو ته بــــدلون مــــومـي، چې دا به وروستــه تر بحث لاندې ونيـول شي.

(Robert A. Lynn) د اقتصاد اساسي پرنسيپونو په نوم په خپل اثر کې

ځمکو ته تقاضا داسې تعریفوي: ځمکو ته تقاضا دځمکې دچمتو کوونکي گټې لپاره له اړتیا څخه اغیز منه وي، چې دا د هغې په راتلونکې گټه ور کولو پورې تړلی، مګر دهغې عرضه تل ثابته بولي دی مثال ورکوي: کـه چیرې پر یوه ټوټه ځمکه یو تعمیر چې (۱۰۰) کوټې لري موجود وي نو دهغې د کرایې اندازه د میاشتې ۵۰$ وي، که چیرې وار له واره یوه پوځي قشله ښار ته راشي او دغو ټولو کوټو ته ډېره اړتیا ولري نو دځمکې عرضه هماغه پخوانۍ ده مګر تقاضا ورته ناڅاپه زیاته شوه نو دهغې د یوې میاشتې عاید اندازه ۱۰۰$ ته لوړېږي دغه موضوع په یو انځور کې داسې ښکاره کوي:




(۸ - انځور)

Lynn دځمکې عرضه ثابته رسم کړې، چې په (s) کرښه ښوول شوې مګر تقاضا پوځي قشلې له راتلو څخه مخکې په (D1) او له عسکري قشلې څخه وروسته په D2 ښکاره کوي.

دلته په حقیقت کې ده دځمکې یوازې فزیکي عرضه په نظر کې نیولې او هغه هم د یوه تعمیر د موقعیت په توګه، حال داچې دده دا نظر یوازې په همداسې یوه مورد کې سم دی خو عموماً دځمکې استعمال، دهغې بدلون

له یو استعمال څخه او دهغې مفاهیم چې ځینې وخت حتی د سرمایې ارزښت پیداکوي، فرق کوي؛ نو ښه به وي پردې سکالو له پراخه چوکاټ څخه نظر واچوو ځکه د طبیعي منابعو په هکله خصوصاً دځمکې په هکله پخوا هم د یو شمېر کلاسیکانو نظرونه رد شوي او په اوسمهالي اقتصاد کې هم بېلابېل نظرونه ورکول شوي. ښه ده د ځمکې د عرضې او تقاضا په هکله د (رالی بارلو) بشپړ تعریف غوره شي، چې په هغه کې د ځمکې په عرضه (S) د ځینو عواملو اغېزې هم منعکس شوي:

د ځمکې د منابعو ټولیزه عرضه دهغو منابعو مجموعي پورې چې دځمکې په واسطه چمتو کېږي محدودېږي. هغه ځمکې چې د وګړو په واسطه استعمال او ګټه اخیستو ته چمتو شوي د بدلون منونکو شرایطو په تغییر سره فرق کوي.

دا تعریف دا نظر را منځ ته کوي، چې باید د عرضې اقتصادي او فزیکي او نورو مفاهیمو تر منځ توپیر وشي! دلته موږ دځمکې د عرضې او تقاضا دقیقو تعریفونو ته ورننوځو.

د ځمکې فزیکي عرضه: دا دځمکې په یو فزیکي واحد یا د یوې ټوټې ځمکې پر فزیکي شتمنۍ باندې دلالت کوي لکه د یو ځنګل یا یو معدن فزیکي عرضه په متر مکعب یا د یو هېواد دځمکې اندازه په مجموع کې په فزیکي توګه.

د ځمکې اقتصادي عرضه: داد مجموعي فزیکي عرضې صرف هغه برخه را اخلي کوم چې انسان له هغې برخې څخه اقتصادي استفاده کوي. یعنې د مجموعي فزیکي عرضې دغه برخه هغه وخت اقتصادي اهمیت مومي چې انسان له هغې سره علاقه ونیسي. هغې ته په ارزښت قایل شي، ګټه ورکړي او هغه استعمال کړي، چې همدا اقتصادي عرضه د

قیمت او تقاضا دلاملونو په وړاندې حساسیت ښیي . کېدای شي اقتصادي عرضه وخت په وخت پراختیا ومومي چې په پایله کې د فزیکي عرضې په واسطه محدود نه يي . ددې په وړاندې تقاضا دانسان دایمي او حتی زیاتیدونکي غوښتنه ده ، د ځمکو دمحصولاتو د عرضې لپاره . موږ له ځمکو څخه د ښو غذایي محصولاتو ، ډېرو کورونو ښولویو لارو ، تم ځای، څرځای او نورو رضایتونو د ترلاسه کولو تقاضا لرو یعنې ځمکې زموږ د غوموخو د ترلاسه کولو وسیلې ګڼل کېږي.

## دعرضې او تقاضا انډول:

که څه هم موږ د ځمکې لپاره تقاضا په بیله توګه او عرضه په بېله توګه تعریف کړه مګر دغه دواړه یوله بل سره نږدې اړیکي لري له همدغو اړیکو څخه د ځمکې نرخ ټاکل کېږي په دې کې دځمکې دعرضې منحني SS د محصول دهغو زیاتیدونکیو مقدارونو جدول ښیي چې خرڅوونکې يې په مختلفو زیاتیدونکو نرخونو سره په یوه ټاکلي وخت کې بازار ته وړاندې کوي.




(۹ - انځور)

د تقاضا منځني DD په خپل وار سره د محصول د زياتيدونکو مقدارونو له جدول څخه استازيتوب کوي، چې اخيستونکي به يې له عين بازار څخه په عين وخت کې په کميدونکيو نرخونو سره. واخلي. د عرضې او تقاضا په دغو جدولو کې کېداى شي معادل نرخ د (P) په ټکي کې واقع شي. د SS او DD د تقاطع ټکي په دې نرخ کې هغه اندازه چې بازار ته عرضه کېږي له هغې اندازې سره چې تقاضا کېږي مساوي ده که چيرې نرخ پر لوړ ټکي لکه P باندې راشي خرڅونکى به دې ته راضي شي چې د محصول زيات مقدار بازار ته عرضه کړي دا وخت کېداى شي اخيستونکي ډېر لږ شي. او ددې سرچينه که نرخ (P) ټکي ته راشي سرچپه وضع به وي د زياتره ځمکو عرضه د نرخ د بدلونونو په مقابل کې حساسه وي کله چې نرخونه د لګښت په پرتله لوړ وي او د بازار شرايط هم برابروي نو د ځرځاى ځمکې ډېرځله دغنمو د توليد لپاره قلبه کېږي زياتره يو منزله زاړه تعميرونه د نويو تجارتي مارکيټونو او سرايونو لپاره نړېږي. زيات شمير ونې له ځنګلونو پرې کېږي، د نويو کانونو استخراج ته ملا تړل کېږي. د ځمکو په استعمال کې ځانګيز (فرعي) ويش را منځ ته کېږي او داسې نور. خو که نرخونه ټيټ وي د ځمکې استعمال پرېښوول کېږي، ساحې د ټيټ استعمال په لور درومي، خو داوږدې مودې په ترڅ کې د خوړو او داوسيدو ځاى لپاره تقاضا تل موجوده وي دا ځکه چې د لنډې مودې د لوړ عايد په موجوده دغه اړتياوې حياتي او دايمي وي. دا چې ځمکه دخپلو بېلابېلو مفاهيمو له مخې (موقعيت، د توليد عامل، سرمايه او نور چې پخوا ولوستل شول)، داستعمال د بدليدو، په بېلابېله توګه د فزيکي او اقتصادي عرضې او نورو خصوصياتو له مخې فرق کوي نو د هغې عرضه او تقاضا داسې بيانيداى شي.

**- د ځمکې وړاندې کول د هغې د بېلابېلو ډولونو دوړېزې وړاندې کونې تولګې ته وايي.**

**- ځمکې ته تقاضا د ټولنې له خوا د ځمکې د بېلابېلو سرچينو د ډولونو غوښتنه ده.**

د ځمکې د بېلابېلو منابعو ډولونه توپير لري لکه د ځنګل لپاره تقاضا ، د تفريحي ساحو لپاره تقاضا د کانونو لپاره تقاضا او نور همدارنګه د ځمکې نباتي عرضه ، د ځمکې عرضه د ودانۍ لپاره د ځای په توګه د ځمکې عرضه د خدماتي استعمال لپاره او نور.

د ځمکې د منابعو عرضه د ځمکې د استعمال د بېلابېلو ډولونو لپاره لاندنيو عواملو پورې تړلي:

۱) نسبي تقاضا د ځمکې د ځانګړي استعمال د ډول لپاره

۲) هغه تړوله سيمه چې د غه استعمال ته ځانګړې شوې

۳) هغه فزيکي محدوديت چې د غه استعمال ته موجود دی

٤) د سيالۍ کوونکو استعمالولو اغېز د ځمکو پر موجوديت باندې د غه استعمال لپاره.

٥) هغه لګښتونه چې د نوې ځمکو له پراختيا سره تړلي دي .

**(۱۰-انځور)**



لکه چې په (۱۰- انځور) کې لیدل کیږي د منحني په لومړۍ برخه کې عرضه زیاته حساسه ده، دا ځکه چې د ټولې ځمکې یوازې یوه کوچنۍ ساحه دکرنې تر استعمال لاندې ده. په نسبي توګه دځمکې یوه زیاته ساحه د عرضې لپاره په طبیعي توګه مساعده ده. د پراختیا یي لګښت په لږ زیاتوالی سره به ټوله اقتصادي عرضه ډېره زیاته شي ورو ورو به دغه عرضه غیر حساسه شي او بالاخره به دغه عرضه دفزیکي محدودیت له امله توقف وکړي لکه د FF کرښې په واسطه چې ښوول شوې. هغه عوامل چې ځمکې ته د اوږدې مودې په تقاضا کې ونډه لري هغه د نفوسو ورځ په ورځ زیاتوالی، د نفوسو د عاید د سطحې لوړوالی، دځانګړو ذوقونو او انتخابونو زیاتوالی او داسې نور دي.

## هغه لاملونه چې د ځمکې د منبع پر اقتصادي استعمال باندې اغېزه لري

بشر ورځ پر ورځ دځمکې پر منابعو خپل اقتصادي استعمال ته پراختیا ورکوي، کال په کال په دغو منابعو پانګه اچونه، له هغو څخه ګټه اخیستل او پر هغو باندې دلاسبري موندل زیاتوالی مومي. ددې خبرې ځینې څرګند لاملونه شته چې دلته به بحث ور باندې وشي.

### ۱) دنفوسو زیاتوالی اونویو ځمکو ته د هغو اړتیا:

د نفوسو فشار (Population pressure) نن ورځ د ځمکې د منبع په اړه د پوهنیزو څېړنو زیاته برخه جوړوي . خلک د ځمکې د منابعو

لپاره چې خوراکي مواد ، ځای ځنګل او نور برابر وي ډېره دلچسپي ښيي.

مګر دنفوسو د زياتوالي له امله ددغو منابعو استعمال په ځينو ځايونو کې تشديدي سرحد ته نږدې شوی . د نړۍ نفوس په سرسام آواره توګه مخ په زياتيدو دی. څو پېړۍ مخکې دوچکاليو ، يو شمېر ناروغيو او نورو لاملونو له کبله د نفوسو د ودې اندازه کمه وه مثلاً په اروپا کې وروسته تر ۱۸ پېړۍ ۶۰۰ ځلې وچکالي پيښه شوي. چين کې تر دې هم زياته پېښه شوې . په څوارلسمه پېړۍ کې د طاعون ناروغۍ د ځينو هېوادو د نفوس ۲/۳ برخه له منځه وړې، جګړو هم دنفوسو په کموالي کې رول لوبولی مثلاً د دېرشمو کلونو جګړو د بوهيما ۱/۲ نفوس له منځه يوړ. خو د ۱۷۰۰ م کال را په دې خوا په لويديزه اروپا کې د کرنې په برخه کې دمثبت بدلون له امله زيات نفوس په کار ولويد او محصولات هم لوړ شول او د خوړو زياتوالی د نفوسو لپاره د بسنې لامل شو او دنفوسو د زياتوالی زمينه يې برابره کړه، ورو ورو روغتيايي شرايطو د صنعتي روغتيا پالنې او واکسينونو د تطبيق له امله د نفوسو ګړندی زياتوالی و ليدل شو. د طب او صنعت ترقۍ د نفوسو په زياتوالي کې ډېره مرسته وکړه. لاندې جدول د نړۍ د نفوسو د زياتوالی ښوونکی دی:

**(١) لښتليک :** د يونسکو د کلني راپور له مخې د بېلابېلو وچو د نفوسو زياتوالی ( په زرو تنو )

| وچه / کلونه | ١٩٧٥ | ١٩٨٠ | ١٩٨٥ | ١٩٩٠ | ٢٠٠٠ |
|---|---|---|---|---|---|
| افريقا | ٤٠٦٥٨١ | ٤٦٩٩٨٢ | ٥٤٦١٦٦ | ٦٣٥٣٥٠ | ٨٥٢٨٨٥ |
| امريکا | ٥٥٨٢٣٣ | ٦١١٥٣٩ | ٦٧٠٧٦٩ | ٧٣٣٠٧٧ | ٨٦٤٥٥٢ |
| آسيا | ٢٣٥٢٧٤٢ | ٢٥٧٨٦١٠ | ٢٨١٤٧٥٦ | ٣٠٥٧٨٣٣ | ٢٥٤٩٤٥٨ |
| اروپا | ٧٢٧٥٦٤ | ٧٤٩١٩٧ | ٧٧٠١١٧ | ٧٨٩٤٠٦ | ٨٢٢٢٥٣ |
| استراليا | ٢١٢٠٠ | ٢٢٨٢٠ | ٢٤٥٢١ | ٢٦٢٤٦ | ٢٩٧٠١ |
| ټوله نړۍ | ٤٠٦٦٣٢ | ٤٤٣٢١٤٧ | ٤٨٢٦٣٢٨ | ٥٢٤١٩١١ | ٦١١٨٨٥٠ |

Ref: 1-2 Unesco year book.

لکه چې ليدل کېږي په ٢٠٠٠ کال کې د نړۍ نفوس ٦١١٨٨٥٠ زرو تنو ته رسېږي دغه شمير به په ٢٠٢٥ کال کې ٨ بيليونو ته ورسېږي که دغه ارقام له ١٦٥٠ م کال سره پرتله کړو نو ډېر لوی توپير تر سترگو کېږي.

(٢) لښتليک: په ١٦٥٠ کال کې د بېلابېلو وچو نفوس ( په بيليون تنو )

| سيمه | نفوس ( په بيليون تنو ) |
|---|---|
| افريقا | ١٠٠ |
| امريکا | ١٣ |
| آسيا | ٣٣٠ |
| اروپا | ١٠٠ |
| استراليا | ٢ |
| ټوله نړۍ | ٥٤٥ |

رېښتيا چې ډېر لوی توپير دی. دغه توپير ښکاره ده، چې د ځمکې د منابعو پر تقاضا باندې لوی فشار منعکسوي. په دغه موده کې بشريت

دځمکو منابعو ته ډېر زیاته پراختیا ورکړې. دعلمي نور ماتیف له مخې یو انسان په یوه ورځ کې د ۲۰۰۰-۳۰۰۰ کالوري، هر تن ته د ورځې د ۷۰ ګرامو شاوخوا پروټین. د هر تن لپاره د ۶۰۰۰ کیلو ګرامو د ډبرو د سکرو معادل دانرژي منابع ضرور دي. همدارنګه معاصر نور ماتیف دانسان د تغذيې لپاره په یو کال کې د ۲۶۰ لیترو په شاوخوا کې شیدو، د ۲۶۰ شاوخوا هګیو، څه نا څه ۸۰ کیلو ګرامه غوښې، ۱۸۰ کیلو ګرامه سبو، ۲۰۰ کیلو ګرامه میوې، ۳۲ کیلو ګرامه بورې او ۳۵ کیلو ګرامه کچالو ته اړتیا لري. یو تن د یوه کال په اوږدو کې په وچ وزن سره د ۵۰۰-۶۰۰ پونډه غذا ته اړتیا لري. دغه شمیرې او اړتیاوې باید دځمکې له منابعو څخه لاس ته راشي نو ددې لپاره دنفوسو فشار د ځمکې دمنبع په اقتصادي استعمال لوی عامل دی.

## ۲-تکنالوژیکي پرمختیا:

په تېره بیا په اروپا کې درنسانس له پیر څخه وروسته پوهنو زیاته پرمختیا وکړه د پوهنو له پرمختګ سره بشریت د تکنالوژۍ په برخه کې ستر بریالیتوبونه تر لاسه کړي. په تیره بیا شلمه پېړۍ د ساینس او تکنالوژۍ عصر وبلل شو. بشریت د تکنالوژۍ په واسطه د طبیعي منابعو اقتصادي استعمال ته ډېره پراختیا ورکړه آن هغه منابع چې پخوا نا څرګندې بلل کېدې د تکنالوژۍ په مرسته پیدا او تر لاسېرې لاندې راوستل شوې.

## ۳- د ګټې ( عاید ) لوړ والی:

عصري ژوند ته د انسان داخلیدل د هغه په مادي او معنوي غوښتنو کې توپیر راوست څومره چې دانسانانو عواید لوړ شول هغومره یې غوښتنې ډېرې شو او دهغو د کمیت او کیفیت به ښه والي کې تقاضا زیاته

ولیدل شوه . د ګتې لوړوالي دځمکې منابع تر اغېزمنې استفادې لاندې راوستلې .

### ٤- خوښونه او ټاکنه (ذوق او انتخاب):

په دې وروستیو کې انسان دځمکې منابع خپلو هغو ذوقي غوښتنو ته هم ځانګړې کړې لکه چې پخوا موجود نه و لکه د تفریحي سیمو تقاضا.

### ٥- نور ټولنیز لاملونه:

دله یېزې کړنې ، کولتور ، فرهنګ ، حکومتي قوانینو او پالیسیو هم د طبیعي منابعو په تېره بیا د ځمکې په استعمال ژوره اغېزه کړې مثلاً حکومت په یوه نوې سیمه کې دخلکو د میشته کولو فرمان صادر وي چې دا په خپله دځمکو پراختیا را منځ ته کوي او داسې نور لاملونه .

### ٦- د ژوند د نویو غوښتنو را منځته کېدل:

انسانانو د نورو اړتیاو او تاسیساتو تر څنګ ځمکې د ژوند نویو ډګرونو او چاپېریالونو ته هم ځانګړې کړي مثلاً د څېړنیزو چارو لپاره ، دکیهاني منځیو (مراکزو) د تاسیس لپاره او چاپېریالونو داسې نورو اړتیاوو لپاره چې پراخې سیمې ورته ضروري دي.

### د ځمکې د منبع تشدیدي استعمال

Intensity of Land use

مځکې مو ووېل چې له طبیعي منابعو څخه یو شمېر یې په ډېره پراخه کچه موجودې دي له هغې جملې ځمکې هم د طبیعي منبع په توګه په پراخه اندازه موجودې دي ، خو هغه اندازه چې تر استعمال لاندې راغلې ، په هغو باندې پانګه لګېدلې ، کار پرې شوی د تولیدي لا په توګه د پانګې، کار او منجمنټ تر څنګ ورته علاقه ښوول شوې ، کېدای شي د ټول فزیکي مقدار څخه کمه وي ، په دې توګه مونږ دې ته ځیر شو چې

دځمکې د فزيکي چوکاټ په پرتله د هغې اقتصادي چوکاټ محدود و ، خو دغه اقتصادي کارونه وروورو د بېلابېلو فکتورونو مثلاً دنفوسو زياتوالی ، ټکنالوژيکي پرمختيا ، د گټې لوړوالی ، ذوق ، ځينې ټولنيزو عواملو او نورو له امله مخ په پراخېدو دي چې د استعمال دغه زياتوالي ته منبسط استعمال Exten siveuse وايي يعنې توسعه موندونکې يا پراختيايي استعمال ، خو دغه استعمال يو وخت کله چې داقتصادي استعمال سرحد فزيکي سرحد ته ورسېږي دربېږي يعنې فزيکي اړانه د اقتصادي اړانې د پراختيا مخه نيسي، دا په دې مانا چې له فزيکي پلوه نوره ځمکه نه لرو چې گټې وټې ته کار ورځخه واخلو ، خو سره له دې هم ځمکې ته اړتيا وي . لنډه دا چې هر هغه وخت چې دځمکې يوه په ټاکلې ټوټه کې زياته اندازه کار او پانگه ولگېږي نو دې ته تشديدي کار ول وايي. ښارونو ته نږدې ځمکې د دې ښې بېلگې دي. له همدې امله يوه ټوټه ځمکه د ځو موخو لپاره کارول کېدای شي. د بېلگې په توگه يو باغ چې هم ميوه لرونکې ونې لري تر دغو ونو لاندې غلی ، دانې او دځارويو لپاره وابښه هم کرل کېږي. دا دهوساينځای په توگه هم کارول کېږي. په دې کې پوهنيزه څېړنه هم تر سره کېدای شي چې همدغه دتشديدي کارولو بېلگه ده. دلته سيده او ناسيده گټې وټې يوځای راغلی . ځو فصله کرنيزې ځمکې د يو فصله په پرتله تشديدي استعمال لري. نو دځمکو تشديدي او پراخيدونکې کارونه پرتليزه اړخ لري د بېلگې په توگه کابل ښار ته نژدې د شيوکيو او بگراميو ځمکې د مهترلام د ښار د ځمکو په پرتله ډېر ژر پراخېدونکې کار ونې لاندې راغلي او دورد کو دځمکو په پرتله تشديدي کارولو لاندې دی. همدغه پرتليز والی دځمکو پرتليز ښه والی هم ښکاره کوي، دلته ويلای شو چې : ښه به وي که کورونه دکرنيزو ځمکو پر ځای دغونډيو اړخونو ،

دغـرونو لمنواو د بېتو کـې جوړ کړو، ځکه د غـرو د لمنو په پرتله د کـرنیـزو ځمکو ارزښت لوړ دی، نو باید کلي په کې جوړ نه کړو. کلي د غـرو لمنو کې هم جوړیدای شي خو کرونده دغره لمنه کې نـه شي روزل کېدای. دلتـه یوازې د ځمکې کارونه ارزښت نه لري. له دې سره پرتلیزه ښیګڼه ( د وریجو د کرلو پر ځای د سبو روزنه ) ، دمؤلدینو رقابت ، او نورې خبرې هم ارزښت لري. که چیرې د هېواد د بیا رغاونې په پلانونو کې دځمکې پرتلیز اررښت په پام کې ونه نیول شي، یو نا اندوله پراخیدونکې کارونه را منځ ته کېږي، چې دا په راتلونکې کې لوېې ستونزې پېښوي، نو ځکه په هره توګه ځمکه کـه ودانۍ کېږي ، خو لومړی یې باید وړتیا او په پرتلیـز ګټور توب چاڼ شي. دکرنیـزو ځمکو بدلون په کلیو ناوړه کاردي ځکه کلیـو ته باید هغـه ځای غوره شي کوم چې د بل کار لپاره وړتیا ونه لري. دارنګه دځنګل لوځول د کومې موخې لپاره هم مناسب نه ده، دلتـه په لنډ ډول دا چې د تشـدیدي کارونې نومونه د پانګې کـار او نور تولیدي عواملو نسبي مقدارونو ته ورکول کېږي، چې دځمکې له واحدونو سره یو ځای په اغیزمنه پروسه کې استعمالیږي ( بارلو ) په دې توګه تشدیدي استعمال هم لکه په خپله د طبیعي منابعو د استعمال په شان په دوو برخو وویشو : یو یې ( د لومړنې تولید تشدید ) او بل یې (د ثانوي تولید تشدید ) دی. په لومړني تشدید کې پانګه او کار ، په ځمکه باندې په مخامخ توګه یا مستقیماً دځمکې د محصولاتو د تولید په خاطر لکه د نباتاتو روزل ، د کانونو ، ودانیو او نورو په هکله تطبیقیږي ، ثانوي تشدید د پانګې او کار تطبیقول دځمکې د محصولاتو په پروسس کولو کې په تیره بیا هغه چې د کرنې له سیمې څخه لا نه وي وتلې په ځینو ځانګړو ځایونو کې عملي کېږي ، په برکې نیسي ، دا مفهوم د ښارویو روزنې ، کانې ډبرو ، ځنګلونو ، صنعتي او

تجارتي استعمال اوتولو موادو کې استعمال شي. دلته به د ځنګل په برخه کې مثال راوړو: د ځنګلو د ونو د لرګيو ، دځنګلي ميوو ، په هغو کې دوحشي ژويو (Wildlife) ، دځنګله څخه د تفريح ځای ، پر هغه پوهنيزه څېړنه ، د ځنګل اغيز پر اقليم او داسې نور دځنګله لومړنی تشديدي استعمال دی، مګر کله چې دهغه ونې قطع شي د ثابتو لرګيو څخه آر پروسس (ميز، څوکيو ، دروازو ... توليد ) بيا د هغه اضافي موادو لکه تراشل شويو برخو څخه د پروسس (فشار) په ذريعه د تختو جوړولو ، له نورو اضافاتو د کاغذ جوړولو کې استفاده او بالاخره د لرګيو بورې ارې څخه نور صنعتي پروسسونو کې کار اخيستل ټول د ثانوي تشديد مثالونه دي چې په مجموع کې د ځنګل تشديدي استعمال احتوا کوي. ښه به وي دا مفهوم داسې واضح او بيا يې له منبسط استعمال سره پرتله کړو:

د بانکې ، کار سازمان ورکولو او اداري دعواملو لوړ نسبتونه دځمکې دهر واحد لپاره تشديدي استعمال Intensiveuse دی. خو هغه تصدي ، فارمونه يا متشبثين چې دځمکې پراخې او لويې ساحې ورځ په ورځ په نوې توګه تر کار لاندې راولي، خو د کار ، بانکې او اداري انډول يې ټيټ دی، منبسط استعمال Extensive use دی. ځکه نو ښاري ځمکې په تيره بيا هغه چې په مرکزي بوختياوو (تجارت او صنعت) کې استعماليږي له ډېر تشديدي استعمال سره مخامخ دی. داطرافونو د ځمکو په پرتله په يوه کوچنۍ ټوټه ځمکه کې څو پوړيزه ودانۍ او حتی تر هغه لاندې زيرزميني ګانې جوړوي، لومړی پوړ يې ډېر د ځله پلورنځي ، دويم يې رسمي دفترونه ، دسوداګريو استازځايونه د چارو لارښود ، دبيمو دفترونه دريم څلورم او پنځم پوړونو کې د استوګنځای ، شپږم يا اووم پوړ هوټل ، کتابتون يو شمېر خدماتي ځايونه او آن د تعمير د سر دانتنونو ،

مخابروي وسايلو ، د لمر د انرژۍ د زيرمې د آزادې فضا اونور لپاره تر استفادې لاندې نيول کيږي، خو ددې په تناسب د کروندو ځمکې تر ډېره د لږ تشديدي استعمال سره مخامخ دي. ددې په انډول څړځای او د ځنګل لا ډېر کم تشديدي استعمال لري. په منبسط استعمال کې لږ تر لږه د لاندې اړيکې شته :

**TR= TC**

منطقاً پورتنی فورمول هم ډېر د منلو وړ نه دی، خو دلته مقداري ګټې لږ تر لږه د مقداري مصارفو سره برابرې وي ، خو غير مقداري ياغير محسوسې ګټې او رتياوې هم شته مثلاً کله چې متشبثين او کروندګر د لومړي ځل لپاره يوه نوی دښتې ځمکه يا لامزروع چمن زار په کرنيزه ځمکه بدلوي ( منبسط استعمال لاندې يې راولي) نو طبعاً دخاورې آماده کول هوارول ويالي کيندل او نور زيات لګښت غواړي ، حال دا چې ورو ورو د نورو کلونو د فصلونو لپاره پورتنۍ معادله په دې انځور بدليږي: TR>TC ، مګر په تشديدي استعمال کې NR دنګه ګټې لوړې پولې ته رسيدل مرخه ده . دغه د تشديدي استعمال پراخه حد په زياته توګه د توليد د عامل او توليد دعکس العملونو له هغو بدلونونو او توپيرونو څخه سرچينه اخلي چې د ځمکې د استعمال له مختلفو ډولونو او د ځمکو له هغو ساحو سره چې د ياکلو استعمالولو لپاره وقف شوی دی، تړلي.

## دځمکې د تشديدي او منبسط استعمال پولې :

کله چې د ځمکې د استعمال شدت يا فشار تر غور لاندې نيسو دا مهمه ده چې د تشديدي استعمال او منبسط استعمال د سرحدونو تر منځ توپير وشي:

د منبسط استعمال حالت کې ځمکه د مطلوبو شرايطو په لرلو سره يوازې

دومره تولید کوي، چې د تولید لګښت پوره کړي دا یوازې هغه تولیدونکي دي چې هغوی داناشونې ګڼي چې په خپلو عملیاتو کې عواید له لګښتونو ډېر زیات اوچت کړي اما په تشدیدي استعمال کې نه یوازې هغه کار او پانګه چې استعمال شوې، خپل لګښت پوره کوي، بلکې اضافي ګټه هم راکوي مونږ خپل ماحول او دهېواد په شرایطو کې هم ګورو چې زیاتره کروندګر هغه لګښتونه چې په سره، تخم، تراکتور او درمند کولو لګوي، پوره کوي یې خو د کروندې له کرلو نه بیاتر درمند اخیستلو د ټول تر سره شوي کار، اداري اوڅارنې مزد که ورسره یو ځای شي نو یوازې دا معادله رېښتیا کوي:

$$TR= TC$$

او زمونږ کروندګر همدا کافي ګڼي، مګر پر خلاف مرکزي مارکیټونو ته نږدې کروندې په تیره بیا هغه چې سابه، د میوو تولید او د نورو خوړو تر کښت لاندې دي، هغه چې د تشدیدي استعمال بېلګې کېدای شي، خود او د ټولو تر کښت لاندې ځمکو ډېره کمه سالواله جوړوي، لکه د کابل د بګرامیو، شیوکیو، هود خیلو یا د ننګرهار د سره رود، خوشګنبد، بهسودو او نورو سیمو د سبو تولیدولو کروندې یا د پروان او کندهار د انګورو د تولیدونکو باغونو مثالونه چې له مطلق نسبي مزیت څخه برخمن دي. ځمکې د تشدیدي استعمال حد ته هغه وخت رسېږي چې آخري پر له پسې بدلون منونکي واحد مخکې له دې چې اضافي لګښتونه له اضافي عوایدو څخه زیات شي په کار واچول شي. دا مثال په (جدول) کې څرګند شوی.

(۳) لنبتليک:

| د اضافي توليد ارزښت Vulueof margind praduct ati | | | | منځنی فزيکي توليد | مجموعي فزيکي توليد | بدلون منونکی عوامل | ثابت واحدونه (ځمکه) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | د هر واحد لګښت ۵۰ ډالره | اضافي فزيکي توليد M.P.P | | | | |
| | | ۱,۵۰ | ۲ | ۲ | ۲ | ۱ | ۱ |
| | | ۲,۰۰ | ٤ | ۳ | ٦ | ۲ | ۱ |
| | | ۳,۵۰ | ۷ | ٤.۳۲ | ۱۳ | ۳ | ۱ |
| | | ۵,۰۰ | ۱۰ | ۵,۷۵ | ۲۳ | ٤ | ۱ |
| | | ٦,۰۰ | ۱۲ | ۷ | ۳۵ | ۵ | ۱ |
| | | ۷,۰۰ | ۱٤ | ۸,۱٦۷ | ٤۹ | ٦ | ۱ |
| | | ۷,۵۰ | ۱۵ | ۹,۱٤۳ | ٦٤ | ۷ | ۱ |
| | | ۱۱,۲۰ | ۱٤ | ۹,۷۵ | ۷۸ | ۸ | ۱ |
| | | ٦,۵۰ | ۱۳ | ۱۰,۱۱ | ۹۱ | ۹ | ۱ |
| | | ۵,۵۰ | ۱۱ | ۱۰,۲ | ۱۰۲ | ۱۰ | ۱ |
| | | ٤,۵۰ | ۹ | ۱۰,۹۱ | ۱۱۱ | ۱۱ | ۱ |
| | | ۳,۵۰ | ۷ | ۹,۸۳۲ | ۱۱۸ | ۱۲ | ۱ |
| | | ۳,۵۰ | ٤ | ۹,۳۸۵ | ۱۲۲ | ۱۳ | ۱ |
| | | ۰,۵۰ | ۱ | ۸.۷۸٦ | ۱۲۳ | ۱٤ | ۱ |
| | | ۰,۱۵۰ | ۱ | ۸,۰۷ | ۱۲۱ | ۱۵ | ۱ |

دلته په ترتيب سره د (٦) بدلون منونکو واحدونو استعمال د فزيکي مجموعي توليد په ٤۹ واحدونو تمامېږي . حال داچې داووم واحد اضافه کول ټول ٦٤ واحدونو ته رسوي ددغو دواړو مجموعو تر منځ توپير. ۱۵=٦٤-٤۹ دی.

دا دهغه اضافي تولید یا اضافي فزیکي تولید ښکارندوی ده، چې د اووم بدلون منونکی واحد د په کارولو له امله منځ ته راځي. دیو عمومي مودل په توګه د تشدیدي او پراخیدونکې کارونې بریدونه په لاندې انځور کې ښودل شوی.

(۱۱-انځور)




له پورتني انځور څخه پوهېږونکی او پلانوونکی دا اټکل کولای شي، چې باید د یوې شتمنۍ او سرچینې کارونه کوم ځای کې ودروي، ځکه چې نور نو دده لګښتونه هم نه پوره کوي او دا هم اټکل کولای شي، چې چیرې باید تشدیدي کارونه ودروي. ځکه پرته له هغه دده د لوړې ګټې منحني بیرته مخ کښته رانه شي. لنډه دا چې تشدیدي کارولو کې د ډېر وړ ځای څخه ور هاخوا د ځمکې اقتصادي ظرفیت نه ښته او پراخیدونکې استعمال کې کېدای شي نوره ځمکه هم وي مګر زمونږ لګښتونه به زیات شي او تاوان سره به مخامخ شو. د بېلګې په توګه مونږ به دښته لرو، خو هغې ته به داوبو رسولو لګښتونه بې کچه لوړ لوېږي. نو کېدای شي دغه دښته خړ ځای ته پرېږدو. دا چې ځمکو ته هغه وخت اړتیا پیښېږي چې کله تر کار لاندې ځمکې خپل لوړ تشدیدي برید ته ورسېږي، بیا نو پراخیدونکې

کارونه پیل کېږي چې هغه د رومبني برید کارونه د نوي برید لګښتونه پوره کولای شي په دې توګه پراخیدونکی برید هرځو کاله وروسته له ځپل ځایه خوځېږي د سوداګرۍ سیمې پراخېږي او دا داوسیدلو سیمو ته خوځښت ورکوي. داوسیدلو سیمې کرنیزې کارونې ته خوځښت ورکوي. نړیوال تجارب ښیي چې د اوسنیو لویو ښارونو پراختیا همدا پړاوونه تیر کړي.

# د افغانستان د ځمکو لنډه کتنه او دکرنې

## لپاره دهغو کارونه

افغانستان د آسیا په لویه وچه کې پروت هېواد دی چې سمندر ته لار نه لري، دشمال عرض البلد د ۲۹ درجو ، ۳۰ دقیقو او ۳۸ درجو ۳ دقیقو او ختیز طول البلد ۶۰ درجو او ۳۰ دقیقو او ۷۵ درجو او ۵ دقیقو ترمنځ راغلی. دهېواد د مرکزي سیمو دغرونو لړۍ په واورو پوښلې ،خوختیځ ، سویل او سویل لویدیځ کې اورښت د باران په بڼه دی ، واوره نه پکې کېږي. په هېواد کې دکلني اورښت اندازه له ۱۲۰-۴۰۰ م.م. رسېږي. دهېواد ځینې سیمې لکه دهندوکش دغرو لمنې ، بامیان ، غزني اومیدان چې له سمندر څخه ۲۴۰۰ متره لوړوالی لري، اوږد ژمی (۶-۷ میاشتو پورې ) لري. ددغو سیمو کلنی منځنی اورښت ۳۰۰-۴۰۰ م.م. پورې دی. په ځینو نورو سیمو کې لکه په چخانسور کې د اورښت منځنۍ اندازه ۵۵ م م هم ثبت شوی په دې ډول د کال په بېلابېلو وختونو کې دهېواد بېلابېلې سیمې رازراز هوا او اقلیم لري. د تودوخې اندازه په مرکزي لوړو سیمو کې داوړي له خوا په منځنۍ ډول ۳۰-۳۴ سانتي ګرید او په همدغو سیمو کې ژمی ترټکې لاندې ۲۰ درجو یخنۍ ته رسېږي . په

ختیځ کې بیا ژمي ډېر سوړ نه دی، خواوړي په کې ډېر تود دی چې دچنګابښ او ژمري په میاشتو کې یې تودوخه تر ٤٥ سانتي ګریدو رسیږي. په ختیځ کې دژمي یخني یوازې او یوازې د مرغومي په میاشت له ټکي څخه پورته تر دوو را ټیټیږي ، آن دا چې ختیځې سیمې د مدیترانه یې ځانګړتیاوو لرونکې دی، دجنوب پراخه دښتې وچې او باد لرونکې دی، په دې توګه لیدل کیږي چې زموږ هېواد دراز راز اقلیم په لرلو د بېلابېلو کرنیزو توکیو ، بوټیو او ونو ، راز راز څارویو د روزلو لپاره غوره دی، له همدې امله ګڼ شمېر کرنیز بوټي پکې روزل کیږي چې بېلګې یې دا دي:

## ۱- غلې ، دانې او حبوبات:

غنم ، وریجې ، جوار ، وربشې ، مې ، ږدن، مستک ، جودر ، لوبیا ، نخود ، سپینه لوبیا ، یولاف ( دغه بوټي دهېواد له اقلیم سره ښه برابروالی لري ، خو ډېر دودنه دی) ،باجره ( غتیه او وړه دواړه ډېره ښه وده کوي، خو ډېره دود نه ده ، یوازې د څارویو د خوراکې لپاره کرل کیږي ) . دال او یو شمېر نور .

## ۲- سابه او صنعتي نباتات:

پټاټې ، پیاز ، پالک ، ګندنه ، مرچک ، دنیا ، هوږه ، ګازرې ، سپینې مولۍ ، سرې مولۍ ، ګلپي ، کرم ، کدو ، ترائي ، بنډۍ، مټر، شنه لوبیا ، شلغم ، نانا ، رومي بانجان ، تور بانجان ، بادرنګ ، شړشم ، لمرګلی ،ګني ، جغندر ، پومبه ، کوکنار ، تنباکو ، بنګ ، زیره ، کاهو ، کونځلې ، خرول ، په دې کې داسې بوټي هم شته چې ډېره ښه وده کوي ، خو ډېر دودنه دي لکه پارسلي شبد ، دغه راز په غرونو کې ځینې بوټي چې خوراکي ارزښت لري لکه ښیځی (سیچ) اوسپنۍ ( رواش) غرنۍ ژاولی ، ترخه ا و نور ددې تر څنګ په هېواد کې کبلې (علوفه) هم کرل کیږي لکه شوتله ، رشقه اوموت

چې د څارویو په خوراکه او روزلو کې ارزښت لري. پردې سربېره په غرونو او دښتو کې ګڼ شمېر طبي ، صنعتي بوټې لکه ارهنډه ، شرین بویه او نور هم موندل کېږي چې په زیات شمېر داسې بوټو علمي څېړنې نه دي شوي.

## ۳- میوې:

منې ، ناک ، انار ، شفتالو ، بهي ، شلیل ، آلو ، زردالو ، ختیکې ، هندوانې ، له ۲٦ ډوله څخه زیات انګور ، بادام ، پسته ، جنغوزې ، توت ، انځر ، زیتون (ښوون) او د ستروس د کورنۍ ټولې میوې ، ګیلاس ، املوک ، عناب ، سونځلې او نورې میوې . د یو شمېر سیمو وړو د لویو غرونو تر منځ په ښېرازو درو ، جلګو او شنو وادیو کې د کرنې تر څنګ څارویو روزنې ته هم پام ساتلی . په افغانستان کې روزل کېدونکې کورنې څاروي دادي:

پسونه ( عادي او قره قل د ډېر عالي جنسیت لرونکې ) ، وزې ، غواوې ، اوښان ، آس ، کچرې ، میښې ، خره او یو شمېر کورني الوتونکې لکه چرګان ، بتکې ، کیکر او پیل مرغ . له نیکه مرغه ګران هېواد د پورته یادوشویو شتمنیو په لرلو د پریمانه خوراکي توکیو د هستونې لپاره ډېر وړ دی . له همدې امله سره له ډېرو چاپېریالي ، ټولنیزو ستونزو بیا هم هېواد کې بشپړه لوږه یا دلوږې ښکارندوې (hunger, Under- nutrition, Malnutrition ) یوهم نه لیدل کېږي، آن دا چې هېوادوال د ډېرو نورو هېوادونو د وګړو په پرتله روغ ، رمټ د پوره جسمي او روحي روغتیا او ښه استعداد لرونکي دي.

سره له دې چې په کرنه کې وړ تکنالوژي نه ده دود ، پوره پوهنیزې څېړنې نه دي بشپړې، داوبو رسولو چارې نیمګړې دي، خو دغوره هوا ، خاورې ، رازراز اقلیم د لرلو له کبله د ډېر ښه څرنګوالي لرونکي توکي موندل

کېږي. تر اوسه پورې زموږ او خلکو په خپلو لومړنيو اسبابونو او د کرکيلي په کليوالی دود هغو سيمو کې چې سيندونو ته لنډې دي، خپلې کرکيلې ته ښه وده ورکړي. د بېلګې په توګه کندز، ننګرهار، کابل، لوګر، ميدان، د سهيل زيات شمېر ولايتونه د غلو، دانو په کرلو، کندهار، کاپيسا، پروان دراز راز ميوو په کرلو ډېر نامتو دي پر هوارو سيمو سربېره زموږ خلک په ناهوارو سيمو کې هم کرنه تر سره کوي لکه د کونړ غرنيو درو کې، د باميانو، غور او کاپيسا سيمو کې په ځينې سيمو کې غرنۍ او غونډۍ ډوله شګلنې لمنې د زينه ډوله کروندو په بڼه کرل کېږي، دغه ذکر شوې سيمې د پوره تشديدي کارونې ظرفيت لري، پر دې سربېره د هېواد په سويل کې پراخې دښتې د پراخيدونکي کارونې ښه پوره وړتيا لري، چې کرنيز توکي يې څو څو ځله زياتېږي پرته له غرونو، د هېواد هوارې سيمې تر خاورې لاندې دا ځانګړتياوې لري:

۱- Lithosole يا تيږې لرونکې ځمکې: دا هغه خاورې دي چې جګوالی يې ډېر لږ دی زياته برخه يې شګه او کوچنۍ برخه يې تيږې دي. لويې تيږې هم لري. دا د لويو غرونو لمنې او ډاګونه دي چې له هغو څخه په پسرلي کې د خاړويو درمو د پولو لپاره ډېره ښه ګټه اخيستل کېږي او يو شمېر بوټي او اغزي يې پر طبي او صنعتي ارزښت سربېره د سون لپاره هم کارول کېږي. په دغو سيمو کې کله کله للمي کرنه (Dry forming) هم تر سره کېږي، يا هم د اوبو د برابريدو په وخت کې خلک د هغو لويې او غټې تيږې ټولوي او کوچنۍ کوچنۍ کروندې پکې جوړوي چې د پراخيدونکو کارولو لپاره وړ دي. دغه غرنۍ لمنې يوازې د للمي غنمو د کرنې لپاره وړ نه دي، بلکې په ځينو سيمو کې ځينې نور کرنيز توکي لکه هندوانې هم پکې کرل کېږي چې غوره حاصل ورکوي په دې خاورو کې د توت، زردالو،

بادام او ارغوان بوټي ډېره ښه وده کوي.

۲- Alluvil یا هغه سیمې اوځمکې چې یووخت د سیندونو بهیر او تګلاره وه او یوې اندازې خاورې په کې رسوب یا احتکال کړی، دا ډېر ځله غوره او حاصل خیزې خاورې دی په تیره بیا په ځینو سیمو کې لکه د لوګر په ولایت کې د لوګر سیند دوو خواوته، او د پروان په ځینو سیمو کې ښه حاصلات ترې لاسته راوړل کیدای شي. په دغو خاورو کې د تولیدي عواملو د مناسب ترکیب او د ښه پرکتهس له امله کېدای شي دغه ځمکې د لوړ او ښه استعمال لاندې راشي.

۳- Regosols دا هغه ځمکې او سیمې دي چې خاوره یې د بادونو په مرسته منځته راغلې لکه مثلاً دشمال ولایاتو خاورې چې د اقلیم، داوبو د شتون اونورو له پلوه یو بل سره ډېر توپیرونه لري.

٤- Desertic یا سارایي سیمې لکه دهېواد سوېل ... ځینې سیمو ځمکې.

٥- Salin Alkali دا د ښوره لرونکو القلي خاورو لرونکې ځمکې دي لکه د هلمند وادي د نادر دښته او نور.

ځمکه په کرنیز اقتصاد کې د مهمې طبیعي منبع په توګه چې کرنه ور باندې کېږي د یوې سطحې په توګه مطرح ده چې د هغې مولدیت د هغې د خاورې د جوړښت، دعضوي موادو، اړین توکي او نورو له مخې ټاکل کېدای شي چې له دې پلوه د خاورې پوهنې دعلمي پوهنیزو څېړنو له مخې زموږ د هېواد ځمکې لاندې ځانګړتیاوې لري:

۱- دهېواد د مساحت زیاته برخه غرونه دي خو کومې سیمې چې هوارې دي او کرنیزې کرنې پکې کېدای شي هلته یو کمزوری او نا ټاکلي پر-وفایل انکشاف موندلی.

٢- خاوره خړ رنګه ، ایره رنګه‌او ځیني ځای نسواري ډوله وی.

٣- په پورتنی ډول پروفایل کې زیاته اندازه کلسیم او کاربونیت لیدل کیږي.

٤- د (٨) څخه لوړ PH.

٥- ډیر لږ عضوي مواد (تر ١-٢ فیصدو پورې)

٦- نو له همدې کبله کله چې وروسته تر خړوبولو خاوره وچیږي، ډیره کلکیږي (١) مګر سره له دې هم هیواد د خپل ټول مساحت په مقایسه کافي اندازه کرنیزې ځمکې Agricultural Area لري.

١- نقشه:

## د افغانستان د ملکي ویش نقشه



اندازه یې د افغانستان له ټول پراخوالی څخه چې ٦٥٢٢٢،٥ مربع کیلومتره دی ۳۹٦۱۰ مربع کیلو متره یا ٦۰،۷٪ ته رسیږي. خو عملاً ترکښت لاندې Arable land ساحه یې ۱۲،۱٪ ده. دهغې وروستي رسمي احصایې له مخې چې خپره شوې دهېواد ټول پراخوالی او دځمکې څرنګوالی داسې ښکاره کوي:

(٤) لښنلیک (جدول) : په ۱۳٦۸ کال کې په هېواد کې د ځمکو دول او مساحت

| دځمکو ډول | پراخوالی (زره هکتاره) | سلواله (د ټول هېواد پراخوالي ته په کتنه) |
|---|---|---|
| دهېواد ټول جغرافیاوي پراخوالی | ٦٥٢٢٢٥ | ۱۰۰،۰ |
| ۱- کرنیزې ځمکې | ۳۹٦۱۰ | ٦۰،۷ |
| الف- د کرنې وړ ځمکې | ۷۹۱۰ | ۱۲،۱ |
| تر کښت لاندې ځمکې | ۳۲٤۰،۲٥ | ٥،۰ |
| له هغې ډلې : د موقتي نباتاتو کرلو سیمه | ۳۱٤۰،۲٥ | ٤،۸ |
| د دایمي نباتاتو دکرلو سیمه | ۱۰۰ | ۰،۱ |
| د آبي کرنې سیمه | ۲۱٤۹،۲٥ | ۳،۳ |
| د للمي کرنې سیمه | ۱۰۹۱ | ۱،۷ |
| هغه ځمکې چې هیڅ نه کرل کیږي | ٤٦٦۹،۷٥ | ۷،۱ |
| ب- څرځایونه | ۳۰۰۰۰ | ٤٦ |
| ج- ځنګلونه | ۱۷۰۰ | ۲،٦ |
| ۲- نا کرنیزې ځمکې (په دې کې غرونه او غونډۍ هم راځي) | ۲٥٦۱۲،۰ | ۳۹،۳ |

اخځ : دافغانستان احصائیوي کالنی ، ۱۳٦۷ کال ، ۱۰۳ مخ

په دې توګه د ځمکې هغه منبع چې د تجدد وړ استعمال یا تر کرنیزې استفادې لاندې ده په دې ډول پیدا کېږي:

ج + ب + الف = د کرنیزې کارونې سیمه

۱۷۰۰ + ۳۰۰۰۰ + ۷۹۱۰ = ۳۹۶۱۰ زره هکتاره

۲ + ۱ = د هوار تولـه پراختیا

د طبیعي منابعو د اقتصاد د تیوري له مخې د ځمکې د منبع د فزیکي چوکاټ مطالعه ثابتوي، چې په هېواد کې کافي اندازه د ځمکې ساحه د کرنیز استعمال (نباتي ځمکې Crop land ، دڅرځای ځمکې Posture land او ځنګلونه Forest land) لپاره موجوده ده، خو پردې تولې (منبع) لاسبري نه شته. لکه چې لیدل کېږي د هېواد د تول پراخوالی ۷. ۶۰ په سلو کې سیمه هغه ځمکې دي، چې له منبسط استعمال سره یې تر کرنې لاندې راوستل شوني دي اما له دغې ساحې څخه تر اوسه د هېواد تول مساحت ۱ , ۱۲ فیصده د کرنې وړ بلل شوی، چې له هغې څخه ۲۵ , ۳۲٤۰ زره هکتاره تر کرنې لاندې ده، چې دا د تول هېواد صرف ۵ فیصده مساحت جوړوي. په دې توګه لیدل کېږي چې د اقتصادي چوکاټ د مطالعې له مخې ډېره کمه سیمه تر استفادې لاندې نیول شوې، یعنې د یو راخه فزیکي چوکاټ له جملې څخه په کمه اندازه کې کار، پانګې او منجمنټ ترکیب موندل شوي او علاقه ورته ښودل شوې د هېواد د تول مساحت پورتنی ۵ فیصده مساحه هم د ښه او اعظمي استعمال The best and higestuse لاندې نه ده راغلې لامل یې، داوبو د رسولو د سیستم نیمګړتیا، دټکنالوژۍ وروسته پاتې والی، د کرنیزو غوره میتودونو (تناوب د هرزه ګیاه کنترول ....اونور) دټرانسپورټ ستونزې او نور دي.

د طبيعي منابعو د اقتصاد له تيوري سره سم په افغانستان کې ځمکه دهغې په هر مفهوم سره تر ګټې اخيستنې لاندې نيول کېږي، لکه د ځای په توګه ، د طبيعت په توګه د توليد د لامل په توګه ، داستهيلاکي جنس په توګه ( په تيره بيا ښاري سيمو ) ، دموقعيت ، جايداد او حتی د پانګې په مفهوم سره. دغه راز د کار اخيستلو له پلوه موږ په خپل هېواد کې ځمکې په مسکوني ځمکو (Residential Land) تجارتي او صنعتي ځايونو (Commercial and indus trial Sites) کرنيزو ځمکو ، کانې او تپوليزو خدماتو په ځمکو ويشلای شو. خو په افغانستان کې تفريحي سيمې پرته له ځينو سيمو لکه کابل او کندهار نورو سيمو کې ډېرې نه دي مشخصې . دا چې هېواد زيات او پراخه هوايي ډګرونه ، د بيړۍ چلولو لپاره بندرونه ريل پټلې او د ريل ستيشنونه نه لري نو ترانسپورتي ځمکې يوازې د موټرو په لويو لارو پورې محدودې دي.

په ځمکو باندې د لاس بري له پلوه د F.A.O يوه تر سره شوې څېړنه د افغانستان کرنيزې سيمې د اقليمي شرايطو پر بنسټ پر شپږو زونونو په لاندې ډول ويشلې:

۱- شمالي زون: په دې زون کې بلخ فارياب ، جوزجان او سمنګان شامل دي. دا زون ۲۳۸۲۶۲۱ هکتاره زراعتي ځمکه لري چې اوس يې ۲۱٤٦٤۹ هکتاره شاړه ده او نوره يې تر لاس لاندې ده.

۲- شمال ختيز زون: د بغلان ، کندز ، تخار او بدخشان ځمکې دي چې ټولې ۱۱۷۰۰۱۷ هکتاره ساحه ده او اوس يې ٤٦۸۹ هکتاره شاړه ده. دغه ځمکې په وروستيو ۴۰-۵۰ کلونو کې تر منبسط استعمال لاندې راغلې آن دا چې يوه برخه يې د ډېرلوړ او اعظمي استعمال ببلګو کې

راتلای شي په تیره بیا هغه ځمکې چې صنعتي نباتات ( پنبه او سبو ) یا د نسبي مزیت لرونکې نباتات ( وریجې او خټکې ) پکې کرل کېږي خپلو څښتنانو ته لوړ عاید تولیدوي.

۳- ختیز زون: په دې زون کې لغمان ، کونړ ، ننګرهار ، او پکتیا شامل دي چې ټوله ۲٦٦٥۰۰ هکتاره آبي ، للمي کښت ته مساعده ځمکه لري خو له دې جملې ۱٤٦٧٤ هکتاره شاړه ده.

٤- ختیز مرکزي زون : د کابل ، کاپیسا ، پروان، میدان وردګ ، غزني، لوګر او پکتیکا . ولایتونه دي ټوله ٥٩٦۰۳٥ هکتاره کرنې ته مساعده ځمکه لري خو له هغې څخه ٥٥١٣٢٨ هکتاره په اوبخور او للمي توګه کرل کېږي خو ٤٤٧۰۷ هکتاره یې شاړه ده.

٥- لویدیز زون: چې کندهار ، سمنګان ، زابل ، هلمند او نیمروز ولایتونه په کې راځي د ټولې ٥٧٥٦٦٦٤ هکتاره کرنې ته مساعدې ځمکې څخه یې ۱۰۰۷۲٦ په للمي او اوبخور توګه کرل کېږي، نوره یې شاړه ده.

٦- شمال لویدیز زون: په دې کې هرات ، فراه ، غور او بادغیس شامل دي او د ۱۳٦٥٤۸۷ هکتاره د کښت وړ ځمکو له جملې یې ٦٤١٩۰۰ هکتاره اوبخور ٦٥۰۹۹٦ هکتاره یې للمي او ۷۲٥۹۱ هکتاره یې شاړه ده ( ... ) په دې توګه ګورو چې دځمکو اقتصادي اړانه دهغو فزیکي اړانې ته نه ده نژدې ، نو په دې توګه هم د منبسط استعمال سرحداتو Ex-tensive margins او هم د تشدیدي استعمال سرحداتو Intensive margins پورې کافي پوتانسیل شته .

دويمه نقشه :

## دافغانستان دځمکو دکرنيزې کارونې ښوونه :




لکه چې ليدل کيږي د اوبو لګولو د سيستم د بشپړې رغاونې لپاره ډېره اړتيا ليدل کيږي، ځکه زيات شمېر د کرنې وړځمکې بې اوبو پاتې دي. د اوبو د بندونو شمېر چې په (□) نښې سره ښوول شوي ډېر لږ دي. دښتې دهېواد په زياته برخه کې بې کرنې پرتې دي.

**يادونه:**

د ولايتونو د مونډلو لپاره دې (۲ نقشه) دکتاب دربيم څپر کي (۱- نقشې) سره په پرتليزه توګه وکتل شي.

ددې تر څنګ دا خبره د يادولو وړ ده چې زموږ په هېواد کې دځمکو د ښه کارولو او دکرنې د پراختيا لپاره موسساتې اډانه ډېره مرسته کولای شي. دا

ځکه چې دغه اډانه د پنځيزو سرچينو، د چاپيريال له شتمنيو اوزېرمو څخه ښې گټې وټې او ودې ورکولو ته هڅوونکې ده. په دې کې دخلکو دود، دستور، د تيرکول تجربې، عقايد، حکومتي قوانين، عادتونه، پوهنه، د کرنې د سکتور څېړنيزې او روزنيزې موسسې، اداري او داسې نور راځي. زموږ دخلکو په اند کرنه ښيرازي او خيرو برکت دی! شاړه پاتې شوې ځمکه بده انگيري. زموږ نيکونو (نجيبو آريائيانو) لا ډېر پخوا کرنې ته وده ورکړې وه او له دې لارې يې سوکاله، باعزته او هوسا ژوند درلود. زموږ د خلکو فرهنگ په کې په ځمکه کار کول او د کرکيلې دنده خورا ارزښت لري، په دې هکله بې شمېره متلونه لنډۍ، روايات او ولسي انگېرنې شته. زموږ په هېواد کې کرنه نه يوازې دا چې يوه بوختيا ده، بلکې د ژوند يوه بڼه ده. په هېواد کې دولتي پاليسيو، د ښاروالېو قوانينو او فرامينو تر ډېره بريده له ځمکې څخه ښه گټه اخيستنه هڅولې. د هېواد په رسمي اسنادو کې د پنځيزو سرچينو په هکله رسمي موادو ته ځای ورکړی شوی په دې برخه کې د افغانستان اساسي قانون د دويم څپرکی ۳۲ ماده حکم لري چې: دولت د چاپيريال ساتنې، د پنځيزو شتمنيو، سرچينو او زېرمو څخه د ډېرې ښې کار اخيستنې لپاره وړ پريکړې کوي او عملي کوي يې (۲۵) دا او سنی فزيکي پولې داقتصادي بريدونو له پراختيا سره مرسته کوي. له دې سره يو ځای د ځمکو د آبادولو، د اوسېدلو سيمو د ټاکلو او د سوداگرۍ او صنعتي سيمو د په ښه کولولپاره د ښاروالېو د ماستر پلان څانگيز کار کوي. د کرنې د وزارت هغه ببلابېل رياستونه چې دځمکو په هکله د پلان جوړولو، دهغو په هکله دڅېړنو په ترسره کولو بوخت دي، ماهر کدرونه لري. په هېواد کې يو شمېر د زده کړو ښوونځي او پوهنځي د لايقو کدرونو په روزنه بوخت دي نو ځکه ويلای شو چې د فزيکي او اقتصادي اډانې تر څنگ موسساتي اډانه هم سمه ده، خو دا برخه لا زيات زيار او پاملرنې ته اړتيا لري. بايد زيات شمېر ځمکې خپل ښه او دلوړ و کارولو بريد ته ورسيږي.

# څلورم څپرکی

## ځنګلونه

ځنګلونه د بشریت لپاره یوه لویه شتمني ده . ځنګلونه نه یوازې د وګړو لپاره ، آن دا چې د ډېر شمېر ژویو لپاره هم د ژوند د بنسټیزې اړتیا په توګه شمېرل کېږي ، دغه ژوي بیا د انسان لپاره یوه بېله شتمني بلل کېږي. په دې توګه ځنګلونه د ایکولوژي بنسټیزه برخه ده.

**ایکولوژي Ecology څه ته وایي ؟**

ایکولوژي له شاوخوا چاپیریال سره د یو ژوندي موجود ( انسان ، ژوي ، بوټي او آن کوچنیو مایکرو ژوندیو ژویو ) اړیکي دي (٦)

هېڅ ژوندی داستوګنې د یو چاپیریال له درلودلو پرته ژوند او پایښت نه شي لرلای. په پنځ کې ژوندي شیان یا په نا ژوندي چاپیریال ( لکه خاوره ، تیږې ، هوا ، اوبه او نورو ) کې وي او یا هم ژوندی چاپیریال ( لکه ونې ، بوټي ، څرځای ، ځنګل او نورو ) کې وي. په دې توګه ځنګل د ژوندي چاپیریال په توګه ارزښت لري.

**ځنګل پېژندنه:**

په بېلابېلو اخځونو کې ځنګل په بېلابېله توګه پېژندل شوی ، خو ډېره منلې پېژندنه یې داده:

**ځنګل (forest) د ونو (trees) بوټو ، پېچکونو (lianas) او**

**دکوچنیو ونه دوله بوټو (Shurbs) یوه نباتي ټولنه ده چې په یو ټاکلي وخت کې ټاکلی وربوی کې وي (٥).**

باید وویل شي چې د ځنګل ونې او بوټي باید پوره اندازه ګڼې او سره نږدې وي، که چیرې کم له کمه د یوې سیمې له ټولې برخې څخه په سلو کې لس یې هم ونو، بوټو نیولی وي ځنګل ورته ویل کېږي خو که له دې څخه د ونو ګڼوالی لږ وي بیا نو ځنګل نه دی. څومره چې دغه سلواله لوړه وي ځنګل بډای بلل کېږي. او په ونو، بوټو دغه پوښل شوې سیمه لږ تر لږه دوه جریبه یا یو ایکړ وي، له دې څخه کمه سیمه ځنګل نه دی، بلکې یوازې یو څو ونې به وي. که چیرې ځنګل د لارو، واټونو، سیندونو پرغاړه د پټارې په بڼه وي نو دغې سور باید لږ تر لږه ٢٠ متره وي او اوږدوالی یې باید ښه پوره زیات وي نو ځنګل بلل کېدای شي. ځنګل د پنځیزو شتمنیو د وټپوهنې له ویشنې سره سم یوه نوې کیدونکې سرچینه ده، سره له دې چې ددغې پوهنیزې څانګې له مخې هغه د کارولو د کمیدونکې ظرفیت له مخې د سوداګرۍ، اوسیدلو سیمو صنعتي سیمو او نباتي سیمو څخه په وروستۍ ډله کې راځي، مګر له ایکالوژیکي پلوه ډېر ارزښت لري، آن دا چې تر دې ټولو اوچت دی. ځنګلونه په پر له پسې ډول د ښه، اعظمي او تشدیدي کارولو وړتیا لري، مګر پراخیدونکې وړتیا یې د خاورې جوړښت، اقلیم، دځمکې نشیب (میلان یا ځوړ)، اوریښت او یو شمېر نورو فکتورونو پورې تړلې. له همدې امله په مصنوعي توګه د ځنګلونو کینول د یو شمېر فني لارو، چارو غوښتنه کوي. ځنګلونه په یو هېواد کې د یوې بډایې شتمنې او پانګې په توګه د ټولو نسلونو میراث دی چې ګټې وټې (میوې او لرګي) یې د هر نسل، خو په خپله پانګه (ځنګل او دهغه ژوي) د ټولو نسلونو شتمنۍ ده. که کوم نسل ځنګل سره بې غوري کوي او هغه ښه

ونه ساتي او راتلونکو نسلونو ته روغ پرې نه ښودل شي نو راتلونکو ته پر دي. ځنګل موږ ته لاندې ګټې لري:

## ۱-لرګي:

موږ لرګي د هرې ونې هرې برخې ته وايو، پرته له دې چې هغه د وتيز توکي په توګه وپېژنو، د لرګي عام مفهوم د wood سره برابر تول لرګي را اخلي. دا له ځنګلونو څخه تر لاسه شويو او آن دا چې کارول شويو لرګيو ته هم وايي چې پخوا له ځنګله څخه پرې او پروسس شوي لکه جوړې شوې څوکۍ، ميزونه، دروازې، کړکۍ، تير، ژغ، غابنوره په يوه ودانۍ کې کارول شوي لرګي، يوه زېرمه کې پراته (کوټه شوي کوړۍ) او نور، خو هغه لرګي چې له ځنګل څخه د کارولو په موخه د ځنګل وربوي کې د وتيز تو کې او شتمنې په توګه پېژندل کېږي. ښه به دا وي چې هغو ته د timber مانا په خپلو ژبو کې ولټوو، خو په پښتو کې تول همدا يونوم (لرګي) لري. لنډه دا چې timber يعنې د ځنګلونو هغه د لرګيو محصول چې وروسته پرې د پروسس بېلابېل پراوونه تر سره کېداى شي او پرته له لرګي (Wood) نور فرعي محصولات او اجزا هم درلوداى شي لکه د لرګيو بوره، شاخچې، او دسون ور خس، دړوکې، پاڼې، تراشل شوي ټوټې چې د سوځولو لپاره د کاغذ جوړولو لپاره، په پرس (فشار) سره د تختو جوړولو او نورو موخو لپاره کارول کېږي. له همدغو اضافي برخو څخه الکول، مصنوعي پلاستيک او راز راز د ګټې وټې توکي جوړېږي، نو په پنځيزه وټپوهنه کې د لرګي (Wood) پر ځاى د timber نومونه غوره او کره مانا لري او دا په وټپوهنه کې ډېر ارزښتمن محصول دی. په اقتصاد کې هغې ته timber resource هم ويل کېږي. چې دا هغه څو Multipurpose

سرچینه او شتمني ده چې د ودانیو جوړولو ، اسبابونو اونورو موخو لپاره کارول کېږي. دا دګټې وتې پوره سرچینه ده. په دې توګه لرګي یو له هغو لومړنیو اومو موادو څخه دي چې لومړنیو انسانانو ورڅخه ګټه اخیستې او له دې دومره لرغونتوب او په اوسنۍ پېړۍ کې له دې دومره تکنالوژیکي پر مختیا سره سره بیا هم په حیرانوونکې توګه لرګیو خپل ارزښت نه دی بایللی. آن په پنسل جوړولو ، روکش جوړولو ، کاغذ جوړولو ، دموټرو د باډیو په جوړولو ، نو یو صنایعو لکه فایبر جوړولو ، مصنوعي پلاستیک جوړولو کې یې اړتیا زیاته شوې، نن ورځ د لرګیو په کیمیاوي تجزیې سره له هغو څخه مصنوعي وریښم ، د سینما فلم ، قند اونور جوړېږي. په ګران هېواد کې د لرګیو دکارولو ارزښت دکورونو په جوړولو کې دی چې په سلو کې د اتیا کورونو چتونه د لرګیو تیرانو او تختو څخه جوړېږي ( پاتې یا ګاډر او سمنټ یا لکه کندهار ، هرات او بلخ کې ګنبدي دي ) په سلو کې ۹۹ دروازې ، کړکۍ ، کتارې او الماری له لرګیو څخه جوړېږي ( وسپنیزې کړکۍ او دروازې ډېرې لږ دي چې په دې وروستیو کې دود شوي ) . د لرګیو دځنګلونو پراخوالی په هکتارو یا جریبو ښوول کېږي. حال دا چې د ترلاسه شویو لرګیو د حجم واحد متر مکعب (m3) دی . له یو هکتار څخه د ترلاسه شویو لرګیو حجم او اندازې په واحد په پراخوالي کې دځنګل د مولدیت پوړ ښکاره کوي، خو دا به سمه نه وي چې ووایو ګوا کې دځنګل د لرګیو یا دځنګله محصول له هغو تولو ونو څخه عبارت دی، چې په ځنګل کې شته ، ځکه ثابتې ( روغې) ، ځوانې ، دودې په حال کې ونې پرې کول مجاز نه دی ، دځنګل محصول په یوه کال کې هغه ونې دې، چې د فنې ماهرینو له خوا د پرې کېدو وړ بلل کېږي چې هغه ډېر ژر د نویو نیالګیو په کینولو سره جبران کېږي. دځنګل یا دهغه د لرګیو محصول د یوې کروندې

د بوټو په څیر نه شي قیاس کېدای ، خو د میوه لرونکو ځنګلونو د ونو د میوو دحاصل اټکل د هغه ټول مقدار له محصول څخه عبارت دی، چې د یوه کال په ترځ کې پخېږي او ټولولو ته چمتو وي. دځنګل په مجموعي حجم کې زیاتوالي ، دهرې ونې په ښاخونو کې داوږدوالي او دهغې په پریړوالي کې د زیاتوالي مجموعه ده ، په دې توګه د ټول ځنګل په لرګیو کې بدلون دهغو دکلني منځوالي د زیاتوالي شاخص دی، چې دا په یوه کال کې دځنګل په ټول پراخوالي کې د یو هکتار یا یو جریب لرګیو په اندازه کې زیاتوالی دی. په ځنګلونو کې دلرګیو څرنګوالی اوڅومره والی په ځنګل کې په شنو ونو پورې اړه لري ( ځکه ځنګل د بېلابېلو بوټو ، ونو ټولنه ده ) په دې مانا چې په ځنګل کې کوم ډول (Species) شته ، نو ددغو ونو د سنجش او شننې له مخې دځنګل په یوه وربوي کې یې شمېرل تر سره کېږي. ددغه معیار له مخې د افغانستان سویل او دکونړ ځنګلونه په ډېر عالي کیفیت کې راځي. دلته له اقتصادي پلوه د ځنګله ترکیب د ونو د بېلابېلو انواعو او جنسرنو (Genes) له مخې ښوول کېږي، ځکه هر لرګی ( ارچه ، شیشم ، ښون ، توت ....) د خپل ارزښت له مخې توپیر لري. داقتصاد له نظره د یوه ځنګله د لرګیو تولید او محصول د لاندنۍ معادلې له مخې تر لاسه کېږي.

$$F_0 - X_f - X_f - L_f + q_f = F_1$$

پورتنۍ معادله کې:

$F_0$ - د کال په پیل کې دلرګیو زېرمه ،

$X_f$ - د کال په ترڅ کې د پرې شویو او بشپړ کارول شویو لرګیو اندازه ،

$X_f$ - د کال په ترڅ کې د پرې شویو لرګیو د کارول کېدو منځنۍ اندازه ،

$L_f$ - د ناروغیو ، چنجیو ، اورلګېدو او نور له امله له لاسه وتلي لرګي .

$q_f$ - د کال په ترڅ کې د لرګیو په زېرمو کې خالص زیاتوالی ،

F1- دراتلونکي کال په پيل کې د لرگيو زېرمې .

له بده مرغه زموږ په هېواد کې د لرگيو او ځنگلونو پرې کول په غير فني ډول تر سره کېږي چې ډېر زيات يې له لاسه وځي او په هېڅ کار نه لگېږي. آن دا چې ځينې ځنگلونه د دلالانو له خوا په ډېره لږه بيه ، پرته د فني کسانو او حکومتي څانگو له خبرولو بې اجازې په وروسته پاتې سيمه ييزو بڼو ، غير معياري او زانو ( مقياسونو ) پلورل او پيرودل کېږي. د بېلگې په توگه دوی د تيرانو ( دستک ) لرگيو لپاره کوږی واحد او مقياسي کاروي چې ۲۰ دانې لرگي کېږي او د چارتراشو لپاره د بار واحد په کار وړې چې په منځنۍ توگه دوه د ٤ مترو په اوږدولي ۶۰-۷۰ س. م سور لرونکي دي. او س خو دغه مقياسونه هم نه شته ، يو د لرگيو سوداگر څو تنه په مزدوري نيسي د ځنگل يوه برخه کې په خپله خوښه تړوله ورغ لرگي ورباندې پرې کړي بيا ددغو مزدورانو اجوره ورکړي ، وروسته دا لرگي د پيسو او کرايې په ورکولو هر ځای ته يې چې زړه وي وړي ، دغه سوداگر د لرگي اصلي بيه هېڅ نه پرې کوي. دغه لرگي اصلي مارکيټ ته په خپله افغانان نه رسوي ، بلکې په دې سوداگرۍ کې يو دريم لاس عمل کوي له اقتصادي نظره په دې ډول معاملاتو کې اصلي او زياته گټه د ميانجي Middleman جيب ته لوېږي. دغه روانه لړۍ د دې لامل کېږي چې دگران هېواد د ځنگلونو ډېر ارزښت لرونکي محصول له افغانانو څخه مفته له لاسه وځي او دا چې چاپيريال ته څومره زيان رسېږي دا بيله خبره نه غواړي.

## ۲ ) د هوا پاکوالی:

په نړۍ کې ورغ په ورغ د سون توکيو د سوځولو اندازه زياتېږي. د فابريکو او صنعتي تاسيساتو د شمېر زياتوالی ، د سگرټو ، تمباکو ،

ترانسپورتي وسايلو اونور شمېر ډېر شوی او د صنعت په بېلابېلو پړاوونو کې د عضوي تيلو د غير منظم سون له کبله هر کال په منځني ډول ۲۰۰ میلیونه تنه کاربن دای اکسايد ، ۵۰ ميليونه ټنه نور ډول ډول کاربن لرونکې غازونه ، ۱٤٦ ميليون تنه سلفر دای اکسايد او ۵۳ ميليون ټنه نايتريک اکسايد په اتوموسفير کې ورزياتېږي ! يوازې په تيرو پنځوسو کلونو کې د کاربن دای اکسايد اندازه په اتوموسفير کې په سلو کې له لسو تر دولسو زياته شوې . په تيرو پنځلسو کلونو کې د جامدو ذراتو Aerosols اندازه هم په هوا کې په سلو کې ۱۲ لوړه شوې چې دا په خپله هغه هوا ککړوي ، چې موږ يې سږو ته را کاږو ، پردې سر بېره دهوا دغه ناپاکي ځمکې ته دلمر د وړانگو درسېدو مخنيوی هم کوي او ورو ورو د اوزون په پوړ کې ماتولې راولي . په دې توگه په اتوموسفير کې داسې ناوړه بدلون اقليمي ناوړه بدلون را منځ ته کولای شي ، ددې پايله به دا اشي چې د لږ تودو سيمو ژمی لنډ او اوړی به يې ډېر تود او اوږد شي چې دا به زيات براس را منځ ته کړي او پايله به يې د ډېرو اوربښتونو کېدل وي ، د ډېر اوربښت له امله لږ تودې سيمې په ډېرو لمدبل لرونکو سيمو اوړي او لږ څه وچې سيمې به په پوره وچو سيمو بدلې شي دويجاړتيا Erosion لړۍ به چټکه شي ، قطبي کنگلونه به ويلې شي سمندرونه به لا پراخ او اوبه به يې زياتې شي او ډېرې ځمکې به لاندې کړي دا ټکل له مخې په سلو کې لس اوسنۍ وچه اوبه لاندې کولای شي . سږو ته د ککړې هوا د ننه کول د سږو د سرطان ناروغي پيښوي ، خو له نيکه مرغه ځنگلونه د يو چمتو فلتر په توگه کار ورکوي او دهوا په پاکولو کې خورا ښه اغېزه لري . ځنگلونه په ډېره ښه توگه گرد او دخاورو ذرې او نورې ناپاکې له هوا څخه لرې کوي د بېلگې په توگه يو جريب ځنگل د يو کال په ترځ کې ۳۰ ټنه دا ډول ناپاکي له هوا څخه کښته کينوي . ځنگل دورانوونکو

بادونو مخه هم نیسي او ډېر تند بادونه ورو کوي ځنګلونه او دهغو ریښې داوبو او سیلاوونو چټک بهیر کموي او دخاورو دوړلو او ورانۍ مخنیوی کوي په خپله دونو ریښې هوا ته د خاورو پورته کېدلو او د ګردونو مخنیوی کوي له همدې امله ځنګلونه (طبیعي فلتر) او (د ښارونو شین شریان) بلل کېږي چې دا یې یو غیر محسوس ارزښت دی چې په هېڅ ډول یې په مقداري توګه نه شو ښودلای، خو زښت ډېر ارزښتمن دی. د فوتو سنتز عملیه دونو په پاڼو کې ترسره کېږي، چې دهغې له امله زیات شمېر آکسیجن هوا ته خوشې کوي او په همدومره اندازه کاربن دای اکسایډ له هوا څخه اخلي.

له نیکه مرغه ځنګلونه یوه نوې کېدونکې شتمني ده چې د نویو نیالګیو په کینولو ځنګلونه نور هم پرخیدای شي.

**۳) د سیلاوونو، توندو بادونو او بارانونو د ویجاړونکي ځواک کمول:**

دځنګل دربیمه ګټه داده، چې هغه سیمې چې ډېر ځوړ (میلان) لري یا د غرو په لمنو کې پرتې دي یا هغه خاورې چې د غرنیو درو، خوړونو اوناوونو غاړې ته پرتې دي، تل د بارانونو په وخت کې شړېږي او نورو خواوو ته وړل کېږي یعنې د خاورو پراخه شړیدنه erosion پېښېږي.

همدارنګه هغه شمېر سیمې چې پر خاورې برسېر نه برخه کمه وي او دخپل جوړښت له مخې ځوانې دي یا یې د تیږو په سر طبقه کمه ده یعنې د خاورین پوړ ضخامت کم وي، نو دا ډول خاورې د سیلاوونو له امله وړل کېږي او بالاخره ځمکه لوڅېږي (بربنډېږي) په ځینو سیمو کې له همدې امله په سلهاوو تنه خاورو بیځایه او تخریب کېږي او بالاخره پراخې سیمې له خاورې لوڅې شي او له هر ډول استعمال څخه وځي. حال دا چې د ځنګلونو ریښې له یوې خوا ځمکه ټینګه ساتي او له بلې خوا د باران شدت کموي.

دارنگه د ځنګلونو موجودیت هغه بادونه چې ۸،۷ -۱٤ متره په یو ساعت کې چټکتیا لري یعنې له پنځمې درجې باد څخه اوومې درجې بادونو پورې ډېر ښه کنټرولوي او ددې ډول بادونو په ذریعه د خاورې د رغړولو او لېږدولو مخنیوی کوي. حتی ځنګلونه د خاورو د حاصل خېزۍ تخریب Fertility erosion مخنیوی کوي، په دې مانا چې ځینې وخت خاوره نه تخریبېږي یعنې د خاورې فزیکي کتله نه وړل کېږي ، خو له خاورې څخه هغې غذایې مواد ضایع کېږي حال داچې دځنګلو ریښې ددې ډول تخریب مخه نیسي او حتی دځنګل دونو د پاڼو توئیدل او په ځنګلي سیمو کې د ژوندیو اومایکروي ژوندیو جسمونو ژوند ددې ډول عضوي موادو د زیاتوالي لامل هم ګرځي هغه سیمې چې د ۱۵ - ۳۰ ٪ زیات میلان لري او خاوره یې هم شګلنه وي صرف دځنګل په واسطه یې د تخریب د مخنیوي امکان شته او بس. دلته دځنګلي ونو د ریښو له موجودیت څخه برعلاوه دا هم مهمه ده چې دځنګلي سیمو خاورې د اوبو دجذب لوړ ځواک لري، نو ځکه سیلاب نه رامنځ ته کېږي. دشدیدو ورانوونکیو بادونو د مخنیوي په برخه کې ځنګل ته د Wind break نوم هم ورکړل شوی. له بده مرغه دافغانستان جیولوژیکي جوړښت له لوړو غرنیو درو ، ډېرینو او ځوړو ناونو (اکثرتر ۳۰٪) څخه جوړوي چې په داسې سیمو کې دسیلاب خطر ډېر زیات دی او ددې سیمو د خاورې د تخریب حساسیت ډېر زیات دی لکه دهواد په سویلي اوختیزوسیمو کې، نو که ددغوسیمو ځنګل له منځه لاړ شي دغه خاورې په کمه موده کې له تخریب سره مخامخ کېږي مثلاً د یو آلماني متخصص (Pers.Comm) له راپور سره سم په کال کې ۳۰ زره ټنه خاوره یوازې په خوست کې ضایع او انتقالېږي چې ددې مخنیوي دځنګلونو په واسطه کېدای شي.

## ٤) دوحشي ژويو پناځای :

وحشي ژوي په خپله لويه شتمني ده . له دې کبله چې زيات شمېر ژوي او ونې بايوم طرز (Biome) ژوند لري نو ځکه دغه لويه قدرتي شتمني له ځنګلونو سره نژدې اړيکي لري. نن ورځ وحشي ژوي او په مجموع کې حيات وحش Wildlife په اقتصادي کې مهم ځای لري او دا ټول هغه ژوي ، بوټي او کوچني ژوندي موجودات دي ، چې په ځنګلونو کې پيدا کيږي. همدغه ژوي بيا د خپلو غوښو ، پوټکو اونورو له لحاظه انسانانو ته اقتصادي ارزښت لري. الوتونکي مرغان د ځنګلونو په ونو کې ځالې جوړوي او هلته نور نسلونه توليدوي ، ځينې ژوي لکه پړانګان او زمريان په ځنګلونو کې ژوند تيروي او ځنګل د هغوی هبيتات تشکېلوي. نو د ځنګلونو په نشتوالي کې دغه ژوي چې په خپله مهم ثروت دی له منځه ځي .

## ٥) دخوړو توليد:

بشريت له ځنګلونو څخه تر لاسه کېدونکو غذايي محصولاتو ته حياتي اړتيا لري ، په تيره بيا په وروسته پاتې هېوادو او په هغو شمېر سيمو کې چې ... شمېر ميوه لرونکې ځنګلي ونې ( لکه چارمغز ، جلغوزې ، بادام ، پسته ، غرني ګيلاس اونور ) لري دغه طبيعي منبع هغوی ته اقتصادي ارزښت لري ، سربېره پردې په ځنګلو کې ښکاري حيوانات ، مرغڅې او نور هم پيدا کيږي . داچې ځنګل د ايکوسيستم مهم توک دی ،د طبيعي منابعو د تيورۍ له اړخه غوره برېښي . په دې توګه ځنګلونه يا نيغ په نيغه او يا په غير مستقيمه توګه دغذايي موادو د توليد منبع ده. زموږ په هېواد کې دځنګلي ميوو بيه ډېره اوچته ده او په بهرني تجارت کې مهم صادارتي

توکي شمېرل کېږي مثلاً په ۱۳٦۸ کال کې د پستې یو کیلو بیه ٦,٧ ډالره، یو کیلو بادام ٤,٤ ډالره یو کیلو چارمغز ٦,٢ ډالره ښوول شوې او په همدې کال کې یوازې ٦٣۰۰۰ تنه دغه محصولات بهرته صادر شوي (۲٥) په ریښتیا چې همدومره دننه په هېواد کې هم مصرف شوي چې دا ټول دځنګلونو محصولات ګڼل کېږي چې په ملي اقتصاد کې یې ارزښت ډېر لوړ دی دغه راز ځنګلونه د ربړ تولید کې هم خورا ارزښت لري.

## ٦) دچاپېریال دموازنې ساتل:

په تیره بیا دشلمې پېړۍ له پنځوسمو کلونو را هیسې په نړۍ کې دچاپیریال ستونزې مخ په زیاتیدو شوې او بشریت د Green house effect زیان ته متوجه شوي. د زیات شمېر علمي څېړنو په پایله کې زبات شوه چې دهوا ککړتیا (Pollu tion) دانسان ژوند له خطر سره مخامخ کولای شي.

له نیکه مرغه پوهنیزو څېړنو دا هم زبات کړې، چې ځنګلونه دغه ستونزه ډېره ښه حل کولای شي یووخت چین او لویدیزه افریقا (ګاتا، ګابون، لایبریا، نیرایون د عاج سمندر غاړې)، ختیزه آسیا (فلپاین، مالیزیا، اندونیزیا، ویتنام، کمبودیا، تایلینډ) دټول مساحت ۹۰ فیصده برخه ځنګلونو پوښلې وه چې ددې سیمو اقلیم، د Wild life، د چاپیریال پاکي اونورو مسایلو ډېر ښه حالت درلود، خو څه نا څه له اوه نیم سوو کالو راهیسې انسانانو یا په بیرحمۍ دغو ځنګلونو ته اور اچولی یا یې تخریب کړي چې په نتیجه کې په طبیعت کې نا انډولي پیل او چاپیریالي ستونزې را منځ ته شوې. ډېر ځله درې ډوله ککړتیا د بشریت لپاره زیاتې ستونزې پیدا کړي.

۱- گرد اوغبار ، ۲- گازونه ، ۳- کیمیاوي مرکبات لکه حشره وژونکي او نور.

د کیمیاوي مرکباتو په مرسته پیښ شوی خطر ددغو مرکباتو په تېره بیا د DDT مرکباتو او د pb توکیو لرونکیو مرکباتو داستعمال دکمولو په مرسته رفع کېدای شي مگر د ککړ تیاوو نورو ډولونو مخنیوی یعنې له گرد ، غبار او گازونو څخه هوا پاکول د ځنگله په واسطه کېدای شي او په دې توگه دهوا داجزاوو توازن بیرته رامنځته کېدای شي. همدارنگه ځنگلونه د باران د وریدو په اندازه د اوبو او هوا د تودوخې د درجې په بدلون کې ښه اغیزه لري مثلاً د ځنگلي چاپیریال او د ځنگل شاوخوا سیمو د تودوخې درجه د نا ځنگلي چاپیریال په پرتله د سانتي گیرید لس درجې سړه وي او د ځنگلونو د چاپیریال دنسبتي لمده بل درجه د نا ځنگلي چاپیریال په پرتله په سلو کې لس زیاته وي نو ځکه د ځمکې پر مخ د وچکالۍ د نه پیښېدو او د تودوخې د برابرتیا او توازن په برخه کې ډېر اغېزمن دی . ځنگلونه په چاپیریال کې یو بل دا تاثیر هم لري چې له لوړو ارتفاعاتو څخه دواورې د ښویېدو او حتی په خپله د ځمکې د ښویېدو مخنیوی کوي او په طبیعت کې د لمدبل د توازن په برخه کې د خپلو ریښو له کبله تر ځمکې لاندې داوبو سطحه لوړه ساتي.

## ۷- دسون مواد :

موږ پخوا له ځنگلونو څخه لرگي د مهم محصول په توگه یاد کړل . باید ووایو چې لرگي د ځنگلونو هغه محصولات وو چې دصنعتي پروسس یا د ودانیو او وسایلو ( میز ، څوکۍ ...) لپاره په کارېږي ، حال دا چې د ځنگلونو د سون مواد هغه محروقاتي توکي دي چې په تېره بیا زموږ

دهېواد په کليوالي سيمو کې ورځخه ګټه اخيستل کېږي لکه د سون وړ پاڼې ، خس ، خاشاک کوچنۍ څانګې او نور. لکه چې پوهېږو د طبيعي په منابعو اقتصاد کې دانرژۍ منابع (Energy Resources) په دوو برخو ويشل کېږي: د سون Fuell او نه سون non-Fuel منابع د سون منابع بيا په خپله په نورو برخو لکه Fossil Fuel ،تيل Oil ، ګاز gas او خس (هيزم يا Timber fuel) باندې ويشل کېږي. لکه زموږ په کليوالي سيمو کې يو پنډ د ځنګلونو تويې شوي پاڼې د پخلي او کوټو تودولو ته بس دي . دغه راز سکاره د ځنګل هغه محصولات دي چې پرته له سون بل څه ته نه په کارېږي. دافغانستان د خلکو په سلو کې ۸۰ د سون مواد له ځنګلي منابعو څخه او نباتي منابعو تر لاسه کېږي. حتی ځينې داسې بوټي چې بشپړې ونې نه دي لکه ساکسون د سون لپاره استعمالېږي. غوره خبره او مهم شرط دادی چې دسون لپاره بايد بيکاره ، وچ ، مات شوې او لويدلي ښاخونه ، تويې شوي پاڼې ، آفت وهلي ښاخونه او داسې نور اضافي د سون مواد کورونو ته يوړل شي د ثابتو او سالمو ونو پرې کول د سون لپاره سم کار نه دی.

## په اوسني وخت کې د ځنګلونو ارزښت :

په اوس مهالي پېر کې انسان په تخنيکي او کيمياوي کړنو د چاپيريال په زيرمو او طبيعي منابعو داسې هجوم وروړی ، چې د نوې کېدونکيو منابعو حاصلات يې خپلو سرحدونو ته نژدې کړي . هغه سيمې چې پخوا ۹۰ فيصده په ځنګلونو پوښل شوې وې زيات استعمال له امله ۵ په سلو کې ته را ټيټې شوي. انسان د ساينس او پر مختللې ټکنالوژۍ په مرسته زيات شمېر توکي او دهغو مرکبات د بېلابېلو موخو لپاره تر کار لاندې را

وستې هغه وسایل به چې پخوا له لرګي wood څخه جوړیدل لکه څوکۍ میزونه ، د تجارتي مالونو صندوقونه ، الماري ، کوټ بندونه حتی کتارې کړکۍ او دروازې اوس ډیر له وسپنو او آن له پلاستیک څخه جوړیږي. د کیمیا او استخراج د پوهنو په مرسته آن د توکیو بدلون شوني دي لکه د موټرو په جوړولو کې د اوسپنې پرځای په زیاته اندازه پلاستیک کارول کیږي او له بلې خوا ینې مواد لکه وریښم ، سفنج ، ربړ او یو شمیر نور په مصنوعي توګه جوړیږي. خو له دې سره سره ځنګلونو او دهغو محصولاتو ( ربړ ، لرګیو ، غذایي موادو ، ډینګریو او نورو ) خپل ارزښت نه یوازې بایللی نه دی بلکې زیات شوي هم دي. دا چې د معاصر وخت یوه لویه ستونزه د چاپیریال ککړتیا ده نو د ځنګله لوی اهمیت د ذراتو او ګرد جذبول ، د هوا تصفیه او د ډیر آکسیجن آزادول دی. همدارنګه د ځنګلونو یو مهم محصول لرګي دي چې هغه لاندې خواص لري:

**الف )** کم کثافت او سپکوالی ،

**ب )** په آسانې تراشل کېدل او رنګول یعنې د صنعتي پروسس د مراحلو آسانتیا ،

**ج )** زنګ نه وهل ، د زهریت او نورو منفي جانبي عوارضو نه درلودل ،

**د )** په اوبو کې نه ډوبیدل ،

**هـ )** په هغه کې د نورو عناصرو لکه فلزاتو د پرزو کلکول او ځای پر ځای کول ،

**و )** د لمر په وړاندې کلکوالی ،

**ز )** ښکلا او طبیعي والی ،

**ح )** له پلاستیک سره نه بدلیدل ،

**ط )** د ترموالی زیات دوام او داسې نورو ځانګړنو له مخې په صنعت

کې خپل ارزښت لري په تیره بیا په ښکلیو جوړونو (مستظرفه صنایع) کې نن د لرګي استعمال زیات دی.

د یو اقتصادي قانون له مخې هر جنس چې کمیاب دی ارزښت یې زیات وي ، نو دا چې ځنګلونه په کم پراخوالي موجود دي نو محصولات یې لوړ ارزښت لري. ځنګل او د هغه محصولات نور فرعي توکي لري چې دهغو ارزښت هم لوړ دی مثلاً د ارې بوره ، د ونو کنه (صمغ) ربړ، دځنګل یو اهمیت دا هم دی چې د بیا رغیدونکی او نوی کیدونکی دی ، حال دا چې کانونه او له هغوی څخه ... تر لاسه کېدونکې توکي دا ځانګړنه نه لري. له همدې امله او سمهال د ځنګل اهمیت خورا لوړ ارزول کېږي چې د یوه چارټ په واسطه ښوول کېږي.

## د افغانستان مهم ځنګلونه او دهغو زون بندي:

د ځنګلونو د ویش او زون بندي لپاره بېلابېلې لارې شته مثلاً ستن پاڼې او پلن پاڼې ځنګلونه ، غرني او دهوارو سیمو ځنګلونه او داسې نور. زموږ په هېواد کې د پستې د ونو ، د چنارو ونو ، د بادام ، جلغوزې ، زیتونو ، څېړۍ ، بلوطو ، لمنځو او یوشمېر نورو ونو ځنګلونه شته (نقشې دې وکتل شي). دا رنګه زیات شمېر ځنګلونه شته چې د ونو د ډولونو له مخې

ویشل کېږي. دافغانستان د ځنګلونو دصنعتي لرګیو اندازه نهه ویشت میلیون مکعب متره اټکل شوې.

## ځای، پراخوالی (موقعیت مساحت)، ډولونه او ساتنه:

د ځنګلونو د ساتنې د طرحې له برابرولو له مخې د ځنګلونو موقعیت باید په نښه شي، په دې هکله یې مهم موقعیتونه دادي:

### ۱) د کونړ ځنګلونه:

دکونړ ځنګلونه چې په ځینو ځېرنو کې د نورستان د ځنګلونو په نوم هم یاد شوي دافغانستان خورا مهم تجارتي او اقتصادي ځنګلونه ګڼل کېږي ددغو ځنګلونو ټولیز پراخوالی ۳۳۲۵۰۰ جریبو ته رسیده او دصنعتي لرګیو اندازه یې له ۱۹۷۹ کال څخه مخکې ۲۵ میلیون مکعب متره و. د ۱۹۷۳ کال د څېړنې له مخې ددغو ځنګلونو د لرګیو تولیدي قدرت نږدې ۸۶۰۰۰ مکعب متره تجارتي لرګي وو. د کونړ ځنګلونه د ترکیب له پلوه د ډول ډول ونو درلودونکي دي چې خورا مهم یې دادي:

**الف)** پاڼریژې ونې: لکه غوزان (چارمغز) ریمه، پخه چنار او دغندق ونې.

**ب)** پلن پاڼې تل شنې ونې لکه دڅېړیو ونې.

**ج)** ستن پاڼې تل شنې ونې لکه لمنځه، بیجور، سرپ،

نښتر ، ارچه او نور.

**د )** یو شمېر دوحشي زیتون ونې .

**هـ )** د Eucalyptus یو کالپنیو سي ونې په تېره بیا چې دکونړ دسیند پر غاړه د ۱٦٥ هکتاره سیمه کې کینول شوي او مصنوعي ځنګل یې جوړ کړی.

**و )** ونه ډوله بوټي او پیچکونه چې په هر بېلابېل ځنګل کې ددغو نباتي جامعو جز دی. په کونړ کې هغه سیمې چې نامتو ځنګلونه لري دادي: مروره ، دانګام دره ، شاړ خوړ ، غزباغ ، ساوخوړ ، کاځکل ، اپاتی ، شیر ګل خوړ ، دناړې خوړ ، کلاګل ، شین کوړک ، څوکۍ ، مریت دره ، هیلګل دره ، څرنګ ، نانګل ، چنیارخوړ ، کامدیش ، پیج دره ، اسمار ، سینګل ، اډب خوړ ، برګمتال او داسې نورې سیمې ( « ۳ » انځور نقشه دې وکتل شي )

## ۲- د ننګرهار ځنګلونه:

د ننګرهار په ولایت کې نږدې پنځلس زره جریبه ( ۳۰۰۰ هکتاره ) ځمکه دځنګل په واسطه پوښل شوې دلته هم د کونړ په شان یوه برخه طبیعي ځنګلونه او یوه برخه مصنوعي ځنګلونه دي. ددغو ځنګلونو د تولید ظرفیت ۱۷۰۰۰ مکعب متره لرګي دي. د طبیعي ځنګلو مهمې ونې یې لمنځې ، نښتر او جنغوزي ، بادام ، او د مصنوعي ځنګلونو مهمې ونې اکلیتوس او زیتون دي.

(٥) لښتليک: د ننګرهار ولايت دځنګلونو موقعيت او ساحه

| د ځنګلونو ډول | موقعيت | ساحه (هکتار) | په جريب |
|---|---|---|---|
| طبيعي ځنګلونه | دنورن | ١٣٠٠٠ | ٦٥٠٠٠ |
| | نازيان | ٣٠٢٨ | ١٥٤١ |
| | د خوګيانو ځنګلونه | ٢٥٠٠٠ | ١٢٥٠٠٠ |
| | حصارک | ٢٠٠٠ | ١٠٠٠٠ |
| | شيرزاد | ٤٩٠٠٠ | ٢٤٥٠٠٠ |
| | هسکه مېنه | ٢٠٠٠ | ١٠٠٠٠ |
| مصنوعي ځنګلونه | جمهوريت بڼ | ١٠ | ٥٠ |
| | غلام حيدر خان بڼ | ٤,٢٣ | ٢١,١٧ |
| | دعلي بڼ | ١٤,١٥ | ٧٠,٧٤ |
| | د ماما خېلو بڼ | ١,٢٠ | ٦ |
| | د غلام حيدر خان د بڼ شمال لوري ته مصنوعي ځنګل | ٢٧,٦ | ١٣٨ |
| | په ګمبېري کې مصنوعي ځنګل | ٢٤٢ | ١٢١٠ |
| | د سرخاب د پله ځنګل | ٧ | ٣٥ |
| | د درونټې د غونډۍ بڼ | ١,٨ | ٩ |

## ٣) بادغيس:

د بادغيس ځنګلونه چې د هندوکش په شمالي لمنو کې پراته دي د يوه اوږده کمربند په توګه له بډخشانه تر بادغيس پورې پراته دي. دهبواد په

اقتصادکې دهغو ارزښت خورا زيات دی. دغو ځنګلونو يوميليون او پنځه سوه زره جريبه سيمه نيولې او هر کال تقريباً ۲۸۶۰۰۰ منه د پستې حاصل ورکوي چې همدغه اندازه پسته نړيوالو بازارونو کې دوه ميليون ډالره بيه لري.

## ٤) د پکتيا اوسويلي سيمو ځنګلونه:

ددغو ځنګلونو مساحت ۷٤٥۰۰ جريبه ځمکې ته رسيږي چې دلرګيو د توليد ظرفيت يې تقريباً دوه ميليونه مکعب متره اټکل شوې. ددغو ځنګلونو مهمې ونې لمنځه ، نښتر ، بيجور ، سرپ ، څېړۍ او يو شمېر وحشي زيتون ( ځاځي ميدان کې ) دی.

## ٥) د هېواد د مرکزي سيمو ځنګلونه:

دغه ځنګلونه زياتره پاڼريزې ونې لکه چنار ، ولې ، توت او نور دي دهغو مساحت نه دی اټکل شوی اونه يې ظرفيت ثابت دی. په تيره بيا دچنار ځنګلونه په منځني ډول هر درې کاله وروسته دتيرانو له پاره وهل کيږي بيا په منځني ډول د ٤ مترو په اوږدوالي او ۱٥-۳۰ سانتي مترو په قطر پلورل کېږي. دغه ځنګلونه په ميدان ، وردګ ، لوګر ، غزني ، باميان ، کابل او پروان کې موقعيت لري ( « »د انځور نقشه دې وکتل شي)

## ٦) دهېواد د سويل او لويديزو سيمو ځنګلي بوټي او اغزي:

دهېواد سويل او سويل لويديځ ( نيمروز ، هرات ، فراه او هلمند ) په دښتي سيمو کې زيات شمېر اغزي ډوله بوټي لکه ګزونې ، دساکسول بېلابېل ډولونه ، اسکميل ، سوادا ، ستاکسيا ، عناب ، انيوش ، زايګو يلم ،

دودنیا ، گون ، مونج ، غوزبه او نوري دا ډول تیټ قدي بوټي ګڼ ځنګلونه جوړوي چې د wook lands په نوم یادېږي ، چې د سون مواد و ، طبي دانه بابو دخوړولو توکي ( عناب ) د وحشي ژویو ژوند ، پراقلیم میشتې اغېزې او د خاورې ساتنې له پلوه ډېر اهمیت لري ( « » انځور نقشه دې وکتل شي )

د طبیعي منابعو داقتصاد تیوري دطبیعي منابعو د هرې برخې او له هغې جملې دځنګلونو د ساتنې پالیسي ښیي . ځنګلونه د بشریت لپاره د با ارزښته او غني شتمني ده چې باید راتلونکو نسلونو ته وساتل شي . له ځنګلونو څخه غیر علمي استفاده او دهغو لوڅېدل او له منځه تلل ستر زیانونو لکه دهغو د غذایي موادو کموالی ، د یو شمېر وحشي ژویو له منځه تلل چې په ځنګل کې ژوند کوي د طبیعت په موازنه ناوړو اغېزو ، د خاورو تخریب ، د چاپیریال د ککړتیا زیاتیدلو او داسې نورو ستونزو لامل کېدای شي . دځنګلونو د ساتنې په هکله سپارښتنه کېږي چې : د ځنګلونو اداره او منجمنت او په هغو کې دځنګل بانانو ګومارل ، دپرې شویو ځنګلونو بیرته احیا Restoration دځنګلونو په برخه کې دفني کروندو روزل ، د ځنګلونو دونو د آفاتو او ناروغیو په کلکه مخنیوي ، ځنګلي سیمو ته په نږدې سیمو کې د داسې قوریو جوړول چې زیات شمېر نیالګیو د تولید جوک ولري په ځنګلونو کې د پسونو په تېره بیا د وزو د رمو له پوولو څخه چې دوی معمولاً دنویو نیالګیو او دودې په حال کې نورو بوټو څوکې خوري په پایله کې د زیات شمېر ونو د ودې مخه نیسي . همدارنګه ښه به وي په هغو سیمو کې چې محلي خلک د ځنګل له لرګیو څخه د سون موادو په توګه استفاده کوي . د نورو انرژي منابعو لکه بریښنا ، ګاز او نورو اسانتیاوې برابرې شي .

دا چې بشریت خامخا اړ وي دځنګلونو له محصولاتو څخه استفاده

وکړي نو لازمه ده له ځنګلونو څخه په علمي او فني توګه ګټه واخیستل شي. د ځنګلونو د محصولاتو د له منځه تللیو کلک مخنیوي وشي مثلاً ۷۰ په سلو کې لرګي د پرې کېدو له وخته بیا د اره کشۍ تر وخته ضایع کېږي. په ځنګلونو کې داور له بلولو څخه باید په کلکه ډډه وشي.

له ځنګل څخه ګټه اخیستنه باید د ایکوسیستم د متقابلو اړیکو په نظر کې نیولو سره تر سره شي، یعنې زموږ مداخله د ځنګل په برخه کې باید د ځنګل پېژندنې او علمي میتودونو پر بنسټ ولاړه وي. ښه به وي. له ځنګلونو څخه د څو ډوله ګټې اخیستنې پر نسیب Multiple use Concept رعایت شي یعنې له ځنګلونو څخه یوازې دلرګیو د پرې کولو پر ځای باید له هغو څخه د وحشي ژویو دروزلو .د هوا خوري او ساتیرۍ ، د توریزم ځایونه ، د څارویو څرځای ، د خاورې د تخریب مخه نیونکي اونورو موخو لپاره ګټه واخیستل شي وروستی پر نسیب د یو ډول استفادې پرنسیب په پرتله ډېر اقتصادي او حیاتي دی . تر دې هم مهم آر د ځنګله په ساتلو کې دادی : له دې کبله چې یو زیات شمېر خلک د بې وزلۍ له امله د ځنګلونو لرګي پرې کوي او هغه پلوري نو دا هم مهمه ده چې هغو خلکو ته دنورو کارونو خصوصاً کلیوالي تشبثو لکه مچۍ روزلو ، چرګانو روزلو ، للمي کرنې او داسې نور مدرکونه برابر شي. د ځنګل په ساتنه کې د ثابت دایمي محصول د پر نسیب Sustained yield Concept په پام کې ساتل ، بله د ساتلو لاره ده په دې مانا چې : د ځنګل له محصولاتو څخه باید داسې ګټه واخیستل شي چې استفاده شوی

ظرفیت بیرته دنیالګیو د کینولو او احداث له امله پوره شي او دغه انډول د اوږدې مودې لپاره سم شي تر هغو چې دځنګل تولیدات تلواله بنه ومومي. ددې موخې لپاره باید پوهنیز بنسټونه او مقررې وټاکل شي. له ځنګلونو څخه د استفادې ناوړ وسایل او د غیر فني کسانو په لاس د ځنګلو د محصولاتو تر لاسه کول ددې سبب کیږي چې د ضایعاتو فیصدي لوړه شي نو ښه به وي چې د سامان او ابزارو ښه والی او د کارکونکو مهارت ته هم توجه وشي ددغو ټولو ټکو په نظر کې نیولو سره د ځنګلونو ساتنه تضمین کیدای شي. په افغانستان کې ځنګلونو د ټول هېواد د پراخوالي ۱۷۰۰۰۰۰ هکتاره ځمکه نیولې چې د ټول هېواد د مساحت ۲,۶ فیصده جوړوي (۲۶)




۳) نقشه: دهېواد د غوره ځنګلونو زون بندي

(٦- لښتليک) : دهېواد په بېلابېلو سيمواو ولايتونو کې دځنګلونو اندازه ( په هکتارو )

| د ولايت نوم | دځنګله پراخوالی په هکتارو | سلواله يې |
|---|---|---|
| کابل | ۳۰ | ,۰۱ |
| کاپيسا | ٤١٦٠ | ,۰۲ |
| پروان | ٤٨٠ | ,۰۱ |
| وردګ | ٤٠ | ډېرلږ |
| لوګر | ۳١٤٠ | ۰,۱ |
| غزني | ۲۹۰۰۰ | ١,٥ |
| پکتيا | ٥۳۷۲٦٠ | ۲۷ |
| ننګرهار | ١۳٤٨٦٠ | ٦,٨ |
| لغمان | ٥۷٦٨٠ | ۳,۰ |
| کونړ | ۲۰٨٤۰۰ | ١٥,٥ |
| بدخشان | ۹۰۰۰۰ | ٤,٥ |
| تخار | ٤۹۷۰۰ | ۲,٥ |
| بغلان | ٨۷٥٤٠ | ٤,٤ |
| کندز | ۳٤۹٤٠ | ١,٨ |
| سمنګان | ١۳۷۷۰۰ | ۷,۰ |
| بلخ | ۷۰۹۰۰ | ۳,٦ |
| جوزجان | ۲٨۷۰۰ | ۳,٤ |
| فارياب | ۷٦٦٨٠ | ٤,۰ |
| بادغيس | ١٤۹٥٦٠ | ۷,٥ |
| هرات | ٤١٦٤٠ | ۲,١ |

| | | |
|---|---|---|
| فراه | ۲۰۰۶۰ | ۱,۰ |
| نیمروز | ۹۷۲۰ | ۰,۵ |
| هلمند | ۵۵۸۰ | ۰,۳ |
| کندهار | ۵۶۰۰ | ۰,۳ |
| زابل | ۲۰۰ | ۰,۱ |
| ارزگان | ۷۸۰۴۰ | ٤,۰ |
| غور | ۲۲٤٤۰ | ۱,۱ |
| بامیان | ۳۲۰۰ | ۰,۱ |
| ټول | ۱۹۸۷۵۲۰ | ۱۰۰ |

هغه ونې او اغزي دوله ټيټ قدي بوټي چې دهېواد ځنګلونه يې رامنځ ته کړي:

بلوط ، صبر ، سرو ، صنوبر ، سدر ، ښوون، بکيانه ، اکليپټوس غوزاسکی ، توت ، وله ، چنار ، بيجوز ، سرپ ، لمنځه ، او بخت ، گز ، ښبتر اسکميل ، ساکسون ، پسته ، بادام ، غوزان ، ارچه ، شيشم او يو شمېر نورې ونې.

# پنځم څپرکی

## څرځایونه

څرځایونه (range یا pasture مراتع) په تیره بیا په هغو هېوادونو کې چې دڅارویو روزنه یې په ملي اقتصاد کې ډېره ونډه ولري، ددوی دملي اقتصاد دخپلواکۍ ستنه جوړوي. څرځایونه هغه ستره او باارزښته شتمني ده چې له څو څو اړخونو د پام وړ بریښي.

**د څرځای پېژندنه :**

څرځای د ځمکې هغه شنه پراخه برخه ده چې د علوفه یې او خشبي (واښه او لرګین کوچني بوټي) یوکلنو یا څو کلنو بوټو (an nual and pernual plants) لرونکې وي چې څاروي د خوړلو لپاره ورڅخه ګټه اخلي. د پنځیزو شتمنیو د ډېټوهنې د ویشنې له مخې دغه ځمکې دسوداګرۍ ، داوسیدولو د ځایو او کرنې له ځمکو څخه وروسته راځي یعنې دکمیدونکې کارونې په وروستې برخه کې ده. د«وان تونن» د مودل له مخې دا ډول سیمې د منځنۍ بوختیا څلورمه او پنځمه درجه په اطرافونو کې پرتې وي چې د څارویو دروزنې لپاره ورڅخه ګټه اخیستل کېږي. په

څرځایونو کې څاروي بوټي ( علوفه يي بوټي ) خوري او هغه په ډېرو ارزښتمنو خوراکي محصولاتو ( غوښې ، شيدو ، پوځې ، مستې . . . ) بدلوي چې محسوسې گټې يې د ارزونې وړ دي. د څرځايونو واښه (herbs) او بوټي ( photoauto torphs دی، په دې مانا چې دلمرله انرژي څخه گټه اخلي او د فوټو سنتز پړاو ترسره کوي ، اکسيجن هوا ته آزادوي کاربن دای اکسايډ اخلي او بوټي وده مومي د بوټو وده د توليدي پوړ producer level په نوم يادېږي او همدغه بوټي وښو خوړونکو ژويو او څارويو herbivora ته خواړه يا دانرژۍ سرچينه بلل کېږي. دا کيدای شي يا لگيوم وي ، يا واښه (grasses) وي لکه کبلې يا هم فلوري بوټي (فرشي) وي لکه سرخس او نور. د طبيعي منابعو په اقتصاد کې دڅرځايونو لپاره هم لکه د ځنگلونو د محصولاتو په شان د اندازه کولو مقياس شته . د بېلگې په توگه يو څرځای په هکتار يا جريبو ښوول کېږي او هغه محصول چې توليدوي په کال کې په يومربع متر کې په گرام يا کيلو گرام (g/m2/yr يا kg/m2/yr) سره ښوول کېږي ، چې دا په څرځای کې دڅارويو څرولو ، دڅرځای اوبه کولو ، د نباتاتو ډول او دڅارويو د گرځيدو په وړاندې په ټينگوالي پورې اړه لري. هغه نباتي انرژي چې وروسته دوښو خوړونکو څارويو لپاره لگول کېږي يا په کار ځي دڅرځای آر محصول Net production په نوم يادېږي، چې ددې محصول څومره والی او څرنگوالی د څرځای ښيرازي ، ظرفيت ، اقليم ، داوبو شته والی، برابرې تودوخې اونورو پورې اړه لري. څرځايونه د بېلابېلو لاندنيو ځانگړتياوو له مخې مونږ. ته ډېر ارزښت لري:

۱) څرځايونه څاروي ته ډېر ښه خوراکي توکي برابروي .

۲) څاروي په څرځای کې روغ رمټ وي.

۳) هغه برخه ځمکې چې کرنې ته وړتيا نه لري، له هغو څخه د ځړځای په توګه کار اخيستلای شو، په دې توګه يوه پراخه اندازه ځمکه (شتمني) تر کار لاندې نيول کېږي.

٤) د ځړځای بوټي (هم کبلې Herbs هم خشبي بوټي او وابښه) د خاورې د شړيدو او د باد، باران له وړلو څخه ساتل کېږي او د erosion په وړاندې کلکوالی مومي.

٥) هغه وابښه چې کېدای شي تر پخيدو مخکې څاروي له هغو څخه په ځړځای کې ګټه واخلي ډېره لوړه اندازه خوراکي ارزښت (پروتين، ويټامينونه، منرالونه او نور) لري.

٦) ځړځای په خپله شنه ځمکه ده او بوټي لري چې د هوا په پاکوالي کې غوره ونډه لري.

۷) ځړځای هغه وابښه لري چې د څارويو تر خوړلو وروسته بيا بيرته شنه کېږي او لوييږي چې دا يې هم يوه ښه اقتصادي ځانګړتيا ده.

۸) په ځړځای کې هر راز څاروي (وزې، پسونه، غواوې ....) د هر راز خوراکي توکي، کبلې، ګټورو اغزنو بوټو او نورو د غوره کولو واک لري. په دې مانا چې څاروي په خپله خوښه چې هرڅه ته يې زړه وشي هغه راټولوي او خوري يې. ځړځايونه تر ډېره ځايه له ځنګلونو سره ګډې ځانګړتياوې او ګټې لري، لکه: دواړه طبيعي شتمني د اقتصادي ارزښت د توليد او سم استعمال له مخې وروسته تر نباتي ځمکو راځي. دواړه د خاورو د تخريب مخنيوی کوي. دواړه شين پوښ جوړوي او په اقليم ښه اغېزه لري، دواړه د يو شمېر ژويو او څارويو په ژوند کې مخامخ اغېزه لري او داسې نور. همدارنګه د ځمکې پر مخ د بېلابېلو زونونو دويش له مخې ګڼ شمېر ځنګلونه او ځړځايونه په نږدې موقعيتونو کې پراته دي ددې

لپاره به په ټولیزه توګه د ځمکې د کرې د مخ د مجموعي مساحت زون بندي وګورو :

(۷) لنبتلیک: د ځمکې د کرې پر مخ د ژوند او اوسیدو وړ ځمکو ساحه ( په میلیون کیلومتر مربع )

| د ژوند او اوسیدو لپاره د ځمکو کټګوري | ټوله | زونونه | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | ټوله په قطبي او نیمه قطبي سیمو کې | معتدله سیمو | نیمه ګرمسیرو یا مادي سیمو | ګرمسیره، استوایي او په نیمه استوایي سیمو کې: |
| ۱ | ٦٤,٤ | – | ٢١,٢ | ٩,٢ | ٣٤,٠ |
| ۲ | ٣٧,٥ | – | ٨,٣ | ٨,٠ | ٢١,٢ |
| ۳ | ٦,٤ | ١,٤ | ٣,٣ | – | ١,٧ |
| ٤ | ٤٠,٧ | ٢٦,٧ | ٥,٥ | ٢,٠ | ٦,٥ |
| ټوله | ١٤٩,٠ | ٢٨,١ | ٣٨,٣ | ١٩,٢ | ٦٣,٤ |

Ref: the theory of population p.247

(۱) ګروپ هغه سیمې دي چې له کومو ځانګړو انجنیري او تخنیکي کارونو او ستونزو پرته د ژوند لپاره برابرې وي او پرته له دې چې کوم ځانګړي زیار پرې وګالل شي د نویو پراختیاوو او منبسط استعمال لپاره مساعدې دي. یعنې دا په خپله په طبیعي توګه د نفوس امکان لپاره مساعدې دي.

(۲) کټګوري هغه ځمکې دي چې د ژوند او استوګنې لپاره مساعدې دي مګر د ځینو انجنیري کارونو غوښتنه کوي. خو بیا هم ډېرو خاصو تدابیرونه اړتیا نه لري .

(۳) هغه ځمکې چې د ځینو ځانګړنو له مخې آن په ډېرو خاصو انجنیري کارونو او زیارونو لږ څه د اوسیدو او استفادې وړ ګرځیدلای شي .

۰ (٤) هغه ځمکې او سیمې چې د ژوند لپاره هیڅ برابرې نه دي. په دې توګه اوله کټګوري ٤۳ فیصده د اوسني استعمال ځمکه تشکیلوي، خو وروستۍ کټګوري چې د هیڅ استفادې ورنه ده ۲۷ فیصده ده منځنۍ ځمکې ۱ او ۲ کټګوري ۳۰ فیصده ده چې په دې کې هم ۳ کټګوري د ٤ فیصده څخه لږ احتوا کوي.

په پورتنیو ټولو کټګوریو کې دانسان لاسوهنه، زیار او هڅې او له راز راز شتمنیو او زېرمو څخه ګټه اخیستنه پیل شوې او اوس په دې ټولو برخو کې پوره څېړنې شوي، خو لومړنۍ (ندرتال) انسان دنن ورځې په شان ځواک او پوهه نه درلوده اونه یې په دغو شتمنیو دومره پام ساتلی شو. دارقامو له مخې په نړۍ کې اوسنۍ کرنیزې ځمکې په سلو کې اویا د ټکنالوژۍ او زیار او هڅو له امله کرنې او ګټې اخیستو ته چمتو شوي، زیاترو ځمکو ته د اوبو ویالې کنیدل شوي، په یو شمیر نورو کې زیم ایستنه شوې، آن دا چې مصنوعي باران ورته برابر کړل شوی چې په دې ډول د ټولې نړۍ پر مخ ۱۵۰۰ میلیون هکتاره ځمکه یا د ځمکې دغونډارې د ټول مخ په سلو کې ۱۰-۱۱ بورې تر کرنې لاندې راوستل شوي او که له دې سره ځنګل او څړځای هم وشمېرو نو د ځمکې د مخ په سلو کې ۲۳-۳۰ برخه تر ګټې اخیستنې لاندې راغلې، نوره پاتې ځمکه یا ډېره سړه هوا لري یا ډېره وچه ده او یا هم د باد، توپان او نورو اقلیمي اغیزو له کبله ناوړه ده. له بده مرغه د بادونو او اوبو له امله هر کال د ٦-۷ میلیونه هکتاره ډېره ښه کرنیزه خاوره له لاسه وځي، ددې له لاسه وتې خاورې بیرته تر لاسه کول ناشونې ده، ځکه دیو سانتي متر مکعب ( Icm3 ) خاورې جوړېدو ته څه ناڅه ۵۰۰ کلونه په کار دي! دځمکې پر مخ اوسنۍ خاوره دځوځو پېړیو په اوږدو کې، هغه هم د ډېرو شرایطو د ګډ عمل لاندې جوړه شوې، بده خو یې

داده چې تر تېوله مخکې ډېرې حاصل ورکوونکې خاورې له لاسه وځي ، دغه خاورې له تور کمربند سیمو و دلتاګانو او سیلابي خاورو څخه عبارت دي ، دلته مور د ځنګل او څړځای په ګډه ګټوره دنده او ونډه پوهیدای شو. په دې توګه ځنګلونه او څړځایونه په نړۍ کې د بیوسفیر فوتو سنتیک پوړ جوړوي چې څو اړخیزه ګټور تیاوې لري. د بې تدبیره او بې پلانه کړو وړو له کبله ځینې وخت دمیشت کېدو ، کور جوړولو ، د فابریکو آبادولو ، د سوداګرۍ دسیمو جوړولو لپاره تل په ځنګله اوڅړځای تیری کړی او هغه یې لاندې کړی . نامتوه پوه او څېړنکې (I.Laptev) وایي: اوسنیو خلکو له تاریخ څخه د مخکې پېر له ځنګلونو څخه په سلو کې ۶۰-۶۵ له منځه وړې ! دا په دې مانا چې دوی له ځنګل سره ظالمانه چلند کړی او خپل چاپیریال یې ویجاړ کړی. د نباتاتو ددغه شنه پوښ ( ځنګل او څړځای) د کمښت له کبله د باران د توندې ، دسیلاونو راوتلو او دلوړو پانو شړیدلو له امله زیات شمېر خاورې له لاسه وتې دي او لا وځي. دی همدې ټکي ته په نغوتې سره وایي: که چیرې انسان ژوند او دځمکې او خاورې د جوړیدو لومړي سرته مراجعه وکړي ، نو هله به دخاورې د له منځه تلو او بیا جوړېدو او د هغې د ساتلو په ارزښت او اهمیت پوه شي ! (۲۹)

# د څړځايونو اقتصادي ارزښت د کرنې د يوې برخې په توګه

دځارويو د روزنې محصولات ( پوټکي ، کوڅې ، وړۍ ، غوښه او نور ) د کرنې د سکتور محصولات بلل کېږي. دغه توکي په زياترو هېوادو کې نه يوازې دهغو په خپلو کورنيو بازارو کې پلورل کېږي. آن دا چې بهر ته هم ليږل کېږي. په دې توګه دغه توکي د دوی د بهرنۍ سودا ګرۍ قيمتي صادراتي څيزونه بلل کېږي. سربېره پردې دغه توکي هغه صنعتي خام توکي دي چې صنعت پرې چلېږي. زيات شمېر نورې اړتياوې لکه څرمن جوړول. بکسونه ، بوټان ،وړين ، پټوګان ، غالۍ ، ټغرونه اونور د څارويو روزنې له محصولاتو څخه جوړېږي چې دا ټول د ګټې وټې غوره سرچينې دي چې په څړځايونو پورې تړلي . له دې پرته څړځايونه د يو شمېر نورو کرنيزو توکيو ، غلو ، دانو اونورو پر زياتوالي هم اغېزه لري ځکه چې په غرنيو او يو شمېر خوړلرونکيو لمنو اوسيمو کې د ښو پريمانه وښو او بوټو لرونکو څړځايونو شته والي د ځمکې داوبو ساتنې وړتيا لوړوي او تل لمدبل لري، خو بې وښو ځمکه تل وچه وي . واښه او بوټي په دښتو کې تر ځمکې لاندې د اوبو زېرمو ( څاګانو ، چينو او کاريزونو ) دښې تغذيې لامل ګرځي، له بلې خوا د سيلاونو ويجاړونکي ځواک کموي، چې دا هم پر کرنيزو ځمکو او کرنيزو حاصلاتو غوره اغېزه لري. په يو شمېر وروسته پاتې هېوادو کې زياتې کرنيزې هلې ځلې لکه کولبه ، ماله ، دځمکې هوارول ، درمند ميده کول، د بارونو وړل ، او نورې چارې په څارويو ترسره کېږي. آن

داچې د کروندو سره (ډیران) له څارویو څخه بوديږي، نو د څرځايونو په شتوالي سره او د پوره څارويو په روزلو سره کرنه پیاوړې کيږي، او د کرنې د سکتور عـايد لوړيږي. ددغـه لوړ عـايد يوه لويه برخـه بيرتـه په کرنه لگيږي چې دا لوړه پانگه د کرنې اکر دوه درې ځله نور هم ښه کوي نو له همدې امله هغـه شمېر هېوادونه چې ښه څرځـايونه لري ښـه گټوره کرنه لري چې د دوی توليې ستونزې، توليېز وروستـه پاتي والی او آن سياسي ستونزې حلـوي د بېلگې په توگه د انگلستان د کرنې د سکتور د محصولاتو د ټول ارزښت په سلوکې اويا برخې د څارويو له روزنې (په تيره بيا له غواگانو) څخه جوړه ده چې دا د ښو څرځايونو له امله ده. په ايتـاليا کې همدا اوس ۹,۸ ميليونه څـاروي تر روزنې لاندې دي، د فنلنډ دشمـالي سيمـو په څـر ځـايونو کې د څارويو روزنې لوی لوی فارمونه شتـه، چې محصولات يې ددغـه هېواد په اقتصـاد کې پوره ونډه لري. دامريکا په متحده ايالاتو کې له ۱۱۰ ميليـونو څخـه زيات څـاروي تر روزنې لاندې دي، په استـراليـا او برازيل کې لـه ټولو کرنيزو ځمکو څخه يوازې په سلو کې ۳,۵ کرل کيږي نورې يې ټولې څر ځايونه او ځنگلونه دي، د آستراليـا د کرنې د سکتور په سلو کې ۵۵ برخه څاروي روزنه جوړوي، چې د پسونو په روزنـه کې لومړی نړيوال ځای لري، د ټولې نړۍ نيمايي وړۍ همدلتـه توليديږي او بيا نړيوالو مارکيټونو تـه په ډېره ښـه بيـه استـول کيږي. دلتـه يوازې د پسـونو شمېر ۱۸۰ ميليـونو تـه رسيږي چې پنځـه لويې کـمپنۍ يوازې د پسـونو روزنـه تر سره کـوي، نوی زيلاند هسپـانيـا او ايتـاليـا هم د ښـو څرځـايونو په لرلو سره د پسـونو روزلو څخه لوړې گټې تر لاسه کوي د امريکا پـه متحده ايالاتو کې زيات شـمېر اداري، څېړنيز منځي او علمي بنسټونه د کرنې، څارويو روزنې، څرځاى ساتنې او ځنگلونو په برخه کې بوخت دي، دوی د ښـو څرځـايونو په لرلو سره

او په علمي ډول هغوته په ودې ورکولو سره دښکرلرونکو څارویو په روزنه کې لوړ نړیوال ځای نیولی ، آلمان د ۵ , ۵ میلیونو غواوو په لرلو سره د غواوو په روزلو کې دویم ځای لري چې د کرنې د سکتور د محصولاتو په سلو کې ۲۶ یې د شیدو صادرات جوړوي . په ارجنتاین کې څړځایونه د دغه هېواد په ملي اقتصاد کې بنسټیزه ونډه لري چې ۶۰ میلیونه څاروي په کې روزل کېږي، په تیره بیا د دغه هېواد د پامپا سیمه دغوره څړځایونو د لرلو له کبله دڅارویو په روزنه کې نړیوال نوم لري چې دلته آسونه ، کچرې ، پسونه ، وزې او غواوې ډېرې روزل کېږي ، له همدې امله ارجنتاین د څرمینو توکیو په جوړولو او دڅرمنو په صادرولو کې نامتو دی ( ۲۰ ) پورتنۍ بېلګې ددې لپاره راوړل شوې چې آن په پرمختللو اروپايي هېوادو کې د څړځایونو غوره ارزښت څرګند شي او دا چې په پرمختیايي او وروسته پاتې هېوادو کې څومره ارزښت لري دا خو ښکاره خبره ده. د نړۍ په ټولو سیمو او هېوادونو کې څړځایونه دوه ډوله دي:

۱) **طبیعي څړځایونه** : دا هغه پراخه هوارې سیمې دي چې د ښه اورښت او مناسب اقلیم د لرلو له کبله د ډېرو ونو ، کبلې یا خشبي ( لرګینو ) بوټو لرونکې وي. دغه سیمې پرته د وګړو له کار او هڅو څخه او پرته له پانګې لګولو ، ډېرښه څړځای او غوره پنځیزه شتمني وي. ددې ډول څړځایونو بېلګې په استرالیا ، ارجنتاین ، دامریکا متحده ایالاتو او یو شمېر آسیایي هېوادو کې لیدل کېږي. زموږ د هېواد مرکزي لوړې سیمې (دغزني ناور ، د بامیانو ځینې ولسوالۍ مارګو اونورې هوارې سیمې ) او دجنوب ، جنوب غرب سیمې دی چې داوړي ډېر ښه طبیعي څړځایونه شمېرل کېږي.

۲) **مصنوعي څړځایونه** : دا هغه ځمکې دي چې کله کله او یا هم تل د

نورو کرنیزو بوټو ( غلو ، دانو ، سبو او نورو ) د کرلو لپاره د بېلابېلو ستونزو له مخې برابرې نه وي ، نو د تخم شیندلو ، مصنوعي باران ، اوبه کولو ، پانګې او زیار په ګاللو د ځارویو لپاره څرځای ته برابرېږي . د بېلګې په توګه د فنلنډ د هېواد یو زیات شمېر څرځایونه مصنوعي جوړ شوي . همدا چې وینو مصنوعي څرځای جوړېږي او پانګه او کار پکې لګول کېږي دا په خپله د څرځای ارزښت او هغو ته اړتیا جوتوي.

# د افغانستان څرځایونه

په ګران افغانستان کې پخوا هم ډېر شمېر وګړي په کرنه او مالدارۍ بوخت وو او دي او اوس هم له دې لارې یې باعزته ، پتمن او له برکته ډک ژوند لري ، دوی په خپلو خواریو نه یوازې ځان ته د ډېر عالي کیفیت ، صحي او کافي خواړه برابر کړي ، له دې سره یې خپلې سیمې شنې ښایسته او پاکې ساتلې ، د شمېرنو له مخې همدا اوس زموږ د خلکو څه ناڅه په سلو کې ۸۵ په سیده او نا سیده توګه د کرنې په سکتور کې بوخت دي ، چې څاروي لکه غواوې ، پسونه ، وزې ، مرکب ( خر ) ، آس ، کچر او نور روزي. د شمېرنو له مخې زموږ د هېواد نږدې ۵ , ۱ - ۲ میلیونه وګړي کوچیاني ژوند لري چې اړتیاوې یې نیغ په نیغه د څارویو له روزنې څخه پوره کېږي د همدغو شمېرنو له مخې د کورنیو څارویو شمېر څه ناڅه ۹۹ ۲۸۰ بېلابېل کورني څاروی اټکل شوی. په افغانستان کې څاروي روزنه ، په تېره بیا په هغو سیمو کې چې پراخه ورشوګانې ، شنې د غرو لمنې او څرځایونه لري ، تر سره کېږي . د بېلګې په توګه د هېواد پراخ څرځایونه په هلمند ، هرات ، غور ، فراه ، کندهار او بدخشان کې دي. دیوې کتنې له مخې په هلمند کې

۳۱۵۰۰۰۰ هکتاره ، ، په فراه کې ۲۶۱۰۰۰۰ هکتاره ، په هرات کې ۲۵۵۰۰۰۰ هکتاره ، په غور کې ۲۱۹۰۰۰۰ ، په بدخشان کې ۲۱۰۰۰۰۰ او په کندهار کې ۲۵۲۰۰۰۰ هکتاره څړځایونه لرو .

دافغانستان څړځایونه په دوو برخو ویشلای شو: د اوړي څړځایونه او د ژمي څړځایونه چې دځرنګوالي له پلوه بیا په درې برخو ویشل شوي:

**لومړۍ درجه څړځایونه :** دا څړځایونه ټول ۱۲۰۰۰۰ هکتاره ته رسیږي چې ۸۰۰۰۰ هکتاره یې ژمني او ۴۰۰۰۰ هکتاره یې داوړي څړځایونه دي.

**دويمه درجه څړځایونه :** دغه څړځایونه د ټولو څړځایونو په سلو کې ۷۶ برخه جوړوي او زیاتره له سمندر څخه ۳۰۰۰-۴۵۰۰ متروپه لوړو سیمو کې په غرونو او د غرونو لمنو کې دي.

**دریمه درجه څړځایونه :** دغه برخه په ټیټو سیمو کې دي. ددغو څړځایونو د ودې (دوښو د لوییدو پړاوونه) دوره ډېره لنډه او دتولید قدرت یې لږ دی.

په هېواد کې دڅړځایونو ټول پراخوالی ۳۰۰۰۰۰۰ هکتارو ته رسیږي چې د ټول هېواد څه ناڅه په سلو کې ۴۶ برخه نیسي. له څړځایونو څخه نه یوازې دڅارویو خواړه برابرېږي ، آن دا چې یو شمېر طبیعي او صنعتي بوټي هم لري.

(۸) لښتلیک : په بېلابېلو ولایاتو کې دڅړځایونو اندازه ( په هکتارو )

| ولایتونه | د ځړځای اندازه | سلواله (د ټولو ځړځایونو په پرتله) |
|---|---|---|
| کابل | ۹۳۰۰۰ | ۳.۱ |
| پروان | ۴۲۰۰۰ | ۱,۴ |
| کاپیسا: د کاپیسا خلک څارویو ته اوړی رشقه او شوتله کري او ژمي دغنمو سپین بوس ورکوي. | | |
| وردګ دوردکو څاروي روږنکي // // // /// // // | | |
| لوګر دلوګر څاروي روږنکي اوړی او ژمی دغنمو بوس او تانتې ورکوي. | | |
| غزني | ۱۴۱۰۰۰ | ۴,۷ |
| پکتیا | ۶۹۰۰۰ | ۲,۳ |
| ننګرهار | ۱۸۰۰۰ | ۰,۶ |
| لغمان | ۶۰۰۰ | ۰,۲ |
| کونړ | ۵۴۰۰۰ | ۱,۸ |
| بدخشان | ۲۱۰۰۰۰ | ۷,۰ |
| تخار | ۳۹۰۰۰ | ۱,۳ |
| بغلان | ۸۴۰۰۰ | ۲,۸ |
| کندز | ۲۷۰۰۰ | ۰,۹ |
| سمنګان | ۷۲۰۰۰ | ۲,۴ |
| بلخ | ۳۲۰۰۰ | ۱,۱ |
| جوزجان | ۱۰۵۰۰۰ | ۳,۵ |
| فاریاب | ۶۹۰۰۰ | ۲,۳ |
| بادغیس | ۱۳۲۰۰۰ | ۴,۴ |
| هرات | ۲۵۵۰۰۰ | ۸,۵ |
| فراه | ۲۶۱۰۰۰ | ۸,۷ |
| نیمروز | ۱۷۷۰۰۰ | ۵,۹ |
| هلمند | ۳۲۵۰۰۰ | ۱۰,۵ |
| کندهار | ۲۵۲۰۰۰ | ۸,۴ |
| زابل | ۸۷۰۰۰ | ۳,۰ |
| ارزګان | ۱۳۲۰۰۰ | ۴,۴ |
| غور | ۲۱۹۰۰۰ | ۷,۳ |
| بامیان | ۱۰۲۰۰۰ | ۳,۴ |
| پکتیا | ۶۰۰۰ | ۰,۲ |
| ټول | ۳۰۰۰۰۰۰ | ۱۰۰ |

مخکې تر دې چې د نوي کېدونکو سرچینو څېړکی پای ته ورسېږي او

دنه تمامیدونکو شتمنیو ( سرچینو ) څپرکی پیل شي ، ښه به وي د هغو شتمنیو یادونه هم وشي چې یا د کرنې لپاره ضرور دي او ښه یا بده اغېزه پرې لري او یا هم په سیده توگه له څړځایونو او ځنگلونو سره اړیکي لري. له دې څخه یو : دلمر وړانگې دي. د لمر وړانگې د ۱۵۰۰۰۰۰۰۰ کیلو مترو له واټن څخه دځمکې پرشنه فرش ( ونو ، بوټو ) خپرېږي او په بوټو او ونو کې د فوتو سنتز د پړاوونو په تېرولو د بیوسفیر په ټول پراخ چاپیریال کې دفوتوسنتتیک پر پوړ باندې انرژي تولیدوي چې بشریت تر اوسه پورې له دغې انرژیکي سرچینې پرته بله سرچینه نه ده موندلې ( باید وویل شي چې له بایوسفیر څخه بهر د اتم انرژیکي سرچینه موندل شوې خو محدوده ده او بیه یې ډېره لوړه او دټولو هېوادو په واک کې نه ده ) . له نیکه مرغه زموږ په هېواد کې د لمر پوره وړانگې شته ، دځینو څېړنو له مخې زموږ په هېواد کې د لمرورځې په یوه کال کې تر ۲۷۰ پورې رسېږي چې په اوړي کې لمر په ۷۸ درجو او ۵۷ دقیقو زاویې سره په پسرلي او مني کې په ۳۸ درجو او ۱۲ دقیقو زاویې سره او د ژمي په درې میاشتو کې ۳۲ درجو ته کمېږي ، د کال په اوږدو کې تر ۹۵ ورځو پورې وریځ وي ، پورتني شمېر ته د لمر د پوره وړانگو او تودوخې څرگندونه کوي.

د باد جریان هغه سرچینه ده چې انسانانو له پخوا څخه د بادي ژرندو ، د توغ لرونکو بېړیو ، په بادبانونو سره د بېړیو د تگلارې د لارښوونې ، د درمندونو د وچولو او بادولو او په نورو برخو کې کار اخیست . دباد لگېدل له یوه بوټي بل بوټي ته د گردې (Pollen) په وړلو او دتخم په جوړولو کې اغېز لري. باد په خپله په اتوموسفیر کې . په تیره بیا ټیټو پوړیو ( تروپو سفیر ) کې د تودې او سړې هوا د فشار د توپیر او د ځمکې دجاذبې ( راښکون) تر اغېزې لاندې د هوا د یوې غتې برخې خوځېدل او له یوې خوا

بل لوري ته تلل دي چې دچټکوالي ، لوري او څپو له پلوه توپیر مومي. هغه باد چې له ۱-۵ درجو وي ، یعنې چټکوالی یې په یوه ثانیه کې ۲ , ۱-۷ , ۸ تر متر و پورې ( یوه گړی کې له ۳ , ٤ -۳ , ۳۱ کیلو مترو ) وي ډېر ورانوونکی نه دي ، نو زمونږ خلک په بېلابېلو چارو کې ورڅخه ښه گټه اخلي ، خو له دې څخه چټک او توپاني بادونه زیان اړوي چې له نیکه مرغه زمونږ په هېواد کې دا بادونه نشته ، یعنې هېواد له جغرافیاوي پلوه د ډېرو تونده توپانونو په مخه کې نه دی . باد هم یوه نه تمامیدونکې سرچینه ده ( زمونږ داوسنۍ پوهې له مخې ).

وحشي ژوي ( حیات وحش Wild Life ) هغه با ارزښته شتمني ده چې انسانانو ته له څو پلوه ارزښت لري. ددوی ژوند نیغ په نېغه په ځنگلونو اوځړځایونو پورې تړلی . دغه ژوي ځینې د خوراکي توکیو په تولید ( لکه غوښه ) غرڅې ، سویان ځېنې ښکار کېدونکي الوتونکي ، ځینې بیا دهغوی د ښکو ، غاښونو ، پوستکو ، هډوکو ، د وزرونو د شپېلیو ډوله هډوکو ، ځینې یې دزهر او نورو غدوي افرازاتو له مخې مونږ ته غذایي ، طبي،صنعتي او نور ارزښتونه لري. وحشي ژوي دځینو نورو ټکو له پلوه هم ارزښت لري چې هغه دادي:

**۱)** یوشمېر وحشي ژوي داهلي ( کورنیو ) څارویو دنسل داصلاح اوښه کولو لپاره ډېر غوره بریښي چې ښه جنیټکي بانک یا زېرمې Genetic bank بلل کېږي .

**۲)** وحشي ژوي دایکوسیستم دغذایي زنځیر یوه غوره کړۍ ده چې دهغو په زیانمن کېدو سره دغه پنځیزه تله گډه وډه او د طبیعت توازن ته زیان رسېږي.

**۳)** وحشي ژوي اود هغو چاپیریال د تفریحي ارزښت لرونکی دی، د

بېلګې په توګه زموږ په هېواد کې د توریزم لپاره ښه د ګټې وټې سرچینه وه ، د طبیعي منابعو او د چاپیریال ساتنې نړیوال سازمان (IUCN) راپور ورکړی چې له بده مرغه د چاپیریال په وړاندې د ناوړه چلند له کبله ۷٤ ډوله الوتونکي او ٦۳ ډوله نور ژوي ورک او د ځمکې له مخې یې نښې له منځه تللي ، یعني نسل یې انقراض کړی. د D.Fisher له څېړنې سره سم ؛ وحشي ژویو ته دا نسان له لوري څلور ګواښونه ور پېښیدای شي:

۱) د ښکار له امله

۲) د هغوی د ژوند د چاپیریال د خرابولو له امله ( لکه د ځنګلونو او څړځایونو ویجاړول او پرې کول)

۳) د کیمیاوي موادو غیر فني او بې کچه کارول.

٤) د وحشي ژویو د ژوند په سیمو کې د کورنیو څارویو د روزلو کار وبار پیل کول، له دې سره یو ځای ځینې نور ګواښونه هم شته چې هغه ناڅاپي او کله کله پیښېږي لکه غرونو ، ځنګلونو او د وحشي ژویو د ژوند په سیمو کې دانسانانو د جنګونو پیښیدل !، د ماشینونو ، تراکتور او کمبایز سره د کرنیزو چارو تر سره کول له موټرو ، الوتکو او اورګاډیو سره د وحشي ژویو لګیدل اونور ګواښونه . د D.Fesher ، J.Vincent او N.Simon د څېړنو له مخې دوحشي ژویو بېلابېل ډولونه له منځه تللي . دامریکا د متحده ایالاتو د red book په نوم کتاب کې دسلګونو ژویو نومونه شته چې له منځه تللي دي.

زموږ په هېواد کې ۱۱۹ ډوله وحشي ژوي او بېلابېل نادرا و کمیاب الوتونکي شته چې دا ټول ملي ثروت او غوره شتمني بلل کېږي چې دبایوسفیر او ایکو سیستم د زنځیر با ارزښته برخه ده.

ژوي د نورو ارزښتونو سربېره په ځنګلونو او څړځایونو غوره اغېزه هم

لري ، د ببلګې په توګه د دوی یو شمېر یې دونو تخمونه ( دانې ) د خپل حوراک د زېرمه کولو په موخه د کال په بېلابېلو وختونو کې تر خاورو لاندې کوي چې همدا دانې بیا د پسرلي په وخت کې راشنې کېږي او د نویو ځنګلونو د پراختیا لامل ګرځي ، یا یو شمېر الوتونکي او ژوي له ځنګلونو او څېړځایونو څخه زیان رسوونکي حشرات او بریخي او د ناروغیو خپرونکې ورکوي او تېولوي یې . په دې توګه لیدل کېږي چې ځینې شتمني او طبیعي منابع یو پر بل غوره اغېزه لري او دا یکوسیستم بېلابېلې سره تړلې کړۍ یې جوړې کړي چې د برابر انډول لرونکې دي. دا د دې غوښتنه کوي چې ځینې ځنګلونه ، ولاړې اوبه ، باطلاقونه او هغه ډنډونه چې ژوي لري ، جبه زارونه ، نیزارونه او نورو د ژویو د زېرمتون Reservier یا Reservation area په توګه وساتو . د وحشي ژویو دا وسیدو ځایونه چې له ګواښ سره مخامخ وي یا ځالې او پټ ځایونه Protected area باید و یجاړ او زیانمن نه کړای شي لکه د غرونو سمڅې ، د زړوونو ډډونه د لویو پرښو په منځ کـــــــې سوري او نور چې دا ټول د ژویو پنا ځایونه Sancturary بلل کېږي.

دژویو د ښې ساتنې لپاره د ملي پارکونو په نښه کول او رامنځ ته کول او بیا د هغو په کلکه څارنه لویه اړتیا بلل کېږي.

د هېواد مرکزي لوړې څوکې داسې ژوي لري، چې په زیاترو هېوادو کې یې ساري نه شته، دبېلګې په توګه مارکوپولو پسونه یاغرڅې ، واورین پړانګ ، غژګاو ، وندک ژوي ، یورال غرڅې ، پړانګ ، لېوه ، ګیدړ ، شاهینونه ، ګوربت ، کارغه ، زرک ، کوترې ، میش مرغ او کرښې لرونکې قاز لري. د هېواد د وحشي ژویو بل زون د ښتې او غونډۍ لرونکې او شګلنې سیمې دي، چې یو شمېر وابنه او بوټي هم لري او آن دا چې په ځینو د غو سیمو کې ولاړې اوبه او ډنډونه هم شته چې دلته زیات شمېر الوتونکي

موندل کېږي لکه د بکوا ، کارگو ، نیمروز ، د لارام او ناور دښتي او د غزني هلمند ، پوزک ، صابري او ریگستان ولاړې اوبه او ډنډونه چې راز راز ژوي بتکې ، قاز او زانې لري. دهمدغه زون وچې سیمې دښتي آهو ، لیوه ، گیدړ ، سورلنډي ، سوی ، باښې ، زرکان ، مرز ، سیسی او نور ژوي او الوتونکې لري . یووخت همدغو سیمو چیتا ( تازي پړانگ ) ، آسیایي خره او گوره خره هم درلودل چې د ښکار او نورو گواښونو له امله ورک شوي.

دوحشي ژویو د ژوند بل زون دنیمه استوایي اقلیم لرونکې سیمې دي لکه دسپین غره لمنې ، دجلال آباد او خوست شاوخوا چې دلته تورې بلبلې ، شوپرکان ، سویان ، شین تاغي او یو شمېر نور ژوي لري چې د palearctic او Oriental اقلیم ځانگړي ژوي دي. دغه راز دهېواد ځانگړي ځنگلي سیمې چې د گڼو ځنگلونو په منځ کې یې ډول ډول سرخسونه ، گلسنگونه (د تیږو شنې چناسې) او نور بشته پوښونه شته د بیزوگانو تورغوږي (سیاگوش) ، ریزوس بیز ، پړانگ ، مارخور آهو ، تورې یږې ، ختن آهو ، ځنگلي پیشوگانې ، بنگالي پیشو گانې ، توتي ، بلبل ، ځنگلي چرگان ، زرکانو اونورو لرونکې دي. دهېواد د وحشي ژویو پنځم مهم زون د آمو د غاړې چمنونه او نیزارونه دې ، لکه درقد ، امام صاحب ، د آمو د سین تړوله غاړه ، او د پلخمري ځینې سیمې . دې جبه زارونو کې گوزن ، غزال ، خوگ (یږ) ببر ، دښتي ، چرگان او زیات شمېر بتکې ( مرغاوۍ) موندل کېږي. خو زیات شمېر مرغاوۍ حسیني قاز او یوشمېر نور الوتونکي د غزني په ولاړو اوبو کې ژوند تیروي.




د ۱ زون ژوي : ( مارکوپولو ، ، غرڅاو ، یورال آهو ، پړانګ لیوه ، ګیدړ ، شاهین ، ګریت ، او یو شمېر نور )

د ۲ زون ژوي: ( مرغاوي ، قاز ، زانې ، دښتي آهو ، لیوه ، ګیدړ ، سفال ، باښې ، زرک ، مرز ، سیسی او نور )

د ۳ زون ژوي: ( توره بلبله ، شین تاغي ، شوپرک ، سوی ، ګیدړ ، سورلنډي ، کشپ ، سمساره ، او یو شمېر نور )

د ٤ زون ژوي: ( بیزو ګانې ، ځنګلي چرګان ، تورغوږي ( سیاه ګوش ) ، توره یږه ، پړانګ ، ځنګلي پېشوګانې او نور )

د ۵ زون ژوي : ( مرغاوی ، زانې ، غزال ، خوګ او زیات شمېر نور ژوي.

**یادونه :**

**الف)** د ولایتونو د موندلو لپاره دې (۳ نقشه) د کتاب دریم څپرکی له (۱- نقشې) سره پرتله شي .

**ب )** د هېواد هغه سیمې چې له ښوول شویو زونونو څخه بهرپاتې دي هم ګڼ شمېر ژوي او الوتونکي لري چې هغه تر زیاته حده ګېوډوي نو ځکه په ټاکلي زون کې نه شي راتلای.

# شپږم څپرکی

# اوبه

اوبو ته د ژوند د حیاتي مادې نوم ورکړل شوی ، هېڅ عالي ژوندی موجود تریوې ټاکلې مودې وروسته پرته له اوبو ژوندی نه شي پاتې کېدای . هم ژوي او هم بوټي د خپل میتابولیزم لپاره اوبو ته اړتیا لري. د بوټو ، ونو او څارویو ارګانېزم په بېلابېلو سلوالو اوبه لري ، دونو ، بوټو زیاته برخه او بیا دهرې برخې ( ریښې ، میوې ، ګل او نور ) د اوبو سلواله توپیر کوي . اوبه نه یوازې د څښلو ، مینځلو او کرنې لپاره پکارېږي. آن داچې په برېښنا تولید کې هم ارزښت لري. چلولو ، کب نیولو صنعتي چارو او نورو کې هم ارزښت لري. د کرنې په سکتور کې اوبه په زیاتو برخو کې لکه د کروندو،اوبه کولو ، دژویو او څارویو د څښلو او نورو موخو لپاره کارول کېږي. سمندرونه پرته له نباتاتو نور بیولوژیکي منابع ( لکه اسفنج سمندري ستوري ، مرجانونه ، اوبړې یو شمېر ژوي) هم لري.

په کروندو کې اوبه بهول اوونو ، بوټو ته د هغو رسول ، څړځایونو یاحیواني فارمونو ته د څاروي د څښاک لپاره د اوبو رسول او مصرفول ، دکرنې د سکتور لپاره د اوبو د اړتیا په نوم یادېږي.

په چاپیریال کې اوبه په ډېره زیاته اندازه او په بېلابېلو بڼو شته دي، د اوبو دغه ټولې بڼې او شته والي د هایدروسفیر Hydrosphere په نوم یادېږي چې په دې کې تر ځمکې لاندې اوبه ، د ځمکې پرمخ؛ د ویالو ، سیندونو ، لویو سمندرونو ، سمندرگیو ، په هوا کې رطوبت (mois ture) او بړاس (Vapour) ، د کنګل په بڼه او آن دا چې د نمجنې خاورې په بڼه اوبه راځي ،خو هغه اندازه اوبه چې انسان ته د پاملرنې وړ دي، د کرنې لپاره یې کاروي ، څښې یې ، څارویو ته یې ورکوي ، د تازه او خوږو اوبو freshwater په نوم یادیږي. سره له دې چې دغه تازه او خوږې اوبه د ټول هایدروسفیر ډېره لږ برخه جوړوي، خو دانسان د حیاتي او اقتصادي کارونې لپاره پوره بس دي. دطبیعي منابعو په اقتصاد ( د پنځیزو شتمنیو وتېږوهنه) کې اوبه نه تمامیدونکو سرچینو Inexhaustible resource کې شمېرل کېږي. د دغې سرچینې کتنه هم د ټولې ځمکې پرمخ او هم د هغې داتوموسفیر ( بړاس ، نم ،زیم اوڅاڅکو په بڼه) ، هم د کوچنیو جغرافیاوي پولو لکه د براعظمونو ( لویو وچو ) ، هېوادونو آن دا چې د کلیو او نورو په پولو کې ترسره کېدای شي او په نړیواله کچه هم څېړل کېدای شي . د اوبو د اقتصادي ارزښت په هکله په ۱۹۹۹ ز کال کې د دوبلین په نړیوال کنفرانس کې د ( اوبو اقتصاد ) تر سرلیک لاندې په نړیواله کچه خبرې اترې او فیصلې وشوې او دا سکالو د یوویشتمې پېړۍ په اجندا کې شامله شوه ( لکه د چاپیریال د ستونزې ، د پرمختللو او وروسته پاتې هېوادو تر منځ دواټن ، د بشر حقوق ، تروریزم اونورو په شان ) دغه کنفرانس درایو په یوالي دا پریکړې وکړه چې اوبه یو اقتصادي توکی دی ( ۱۹ ) .

د نورو شتمنیو ( ځمکې ، ځنګل ،څرځای ، کان ،ژوي) په تو‌پیر سره ؛ اوبه او اغېزې یې له سیاسي پلوه هم لیدل کېږي. د ښېلګې په توګه د

سپندونو بهیر په زیات واټن کې وي چې آن له ځوځو هوادو څخه تیریږي.

په کرنه کې هغه اندازه اوبه چې دنبات ( ونو، بوټو ) دودې لپاره په کار ځي، د نباتاتو د اوبني لګښت Consumptive use یا تبخیر او تعرق (Evaporation) په نوم یادیږي.

کروندې ته په بېده ډول اوبه رسول، د اوبو لږ له لاسه وتل ( کم ضایعات )، د بیځایه جذب او تبخیر مخنیوی او د اصلي نبات د اړتیا لپاره کافي اوبه برابرول، د اوبو د اقتصادي کار اخیستنې په مانا ده، چې دلته د کروندې لپاره دانرژي په کارولو ( د تیلو یا بریښنا یا آن د انسان د فزیکي هلو ځلو لکه له ځاه څخه اوبه کښل ) په قوه لرونکو واټرپمپونو سره د اوبو چمتو کولو یا د ډېر لګښت لرونکو شبکو، کانالونو، ویالو کیندل، د اوبو د چمتو کولو لګښت بلل کیږي، چې د لګښت په صورت کې د اوبو اقتصاد او اقتصادي کارول نور هم ارزښت پیدا کوي، چې د اوبو د اقتصاد له نظره د دغه ډول اوبه لګولو اغېزمنتوب داسې سنجول کیږي:

$$\text{د کروندې د اوبو لګولو اغېزمنتیا} = \frac{\text{ضایعات - په کار وړل شوې اوبه}}{\text{ټولې په کار شوې یا کروندې ته رسول شوې اوبه}}$$

د کروندې لپاره د اړتیا وړ اوبو اندازه داسې سنجول کیږي:

$$\text{د یوې کروندې لپاره د اړتیا وړ اوبه} = \frac{\text{تبخیر - اغېزمن ارزښت ( یا چمتو اوبه )}}{\text{د کروندې د اوبو لګولو اغېزمنتیا}}$$

په پورته ډول د ضایعاتو په تېبت برید کې د اوبو لګولو پاړې سرته رسول زموږ موخه ده. ځینې وخت اوبه اضافي شبکو، ویالو د ځمکې چاودو ته ننوزي، یا هم په کروندو کې اضافي بوټي (پرته له اصلي بوټي هر زه ... اوې) هغه مصرفوي، نو د کروندې د اوبو لګولو په اغېزمنتیا کې د ضایعاتو کمول او په بنه ډول کروندې ته د اوبو رسولو ته پاملرنه په کار ده.

کله چې موږ په هایدروسفیر کې داوبو ټول مقدار یا ټولې مجموعې ته گورو، نو داوبو بېلابېلې جولې څېړو؛ هغه اوبه چې کروندې ته په کارېږي، ډېره کمه برخه جوړوي او د کروندو او فصلونو لپاره داوبو مطالعه د هایدروسفیر د ټولیزې څېړنې یا د انجنیرۍ او تعمیراتو له پاره د اوبو رسولو له رسولو سره له بنسټه توپیر لري Water supply یا صنعت ته داوبو چې دا د کرنیز اقتصاد (Agricultural Economic) د کروندې تنظیم (Farm managment) او په نورو پوهنیزو څانگو کې ارزښت لري، د کروندې لپاره د اړتیا وړ اوبه د ټول هایدروسفیر ډېره لږه برخه جوړوي، خو مهمه خبره داده چې دغه اوبه باید په منظمه توگه د جریان موندلو او په کانالونو او شبکو کې کروندو ته ورسول شي. له همدې امله په نړۍ کې زیات شمېر کرنې ته برابرې ځمکې چې ډېره ښه ناړه او ښه اقلیم لري. خو ددې ډول اوبو دنشتوالی له امله بې کرنې او شاړې پاتې دي. دوه تنو پوهانو Pearson او Harpar د ځمکې د غونډارۍ پر مخ د کرنې وړ خاورو او ځمکو او هغو ته د اوړښت او اوبو د چمتووالي په هکله په زړه پورې څېړنې کړې. دوی وایي چې د ځمکې د مخ په سلو کې ٤٦ د نړۍ، بوټو د کرلو لپاره برابره خاوره لري، خو له دې نه پرته د نورې پاتې ځمکې اوري شرایط هم بدلون مومي. د بېلگې په توگه د خاورو زیات شمېر کمبودات د کیمیاوي سرو د ډېران د کارولو، دحاصل خېزه کوونکو پرکتسو نو، زابرکېندلو او له نورو هلوخلو سره اصلاح کېدای شي. په دې توگه پورتنۍ سلواله نوره هم لوړېږي.

دځمکې دمخ یوازې په سلو کې ٢٤ برخه برابر او پوره باران لري د ډاډ وړ اوبو د چمتووالي په اړه باید وویل شي چې له ټولې ځمکې څخه یوازې ٢٠٠ میلیونه ایکړه ځمکه د ډاډ وړ چمتو اوبه لري، چې وروستی عدد د

تولې ځمکې ایله په سلو کې یوه برخه جوړوي، چې نورې ځمکې ته په هلو ځلو سره ویالې ، کانالونه او شبکې کېنـ ـل شوي یا هم په مصنوعي باران اوبه کېږي او یا په للمي Dry forming ـ ـول کرل کېږي. له همدې امله کرنې ته د اوبو چمتو کول یوه اړتیا ده.

# په نړۍ کې د اوبو زېرمې

اوبه زموږ چاپېریال کې د زیاتوالي ، کموالي ، ژوروالي ، د بهیر د چټکتیا او بېلابېلو بڼو له پلوه توپیر لري. د لویو سمندرونو Oceans ، سمندرګیو seas . سیندونو rivers ولاړو اوبو Lakes . ترځمکې لاندې اوبو ( تحت الارض) تولې مجموعې ته هایدروسفیر ویل کېږي. دا بیا په بېلابېلو بڼو لکه عادي سمندر ، لوی کنګلونه یا ( یخچالونه icefloes ) ، په خاوره کې د رطوبت ( نم) په بڼه ( in the form of misture ) او په اتوموسفیر کې د بړاس (atornospheric vapaur) په شکلونو شته دي. په زړه پورې ده چې ووایو : د ځمکې پر مخ د اوبو اندازه ۱۴۰۰ میلیون کیلومتر مکعبه ده ، چې ده‌غو نژدې په سلو کې ۹۴ په لویو سمندرونو کې دي ، یوه برخه یې د کنګلونو په بڼه ، یوه برخه یې په خاورو کې د نم په بڼه او یوه برخه یې اتوموسفیر کې د بړاس په بڼه ده. لاندنی لښتلیک د اوبو تولې اندازه او بېلابېلې بڼې څه ناڅه ښکاره کولای شي:

(۹) لښتلیک : په یووخت کې د ټول هایدروسفیر د بېلابېلو برخو اوبه

| د هایدروسفیر د اوبو بڼه | زر متره مکعبه | سلواله |
| --- | --- | --- |
| سمندرونه | ۱۳۷۰۳۲۳ | ۹۳,۸ |
| تر ځمکې لاندې اوبه | ۶۰۰۰۰ | ٤,۱ |
| کنګلونه (لوی یخچالونه) | ۲۹۰۰۰ | ۲,۰ |
| سمندرګي او ولاړ لوی ډنډونه | ۷۵۰ | ۰,۰۵ |
| په خاورو کې د نم په بڼه | ۷۵ | ۰,۰۰۵ |
| په اتوموسفیر کې براسونه | ۱٤ | ۰,۰۰۱ |
| د سیندونو اوبه | ۱,۲ | ۰,۰۰۰۱ |

د نړۍ د ټولو سیندونو کلنی جریان په ثانیه کې ۳۷۳۱۷ زرو کیلو مترو مکعبو ته رسېږي چې له هغې څخه په آسیا او آیلند کې د سیندونو کلنی جریان په ثانیه کې ۱۲۸۵۰ زره کیلو متر مکعبه، جنوبي امریکا کې ۷۹۰٤، په شمالي امریکا کې او په مرکزي امریکا کې ۹۰۸۷، په افریقا کې ٤۶۵۷، په اروپا کې ۲۸٤٤ په آسترالیا کې ۱۹۱۹ او په انترکتیکا کې په یوه ثانیه کې ۱۰۵۶ زره کېلو مترو مکعبو ته رسېږي.

لکه چې لیدل کېږي د هایدروسفیر زیاته برخه اوبه په سمندرونو کې دي. د ځمکې د غونډاري د مخ په سلو کې ۲۹ برخه وچه او پاتې نوره ټوله اوبو نیولې، په دې توګه د ټولې ځمکې د مخ په سلو کې ۷۱ برخه اوبه ده. په دې ټولو کې سمندرونه ډېرې اوبه لري او پراخوالی یې هم ډېر زیات دی، د بېلګې په ډول آرام سمندر ۱۶۵۰۰۰۰۰۰ مربع کیلو متره، د اطلس (انتلانتیک) سمندر ۸۱۵۰۰۰۰۰ مربع کیلو متره او د هند سمندر ۷۳۵۰۰۰۰۰ مربع کیلو متره پراخوالی لري! په دغو سمندرونو کې ځینې برخې ډېرې ژورې دي د بېلګې په توګه د (مریانا ترېنچ) ژوروالی

۱۱۵۲۰ متره دی! نو پورتنی اندازه پراخوالی چې یوولس زره متره ژور والی ولري نوڅومره زیاتې اوبه پکې ځاییږي ؟!

لکه چې وویل شو هغه اوبه چې د وګړو ، کرنې او څارویو لپاره ګټورې دي دخوږو او تازه ، اوبو په نوم یادیږي چې هغه د ټول هایدروسفیر یوازې په سلو کې دوه برخې دي! خو دا هم څه کمې اوبه نه دي ، دا نږدې ۲۸ میلیون کیلومتر مکعب اوبه دي ! خو ستونزه داده چې د کارولو وړ اوبه دځمکې په بېلابېلو برخو کې خپرې ، زېرمه اوویشل شوي دي چې ځینې وخت د ګټې اخیستو لپاره په آسانۍ نه شي تر لاسه کېداى ، نو ځکه بشریت د تاریخ په اوږدو کې دکانالونو ، ویالو او بندونو جوړولو ته اړ شوی دی.

دانساني ټولنو تاریخ په تیره بیا دهغو پنځیدل او میشتیدل داښیي چې تل د نفوسو زیات شمېر په هغو ځایونو کې میشت شوی چې هلته دګټې اخیستنې وړ اوبه چمتو وي ، نو ځکه یې د روانو سیندونو تر غاړو ژوند غوره کړی. باید دا په زړه پورې خبره هم وکړو ، چې لرغوني مدنیتونه د لویو سیندونو تر غاړو زیږیدلي ( لکه نیل ) او دا له منطق څخه لرې خبره نه ده.
دسیندونو سرچینه تر ځمکې لاندې اوبو Under ground water زېرمې دي. دغه زېرمې له اورښت ( واورې ، باران او ږلۍ) څخه تغذیه کېږي، په ښه تغذیه کې تژځمکې لاندې اوبه لرونکې پوړونه کافي غني او له اوبو ډ ک وي. ګرونتي اوبه ( د خاورو دننه اوبه ) زیاتره وخت د ځمکې په پوړونو پورې تړلې چې په بېلابېلو سیمواوپوړونو کې تشکیل او زېرمه کېږي ، دغه اوبه بیا د ژورو څاګانو کاریزونو یا چینو په بڼه د ځمکې مخ ته راوځي ، د لوړو غرونو دڅوکو د واورو زېرمې ورو ورو ویلې کېږي او د اوړي په وخت کې دواورو اوریدو تر بل فصل پورې دسیندونو سرچینه جوړوي. په دې

توگه د داسې چمتو او برابرو اوبو او بنې زېرمې او سيندونه لري او محدود دي. داسې هېوادونه هم شته چې په خپل پراخه مساحت کې ايله يو يا دوه بهيدونکي سيندونه لري، حال دا چې د خلکو او ټولنې اړتيا ورته زښته ډېره ده.

له همدې امله داوبو او دهغو داقتصادي کارولو مفهوم را منځ ته کېږي چې نن ورځ د پنځيزو سرچينو په وتپوهنه کې دځېړنې بنسټيزه برخه ده.

لکه چې ليدل کېږي، د هايدروسفير د سيندونو له جملې دطبيعي سيندونو تر څنگ دهمدې اهميت او ديوې تر سره شوي څېړنې له مخې د روانو سيندونو په سلو کې لس برخې په مصنوعي توگه جوړ شوي دي (۲۹).

لکه چې وويل شول د ټول هايدروسفير اوبه خوږې او تازه نه دي دا ببلابېلې بڼې لري، چې د ځينو چينو داوبو خوند تريو وي، ځينې سمندرونه مالگين وي، چې دا د يو شمېر مخلو او کاني مالگو اونورو مرکباتو شته والي ښکاره کوي. دغه ډول چينو ته منرالي اوبه او سمندرونو ته د تروو اوبو نوم ورکول شوی. دغه اوبه هم په خپل ذات کې گټورې دي. د بېلگې په ډول يو شمېر منرالي چينې د يو شمېر ناروغيو علاج ته ډېرې گټورې دي په افغانستان کې د باميان په ختيزه برخه کې، هرات ته نږدې، دمزارشريف د بابا غره په لمن کې اوپه نورو ځايو کې دا ډول مالگينې اوبه ليدل شوې دي.

له خوږو اوبو څخه موخه همدا عادي اوبه دي چې زموږ شاوخوا شته دي. د افغانستان سيندونه معمولاً همدا اوبه تشکيلوي.

له کنگل څخه موخه داوبو هغه شکل دی، چې دهوا د سوړ والي له کبله د لويو کتلو او کنگلي غرونو په شکل موجود دي مثلاً دشمالي قطب کنگلونه او دانترکتيکا کنگلونه.

له ولاړو اوبو څخه موخه يو شمېر جهيلونه دي، چې کومې خوا ته د

وتلو لاره نه لري او دکال په اوږدو کې په همدې يوه سيمه کې ولاړې وي، ددغو ولاړو اوبو سطحه نظرتاً د کال په ټاکلو موسمو کې لږ څه لوړه شي پاتې په خپل حال وي زموږ په هېواد کې ددې ښه مثالونه دغزني ولاړې اوبه او د هېواد په لويديځ کې ولاړې اوبه دي. دغزني ولاړې اوبه چې د غزني د ښار جنوب خواته په ۱۳۰ کيلومترۍ کې موقعيت لري ټوله ۱۳۵۰۰۰ جريبه ځمکه يې نيولې .او ديو شمېر الوتونکو مرغانو لکه سپينو زاغو ، حسيني قاز او وحشي مرغانو د ژوند لپاره مساعد ځای دی. دغه راز د امير بند هم چې د باميانو د ښار ۷۵ کيلومترۍ کې د يکاولنک په سيمه کې پروت دی يو ښکلی جهيل ګڼل کېږي (٦) همدارنګه د هېواد په لويديځ کې د ايران سرحد ته نږدې دوه د ولاړو اوبو جهيلونه د ولاړو اوبو بل مثال دی چې د سيستان د هامون په نوم يادېږي. دغه راز د کودزري جهيل ، په بدخشان کې د شيوا جهيل ، د زرقون جهيل ، دچقمقين جهيل او د هرات د نمکسار جهيلونه هم په افغانستان کې د ولاړو اوبو مثالونه دی.

# دافغانستان مهم سيندونه

دټولو هايدروسفير له جملې څخه خوږې او تازه اوبه چې د ټولو اوبو د مجموعي ډېره کمه فيصدي تشکيلوي په سيندونو کې بهېږي . همدا اوبه د کروندې د کرنيز استعمال لپاره په آسانۍ د لاسبرې وړ دي. يو شمېر څېړنې ښيي چې په افغانستان کې نظر د اوبو نورو منابعو ته زياته برخه اوبه له سيندونو او کانالونو څخه تر استفادې لاندې نيول کېږي. د ارقامو له مخې د اوبو لګولو د سيستم ۸٤ فيصده برخه سيندونه او کانالونه ، ۸ فيصده چينې ، ۷ فيصده کاريزونه او ۱ فيصده څاګانې او ارهټ جوړوي . دا چې د

هېواد له ټول مساحت څخه ۲۵ , ۳۲٤۰ زره هکتاره ځمکه ترکرنې لاندې ده له دې جملې څخه ۲۵ , ۲۱٤۹ زره هکتاره اوبه له نیمایي څخه لږ زیاته کرنیزه آبي ځمکه Irrigated Land او ۱۰۹۱ زره هکتاره نوره للمي (Dryforming) کرنه ده چې همدا د آبي کرنې زیاته برخه له سیندونو څخه اوبه کېږي. ویل کېدای شي چې د هېواد سیندونو debit ډېر په زړه پورې او د خوښې وړ دي. د شمېر نو له مخې د هېواد د سیندونو کلنی مجموعي جرېان ۵۰-۵۵ ملیاردو مکعب مترو ته رسېږي. په دې سره ویل کېدای شي چې دا یوه زیاته اندازه اوبه دي، چې په ډېرو هېوادو کې یې ساری نه شته. د هېواد اوبه په ډېرې چټکۍ او په کم وخت کې له سیندونو څخه وځي، چې یا په دښتو کې وچېږي او یا هم د هېواد له پولو وځي د دې لامل دادی، چې سیندونه له سرچینې بیا د هېواد څخه د وتلو تر بریده په ډېر ځوړ (میلان) لرونکیو سیمو کې تیرېږي د بېلګې په توګه د کابل سیند له خپلې سرچینې (اونې درې) څخه بیا د هېواد تر پولو نږدې ۶۰۰ متره د لوړوالي له پلوه توپیر لري چې د دې اندازه ځوړوالی یو ډېر زیات نشیب دی، نو ځکه یې داوبو سرعت زیات دی او ژر له لاسه وځي. د هېواد له ټولو اوبو څخه په اوسني وخت کې په سلو کې دیرشو څخه ګټه اخېستل کېږي، له نورو اوبو څخه د کار اخیستو لازمې لارې چارې نه دي تر سره شوي.

د افغانستان د سیندونو بادشوی Debit داوبو پوره اندازه ، ښکاره کوي، د بېلګې په ډول یوازې د آمو سیند په یو ثانیه کې ۲۰۰۰ مکعب متره اوبه ، د کونړ سیند په یوه ثانیه کې ۳۷۳ مکعب متره اوبه ، د هلمند سیند په یوه ثانیه کې ۲۰۰ مکعب متره اوبه لري. د هېواد دلویو او مشهورو سیندونو شمېر تر ۲۵ هم زیات دی چې نامتو سیندونه: د کابل سیند ، کونړ ، آمو ، هلمند ، لوګر ، علیشنګ ، الینګار ، پنجشیر ، فراه رود ،

ارغنداب ، ترنک ، ارغستان ، خاشروک ، ادرسکن ، غزني ،لورا ، حلم ، پنج آب ، کندز ، قیصار ، مرغاب او هریرود دي. له دې سره یو شمېر کوچني سیندونه او موسمي خوړونه هم شته. دافغانستان د سیندونو یوه ځانګړتیا داده چې له خپلو سرچینو څخه نیولې بیا تر پای پورې د بېلابېلو ځوړونو څخه تېرېږي چې دهغو په تګلوري کې دبرېښنا د تولید د اوبو دبندونو جوړول ډېر ښه ممکن دي،د ځینو ماهرینو له نظره افغانستان له موجوده برېښنا څخه پرته ۹۰ ځلې همدومره نوره برېښنا هم تولیدولای شي! دغه راز ددغو سیندونو یو بل اقتصادي اهمیت د هغو د ژویو یعنې کبانو له امله دي.




دافغانستان د سیندونه

۵ نقشه




همدا راز په هغو کې د شتو ، سروزرو له امله هم دی. همدا اوس هم له یوشمېر دغو سیندونو څخه ګټه پورته کېږي د بېلګې په توګه دنغلو ، سروبي ، ماهیپر او د درونټې د برېښنا د تولید بېلابېل ظرفیتونه لري. دغه راز یو شمېر نور د برېښنا د ترلاسه کولو بندونه چې کجکي ، چک ، جبل السراج او پلخمري په سیمو کې جوړ شوي . دغه راز له دغو سیندونو څخه د کرنیزو پروژو د اوبه کولو لپاره کانالونه کیندل شوي. (٦) نقشه دافغانستان د اوبو د بندونو ځایونه په ښه اوځینې کرنیزې پروژې ښکاره کوي:

له دغو بندونو څخه ډېر لوی بې چې خورا اقتصادي ارزښت لري، د نغلو بند دی چې د ۵۳۰ میلیون مکعب مترو اوبو د ذخیرې او زېرمه کولو وس لري او د ١٦ مربع کېلومترو شاوخوا پراخوالی لري ددغه بند د برېښنا د تولید فابریکه په ٢٤ ساعتونو کې تر ٧٥-٨٥ زرو کیلو واټو پورې برېښنا تولیدوي چې د کابل د ښار زیاته برخه روښانه کوي او ددغه ښار زیات شمېر اړتیاوې پوره کوي. دنغلو دبند کار د کابل له سیند څخه د ګټې

اخیستنې په خاطر د هېواد دلومړي پنځه کلن پلان (۱۳۳۵-۱۳٤۰ لمریز) په ترڅ کې پیل او په ۱۳٤٦ لمریز کال کې بشپړ شو او رسماً یې په ګټه اخیستنه پیل وشو. دهېواد د اوبو له منبع څخه د اقتصادي ګټې اخیستنې بل مهم بند د درونټې په سیمه کې د درونټې د بریښنا د تولید بند دی: چې د دریو توربېنونو په لرلو سره د ۱۲۰۰۰ کیلو واټو شاوخوا بریښنا ورڅخه ترلاسه کېږي او له همدې بند څخه له کیندل شوي کانال څخه ځلور مهمو لویو فارمونو ته اوبه رسوي، چې ۳۲۵۰۰ جریبه کرنیزه ځمکه هم خړوبوي. ددغه کانال له کیندلو څخه مخکې دغه ځمکې ټولې شاړې وې او دغه ځلور فارمونه هم نه وو. سربېره پردې په همدغه بند کې د چین د هېواد د متخصصنو په مرسته د کبانو روزنې یوه پروژه هم پیل شوې وه چې هر کال یې زیاته اندازه د کبانو غوښه ترلاسه کوله. دجبل السراج د بریښنا فابریکه چې درې توربینونه لري د ۱۵۰۰ کیلو واټو بریښنا، دچک د بریښنا دتولید بند د دریو توربینو په لرلو د ۳۳۰۰ کیلو واټو، د پلخمري فابریکه د دریو توربینونو په لرلو د ٤۸۰۰ کیلو واټو او د سروبي فابریکه د دوو توربینونو په لرلو د ۲۲۰۰۰ کیلو واټو بریښنا د ترلاسه کولو په اس سره هم د یادولو وړ دی. د کجکي بند د ۱۲۰ زرو کلیو واټو بریښنا د تولید ظرفیت لري، د پروان د بریښنا دتولید فابریکه چې د پنجشیر پر سیند جوړه شوې ټوله د ۲٤۰۰ کیلو واټو شاوخوا بریښنا ورڅخه ترلاسه کېږي. ورتنې شمېرنې دسیندونو په اوبو د یو څه لاسبري او له هغو څخه د کار اخیستنې ښوونه کوي، خو د افغانستان له سیندونو څخه تر دې هم د زیاتې ګټې وټې د ترلاسه کولو کیدون شته.

د افغانستان د یو شمېر سیندونو ګټه دهغو زرمینځه کې هم د د بېلګې په توګه دکوکچې له سیند څخه دهغه ځای خلک هر کال په ډېرو

لومړنیو لارو چارو پوره اندازه سره زر تر لاسه کوي چې د هغه ځای د خلکو په وتېزه اکر یې غوره اغېزه کړې. پر ته له دې گټو وتو ، زموږ خلک د ځنگلونو روزنه هم د سیندونو پر غاړو تر سره کوي، په تیره بیا په مرکزي ولایاتو کې پاتړیژي ونې لکه چنار ونه او توت همدا د سیندونو د غاړو په اوږدو کې روزل کېږي . د بېلگې په توگه د لوگر او وردک په ولایتونو کې زیات د چنار لرگي د سیندونو په غاړو کې تر لاسه کېږي. زموږ د هېواد په ځینو سیمو کې د سیندونو له اوبو څخه په ترانسپورټ کې هم کار اخیستل کېږي د بېلگې په توگه دکونړ خلک په ځینو سیمو کې لرگي د سیندونو په اوبو له یوې سېمې تر بلې پورې وړي، په پخوا وختونو کې چې لویو لارو پراختیا نه وه موندلې د لوگر خلکو خپل د چنار لرگي او تیران تر کابل پورې د سیند په اوبو کې راوړل او بیا یې ښار ته نږدې له سیند څخه را ایستل او پلورل یې . له اوبو څخه یوه بله په زړه پورې گټه اخیستنه د ژرندو او د شولو د پښولو ځایونو ( پایکوگانو ) کې ده ، دا ټول زموږ په هېواد کې له اوبو څخه دگټې وټې تر لاسه کولو بېلگې دی.

## دافغانستان د اوبو لگولو حوزې

د اقتصاد په علم کې دسرچینو پېژندنه او دهغو زون بندي یا په حوزو باندې ویشېدېر دود دی موږ په تیرو برخو کې دهېواد ځنگلونه ، د وحشي ژویو د اوسیدو ځایونه ، څرځایونه او نورې سرچینې د همدې موخې لپاره په زونونو ویشلې وي. دهېواد د اوبو سرچینې اوسیندونه هم په بېلابېلو برخو ویشلای شو. دغه ویشنه د اقتصادي پلانونو په جوړونه کې ډېره اسانتیا پیښوي ، دا ځیرونکي په دې لاسبري کوي چې بېلابېلې

پنځیزي شتمنۍ ډېرې ښې وپېژني او په آسانه يې په ګروپونو وويشلای شي او دهغو پر بنسټ د رغاونې او ګټې اخيستنې چارې سمبالې کړي. داچې په افغانستان کې کرنيزې ځمکې له سيندونو څخه اوبه کېږي ، نو په هېواد کې د کرنيزو ځمکو د سيندونو شاوخوا او دسيندونو په تګلورې کې وده موندلې د هېواد د کرنيزو برخو ډېر حاصل ورکوونکې ځمکې له همدغو سيندونو سره پرتې دي.

**دسيندونو او کرنيزو ځمکو دغه ارتباط او تړلتيا د اوبو لګولو حوزې را منځ ته کړې.**

سره له دې چې د پوهاند حميدالله «امين» په وينا : له بده مرغه دافغانستان سيندونه په پوره اندازه نه دي مطالعه شوي اود هغو په هکله پوره څېړنې نه دي شوې (۱) خو بيا هم هغه پوهنيزې څېړنې چې د F.A.O له خوا دافغانستان د اوبو د سرچينو په هکله د (Survey of Land and water resources of Afghanistan) په نوم تر سره شوي ، د هغو په درېيم ټوک کې د هېواد داوبو لګولو حوزې ښوول شوي. په زياترو څېړنو او کتنو کې دغه حوزې په درې برخو ويشل شوي: دآمو حوزه ، دسند (يا دکابل دسيند) حوزه او دسيستان ( هلمند ) حوزه . خو د پخو دلايلو له مخې ويلای شو چې دهېواد د اوبخور څلورمه حوزه بايد د هريرود اود هغه د مرستيالانو حوزه وي ، دا ځکه چې هريرود ځانګړی سيند دی ، سرچينه يې بېله ده او تګلوری يې هم بېل دی او تر اوبو لګولو لاندې ځمکې يې هم بيلې او دهېواد په سويل لويديځ کې دي ، نو ځکه دا دهېواد په سويل لويديزه سيمه کې ځانګړې حوزه ده . يوبل لامل چې دا څلورمه حوزه کېدای شي دادی چې دغه سيند نه له آمو سره ، نه دکابل له سيند سره او نه هم دهلمند له سيند سره ګډېږي، نو ځکه به ښه دا وي چې دهېواد د اوبو لګولو

تولې حوزې په لاندې ډول وويشل شي:

**۱) دآمو حوزه:** هغه سيندونه چې دهندوکش دغرونو له لړيو شمال اوشمال ختيزو خوړونو کې بيل شوي ټول د آمو حوزه کې ګڼوي. دا د کوکچې، کندز، واخان او د بلخ سيندونه، داندخوی او يو شمېر نور کوچني سيندونه دي. سره له دې چې دغه ټول سېندونه له آمو سره نه ګډېږي. ځينې يې په بېلابېلو برخو کې په وياله کې ورګډ او وچېږي، خو ټول دآمو په حوزه کې راځي. دغه حوزه ټولې د ۱۵۸۶۰۰ مربع کيلومترو په پراخوالي سره کرنيزې ځمکې ترخړوبولو لاندې راولي.

**۲) دهريرود حوزه:** په دغه حوزه کې په خپله د هريرود سيند او دمرغاب سيند او د هغو ځو کوچني مرستيالان راځي. ددغو سيندونو د اوبو لګولو اوخړوبولو ټولې ځمکې نږدې ۷۵۸۰۰ مربع کيلو متره کېږي.




**۳) دکابل دسيند حوزه:** دا حوزه د کابل، پنجشير، لوګر، الينګار، اليشنګ، کونړ، سره رود او يو شمېر پسرلني خوړونه او نور کوچني سيندونه را اخلي چې د کرنيزو ځمکو د خړوبولو لپاره ورڅخه ګټه اخيستل

کېږي پر دې سیند دهېواد زیاتره د برېښنا د ترلاسه کولو فابریکې جوړې شوې دي....

**٤) دسیستان (هلمند) حوزه:** په دې حوزه کې دجنوب او دهېواد دلویدیزو سیمو سیندونه لکه فرارود ، ارغنداب ، ترنک ، ارغستان ، خاشرود ، اورتسکن ، چگای ، دغزني سیند او نور سیندونه راځي ، ددغو سیندونو دخړوبولو دځمکو پراختیا ۳٤۰۰۰۰ کیلومترو ته رسېږي. تراوسه پورې په دغو ټولو سیندونو پاخه اولوی بندونه او سربندونه نه دي جوړشوي ، نو ځکه له هغو څخه پوره ، مناسبه او داړتیا وړ ارزانه گټه نه ده اخیستل شوې، ددغو سیندونو په سلو کې ۷۰-۷٥ برخې اوبه ټولې بې گټې بهېږي او له هېواد څخه بهروځي. یو شمېر نورې اوبه بې گټې شگلنو خاورو کې ننوزي. ددغو سیندونو داوبو کلنی جریان تر ٥٥ میلیاردو مکعب مترو رسېږي . که چیرې زموږ له اټکل سره سم دهر هکتار ځمکې لپاره په کال کې ۱۰۰۰۰ مکعب متره اوبه په کار وي ، نو پورته ذکر شوي سیندونه لږ تر لږه (٥٥) میلیونو هکتارو ځمکې ته کافي اوبه دي!

په منځنۍ آسیا کې کم شمېر هېوادونه دومره د گټې وړ سیندونه لري. د نورو هېوادو سیندونه دا توپیر لري، چې هغه څه ناڅه هوارو ځمکو کې غزیدلي نو داوبو بهیر یې ډېر په ځنډ دی ، آن دا چې ډېر ورو لکه ولاړې اوبه ، خو زموږ په هېواد کې سیندونه د ډېرو ځوږونو له کبله په ډېره چټکتیا بهېږي.

# اووم څپرکی

## کانونه

کانونه د پنځیزو سرچینو ډېره ارزښتمنه او قیمتي شتمني ده. کانونه او دهغو را ایستنه په اوسني وخت کې دهېوادونو په اقتصادي وده کې ټاکونکې ونډه لري. کانونه د طبیعي منابعو داقتصاد د ( پنځیزې وتپوهنې ) پــــه وېشنه کـــې دنــــه نـــــوې کیدونکې سرچینې non-Reproducible resources کې شمېرل کېږي . دغه سرچینې او شتمني تر ځمکې لاندې زیرمو په نوم هم یاد ولای شو. کانونه د خپلو ځانگړتیاوو له مخې په بېلابېلو برخو لکه د فلزي ډبرو Metallicores (اوسپنه ، جست ، کرومین ، منگنیز ، مس ، المونیم ، سرپ ، سره زر ، سپین زر او نور ) ، غیر فلزي ډبرو non-metalic ores (تالک ، بیرایت ، سلفر ، مالگې ، د شاه مقصود ډبرې ، گچ ، قیمتي او ښکلې ډبرې لکه لاجبر ، یاقوت ، لال او نورو ) او دسون عضوي موادو Fossil Fuel ( لکه دډبرو سکارو ) باندې وېشل کېږي.

دغو شتمنیو تل له ټولنو تیز پلوه دوگړو په ژوند ، سوکالۍ ، پرمختیا اوهوساینه اغېزه لرلې او لري یې . آن دا چې د بشري ټولنو د تاریخ پړاوونه له همدغه سرچینو سره پېژندل کېږي . دهغو درابرسېره کولو او کارولو پر

بنسټ ویشل شوي، دبېلګې په توګه د تیږې دوره ، د مفرغ دوره ، داوسپنې دوره او نوري دورې . څومره چې انسان له دغو شتمنیو او سرچینو سره پېژندنه ترلاسه کړې ، څومره چې دهغو په رابرسېره کولو او را ایستلو بریالی شوی ، څومره یې چې هغه کارولي ، نو هومره یې پرمختیا کړې ، په ځان ویساشوي ، مترقي او متمدن او دښه اقتصاد لرونکی بلل شوی.

نن ورځ په اقتصادي علایمو ، اقتصادي پلانونو او اقتصادي پالیسي جوړولو کې د کانونو را ایستنه ( استخراج extraction ) ته ځانګړې پاملرنه کېږي او لکه د جوړښتونو ، صنعت ، سوداګرۍ اونورو برخو په شان اوآن تردې چې له هغو څخه هم زیات ارزښت ورکول کېږي.

دبخار د ماشین له رامنځ ته کېدو څخه وروسته بشر د پرمختیا یوه نوي پړاو ته ورسید. د ماشین را منځ ته کېدو د انرژي اوسون توکیو ته اړتیا له پخوا څخه څو څو ځلې زیاته کړه. په شلمه زیږدي پېړۍ کې دساینس او ټکنالوژۍ په مرسته بشرنور هم دغو سرچینو ته ځیر شو او پام یې ورته زیات شو ، هغوته یې پراختیا ورکړه چې هغه وخت دا سرچینې ( دنویو راپیدا شویو شتمنیو (The new-fongleod Source of wealth) په نوم ونومول شوی، آن دا چې د ښکیلاک اونوي ښکیلاک مفکورې د همدې ارزښتمنو سرچینو ، زېرمو او شتمنیو د لاندې کولو لپاره را منځ ته شوې او هر هغه هېوا د چې دغه سرچینې ډېرې لرلې او هغه یې ښې وکارولی شوې بډای او ( مقتدر ) وبلل شو . ډېر ژر نورو هېوادو هم ځان ته دا بریالیتوب وګاڼه چې خپلې تر ځمکې لاندې زېرمې او کا نونه وپېژني ، تر کار لاندې یې راولي او څېړنې پرې سرته ورسوي . په تیره بیا دغو سرچینو هم دجوړښتونو( د ساختمانونو سکتور ) هم په صنعت او هم په کرنه کې زښته زیاته ونډه درلوده او اوس (په یوویشتمه پېړۍ کې ) یې هم لري.

په اوسني وخت کې هر کال له ۱۰۰۰۰۰ میلیون ټنو څخه زیاتې ډول ډول کانی ډبرې له ځمکې څخه را ایستل کیږي او بشریت دغو بې عوضو یانه بدلیدونکو سرچینو (irreplaceable resources) ته نور هم زیات ضرورت او اړتیا لري، په تیره بیا فلزي ډبرو او دسون کاني توکیو ته زیاته اړتیا لیدل کیږي. دځینو څیړنو له مخې که چیرې دفلزاتو دکانونو را ایستل همداسې روان وي ،نو داوسنیو پلټل شویو کانونو المونیم به تر ۵۷۰ کلونو پورې ،اوسپنه به تر ۲۵۰ کلونو پورې ،جست (zn) به تر ۲۳ کلونو مس (cu) به تر ۲۹کلونو ، سرپ به تر ۱۹ کلونو او قعلې به تر ۳۵ نورو کلونو پورې دوام وکړي، بیا به بشر دنورو کانونو په لټه کې شي ، یا به دعناصرو تعویض (بدلولو) ته ملاوتړي یا به یې له نورو ستورو څخه راوړل پیل کړي . په بوشمېر هېوادونو کې دغه سرچینې بالکل پوښلې (دست ناخورده Virgin State) حالت کې دي، ځینې پوهان وایي چې اوسني ترکار لاندې کانونه او دعناصرو زېرمې به تر ۲۵۰۰ زېږدي کال پورې تشې شي. اوس مهال کې دسربو (pb) جستو (zn) ، قلعي ، پلاتینوم ، سروزرو او سپینو زرو ، نکل ، مولبیدیم اومسو کانونه له کمښت سره مخامخ دي. دمنګان کوبالت او المونیم کانونه هم لږدي.

له وسپنیزو ډبرو څخه چې تیر شو ؛ د کانونو بله برخه انرژیکي سرچینې دي . ګنو هېوادو کې د تیلو بیه لوړه ده او نوره هم لوړیږي ، آن دا چې په پرمختیایي هېوادو کې دغې سوځیدونکې مادې ته اړتیا ورځ په ورځ زیاتیږي او بیه یې ورته ډېره ګرانه لوېږي. په دې برخه کې د پنځېزو شتمنیو وتپوهان وایي چې زموږ ځمکه پوره اندازه انرژیکي سرچینې لري او دکیمیاوي سون مواد هم پریمانه شته. زموږ او سمهالې پوهه او معلومات د دغو سرچینو ټوله اندازه د ۱۲۸۰۰۰۰۰ میلیونو ټنو شاوخوا

اتکلوي ( دلته به دسون توکیو داندازه کولو لپاره ستنډرډ ټن Ton of Standard Fuel یا نړیوال تولترازو کاروو ) چې له پورتني شمېر څخه یې سکاره 1120000 million TSF ، تیل 740000 million TSF او طبیعي ګاز د 640000 million TSF په شاوخواکې کېږي ، ددغو سرچینو اوسنۍ د ایستلو وړ اندازه څه ناڅه 3800000 million TSF کېږي چې له دې شمېر څخه 2900000 million TSF ( داټکل شوې زېرمې څلورمه برخه ) د ډبرو سکاره ، 370000 million TSF ( داټکل شوې زېرمې یېمایي برخه) تیل او 500000 million TSF یا داټکل شوې زېرمې درې پر څلورمه برخه) یې ګاز دي.

دا چې بشریت په هر کال کې پخوا څومره دغه ذکر شوي د سون توکي لګول او اوس څومره ته اړتیا ده، یوه بېلګه به راوړو: که په ۱۹۷۰ کال کې ( ۳۰ کاله مخکې) په ټوله نړۍ کې 9000 million TSF دسون توکي یــو کال کې لګېدل اوس ( د ۲۱ پېړۍ په پیل کې) دغه لګښت په یو کال کې 25000 million TSF ته لوړ شوی!

دسون توکیو ،په تیره بیا تیلو او ګازو ته په پرمختیا یې هېوادو کې اړتیا مخ پر زیاتیدو ده. همدا اوس د پورتنیو بېلابېلو سون توکیو له ډلې داړتیا وړ سون انرژي په سلو کې ٤٤ یې د تیلو ، په سلو کې ۱۸ یې له ګازو او په سلو کې ۳۵ یې د ډبرو له سکرو څخه پوره کېږي. په یو شمېر وروسته پاتې هېوادو کې د سون مواد د دوی د ځنګلونو لرګي ، دځړځایونو بوټي او ریښې او آن دا چې د کورنیو ځارویو خوشایي دي. چې دا دنړۍ د ټولو سون توکیو ډېره لږه برخه جوړوي په دې توګه وروسته پاتې هېوادونه دانرژي په لګښت کې وروستی ځای لري ځکه صنعت یې ډېر وروسته پاتې او د کورونو لوازم یې ابتدایي او دژوند سطحه یې ټیټه ده. د کاني سون توکیو زیات لګښت د

ژوند د لوړې سطحې ښوونه کوي . په دې ډول اوسمهالي کاني توکي د ژوند بنسټيزه اړتيا ده .

پوښتنه به وشي چې دغه کاني توکي چې وويل شول چيرې او د ځمکې په کوم پوړ کې موندل کيږي ؟

دلته به د ځمکې د غونډارې بېلابېل پوړونه د هغو له ژور والي سره وګورو:

( ۱۱ شکل )




د ځمکې د غونډارې جوړښت او د هغې شاوخوا اتوموسفير

کاني مواد ، عناصر او دسون وړ توکي د ځمکې په بېلابېلو پوړيو او برخوکې شته دي. ځينې يې ډېر برسېرن دي ، آن دا چې په هغو تيږو کې چې ګډ دي د تيږو له رنګ څخه يې پېژندل کيږي لکه اوسپنه او مس . ځينې په ژورو برخو کې دي لکه د ډبرو سکاره ، ګاز او نور . د دې لپاره چې دا خبره لږ څه نوره هم روښانه شي ، د ځمکې پورتنی پوړ به وڅېړو:

د ځمکې د برسيرن پوړ ( پوست) پريروالی ۵-۵۰ کيلو متروته

رسېږي چې له خاورو ، عادي ډبرو ، بېلابېلو فلزلرونکو ډبرو او ډېرو لږ عضوي موادو څخه جوړ شوی. دځمکې د دغه پوړ ( پوست یا برسېرن پوړ ) ډېرې لوړې برخې همدا دځمکې پر مخ پراته غرونه دي، چې موږ یې وینو . لږ څه وچې پراخې هوارې برخې یې همدا براعظمونه دي چې موږ ژوند په کې کوو. خو دځمکې ریستي پوړ (قشر یا پوست) لږ څه په ژورو کې اوبه ډنډوي ( سمندرونه او سمندرګي ) . دځمکې برسېرن پوړ ( پوست) لاندې دویم یا منځنی پوړ دی، چې د دغه پوړ پر پړالی ۲۹۰۰ کېلومتره اټکل شوی چې په جوړښت کې یې زیاتره سلکیت ، اوسپنه او منګنیزیم دي، تودوخه یې دسانتي ګرید ۱۶۰۰ درجې ښوول شوی ، دریم پوړ یا دځمکې په منځ کې ( هسته) ده چې ۲۱۰۰ کیلومتره پر پړوالی لري او داټکل له مخې له اوسپنې او ویلې نکل څخه جوړه ده چې تودوخه یې د سانتي ګرید ۲۰۰۰-۵۰۰۰ درجې اټکل شوې په دې کې بېلابېل اکسایدونه هم شته ، خو دځمکې ګرد چاپېره هوا ده چې په لاندې برخه کې ( ځمکې ته نږدې ) زیاته برخه د اوکسیجن غاز ، نایتروجن ، هایدروجن او یو شمېر نور ګازونه هم شته .لږ پورته اکسیجن کمېږي . (د هغه د دروندوالي له کبله) . بیا هم وایو چې د ځمکې له مخ څخه پورته بېلابېلو غازات دي. دغه هوا تر ۲۰۰۰ کیلومترو پوې اتوموسفیر بلل کېږي. د اتوموسفیر پوړ له ځمکې سره یوځای وضعي او انتقالي حرکت کوي. داتوموسفیر د ګازاتو سلواله په دې ډول ده:

ځمکې ته نږدې تر ۸۰ کیلومترو دهوا په جوړښت کې په سلو کې ۷۸ نایتروجن ، په سلو کې ۲۱ اکسیجن ، په سلو کې له یو څخه کم ارګون او ډېر لږ یې کاربونیک غازونه ، نیون ، هیلیوم ، میتان ، کرپتون او نور یې ذري او دوړې aerosols دي.

دلمرد وړانگو انرژي Solar energy دشعاع (بنگړو) په بنه له اتوموسفير څخه تېرېږي او د ځمکې پرمخ لوېږي. ونې، بوټي او دځمکې د مخ ټول شين پوښښ له دغه وړانگو څخه د فوتوسنتز په ترس کولو گټه اخلي. لمر له ځمکې څخه په ۱٤٩٥٩٧٨٩٢ کيلومتره واټن لري، چې وروسته تر دوو نورو غونډارو ځمکه په ټول شمسي نظام کې لمر ته دريم نږدې غونډارى دى. دلمر وړانگې د ځمکې پر مخ ژويو، بوټو، ونو، مايکر ژوند ژونکو، ژويو ته حياتي ارزښت لري. د ځمکې داتوموسفير غازونه، په تيره بيا اکسيجن د تنفس او گڼ شمېر تعاملونو او نايتروجن دعضوي مرکباتو، دونو بوټو د ژوند، ودې. ميوه نيولو اونورو لپاره او گڼ شمېر نور غازونه د بېلابېلو اړتياوو لپاره ارزښت لري.

له هوا څخه به بيرته د ځمکې پوړونو ته را وگرځو: دځمکې د پوست (برسيرن قشر) عناصر اوسرچينې بېلابېلې بڼې لري: ځينې جامدي، ځينې مايع ځينې د گازونو په بڼه دي. دبېلگې په توگه اوسپنه او د ډبرو سکاره جامد، نفت په اوبلن او دسون گاز د غاز په بڼه دي. دا ټول د گټې وټې لپاره له ځمکې څخه ايستل کېږي. په دې ډول اتوموسفير، هايدروسفير او په خپله دځمکې بيلابېل پوړونه دمنابعو د ظرفيت حدود دي.

# د کانونو وېش

ترځمکې لاندې هغه پنځيزې شتمني، سرچينې او گټور توکي چې له اقتصادي پلوه موږ ته ارزښت لري او د هغو استخراج، تصفيې (چاڼ) او په هغو د پروسس (صنعت) د پراوونوتر سره کولو ته کلکه اړتيا ليدل کېږي، په بېلابېلو گروپونو وېشل کېداى شي چې په لاندې ډول ور څخه يادونه کوو:

**۱) د سوځېدونکو گټورو توکيو کانونه:** په دې کې د ډبرو سکاره، نفت

او ګاز راځي چې تول د سون توکي دي.

**۲) د فلزي ګټورو توکيو کانونه :** په دې کې هغه فلزي عناصر راځي چې په صنعت ، جوړښتونو ، ماشين جوړولو ، ګاڼو ، اسبابونو جوړولو اونورو کې کارور څخه اخيستل کېږي لکه اوسپنه ، سره زر ، مس او نور.

**۳) د نا فلزي توکيو کانونه :** په دې کې هغه کاني توکي چې فلزات نه دي ، راځي ، دا هم لکه نور کاني توکي د کارولو او ارزښت له مخې د ډېرې اړتيا وړ دي. چې ځينې صنعت کې لکه ښيښه په جوړولو کې ځينې جوړښتونو ته لکه ګچ ، ځينې يې په خوړو کې لکه مالګه ، ځينې يې په کرنيزو سرو کې لکه د سلفيتو مرکبات او بېلابېلو نورو اړتياوو کې په کار ځي.

**٤) د ساختماني (ودانيو) چارو لپاره د نا فلزي توکيو کانونه :** دا د خپلې بيې له پلوه د نورو هغو په پرتله ټيټ دي، آن دا چې ځينې يې ډېر پريمانه دي ، خو د کارولو اندازه يې ډېره زياته ده . لکه عادي تيږې. مرمر او نور . دا کاني اوتوکي پوره اندازه هر ځای د ځمکې په برسيرن پوړ کې موندل کېږي. خوځينې يې لږ څه کم موندل کېږي لکه ګچ ، د سرخاوره ، رخام اونور ، دغه وروستي ګڼل شوي توکي په ودانيو کې ډېر ارزښت لري.

۵ - د قيمتي او ښکلو نا وسپنيزو ډبرو ( توکيو ) کانونه : دغه توکي د خپل ارزښت له پلوه د لوړې بيې لرونکي دي، ځينې يې په کم شمېر موندل کېږي لکه لاجبر ، زمرود ، لال او ياقوت خوځينې يې بيا پريمانه دي لکه بيريل او تورمالين ، شا مقصود ډبرې ، سپين رنګه ډبرې او ځينې ارزان بيه لاجبرونه .

# په اوسنی پېړۍ کې د کانونو اقتصادي

# ارزښت ته کتنه

په یوویشتمې پېړۍ کې بشر د پوهې په برخه کې لا زیات بریالیتوبونه لري ، دا پېړۍ له همدا اوس څخه د ( کمپیوټر د پېړۍ) په نامه نومول شوې. په دې کلونو کې به پوهنیزې څېړنې نورې هم پراخه شي. په تېره بیا کیهاني څېړنو ته به ډېر پام وساتل شي. په کیهاني څېړنو کې نویو ټکنالوژیو ، اسبابونو او توکیو ته اړتیا ده. دغه اړتیاوې ټولې باید تر لاسه شي بشر د هغو د ترلاسه کولو لپاره کانونو ته مخ وراړوي. لکه د فضایي سفینو ، له لرې څخه د فلم او عکس اخیستو اسبابونو ، دانرژي سرچینو او په نورو برخو کې . نو کله چې موږ وایو ( اوسنی پېړۍ) نو زموږ موخه له هغو بشري سترو پرمختګونو څخه ده چې د ډېرو نویو پوهنېزو څانګو په مرسته یې صنعت ، ودانیو جوړولو ، بېړۍ چلولو او دژوند په نورو ټولو ډګرونو کې ترلاسه شوي. دهمدغو کاني توکیو د لازیاتې پلټنې او را ایستنې له امله ټولنو ته د لازیات پرمختګ لاره هواره شوه. په تیره بیا چې ځینې له دې څخه د ترقۍ په لاره کې د انرژیکي سرچینو په توګه کارول کېږي.

صنعتي هېوادونو وکړای شول چې له کاني توکیو څخه په کار اخیستنې سره خپل اقتصاد ته پوره وده ورکړي ، اوس وخت همدا صنعتي پر مختلللي هېوادونه دي چې تر ځمکې لاندې سرچینو ډېره زیاته برخه لګوي. د بېلګې په توګه هر کال صنعتي هېوادونو ته په منځنۍ توګه ۱۵۰۰ میلیون ټنه تیل وړل کېږي، د شمېرنو له مخې د ټولې نړۍ د تیلو او ګازو د

لگښت په سلو کې ۷۷ برخه د امریکا په متحده ایالاتو کې کېږي. دعربي یاخلیج هېوادو ټوله پانګه دد وی له همدې کاني سرچینې ( تیلو ) څخه ده . سعودي عربستان چې بډا ی هېواد دی د ټولې نړۍ په سلو کې ۹ برخې نفت ترلاسه او بیا یې پلوري همدارنګه د امریکا متحده ایالات او دغربي اروپا یوشمېر هېوادونه چې دنړۍ د پرمختللو هېوادونو او پرمختللي اقتصاد لرونکي شمېرل کېږي. د ډبرو سکرو په استخراج او استعمال کې هم دنړۍ تر ټولو لوړ ردیف کې راځي. د ارقامو له مخې په همدغو هېوادو کې په ٤٦٥ میلیارد تنو شاوخوا د ډبرو سکاره ځانګړي شوي، چې له دې څخه تقریباً ٤٧٪ شمالي امریکا او ۲۰٪ غربي اروپا کې دي دامریکا متحده ایالات دډبرو دسکرو دنړۍ تر ټولو لوی صادرونکی هېواد دی، چې زیات شمېر یې جاپان ، شرقي کاناډا او غربي اروپا ته صادرېږي، چې یوه زیاته اندازه پانګه دامریکا متحده ایالاتو ته جمع کېږي . د فلزي ډبرو په استخراج او مصرف کې هم صنعتي پر مختللي هېوادونه لوړمقام لري مثلاً د ۱۹۷۹ کال د ارقامو له مخې دغه هېواد ٤٩٤ میلیون ټنه فولاد تولیداو په صنایعو کې یې مصرف کړي . سویډن هر کال د ۱۶-۱۸ میلونو ټنو اوسپنه صادروي برازیل هر کال ۸۰ میلون تنه اوسپنه صادروي ورپسې روسیه ، ایټالیا ، استرالیا ، کاناډا ، هند لایبریا ، دورتیانیا ، انګولا او ونیزیلا د اوسپنې د زیاتو کانونو لرونکي دي. د نکلو له پلوه کانادا ډېر غني هېواد دی او ورپسې استرالیا ، کولمبیا ، اندونیزیا ، فلپین او یوشمېر نور راځي . کاناډا او دامریکا متحده ایالاتو او فرانسوي ( لي نکل ) کمپنیو ددغې مادې استخراج او صدور په غاړه اخیستی، چې ډېره لوړه پانګه لري. د فولادو لوړې درجه صادرونکی هېوادونه په نړۍ کې جاپان (کال کې ۳۰-۳۵ میلون تنو ) المان ، بلجیم ، نیدرلند، لوکزامبورګ ،

ایټالیا ، فرانسه او اسپانیا دی، چې دا ټول د نړۍ بډای هېوادونه تشکیلوي. همدارنګه په کاني موادو کې بله قیمتي المونیم دی، چې په تیره بیا نن ورځ دالوتکو ټانکرونو، پوښونو او په نورو صنایعو کې چې لوړ اقتصادي ارزښت لري، استعمالیږي، دغه ماده هم دلویو پانګوالو هېوادو په لاس کې ده . مثلاً دامریکا دمتحده ایالاتو (الکواي) (زینولو یې متالس) سویس (الیوسویس) کمپني په دې برخه کې لوی امتیاز لري.

داتیا یمې لسیزې په ترڅ کې د نړۍ دبوکسیت داستخراج له پنځو برخو څخه درې برخې همدې انحصاراتو ترسره کاوه، مسو هم د یو شمېر هېوادونو په اقتصاد کې فوق العاده رول لوبولای مثلاً امریکا یې «اسارکو» کنیکات ، فلپس ، مګما کوپر او آناکوندای کمپنۍګانو پکې ډېره ونډه لري. حال داچې پرمختیایي هېوادونه د نړۍ نیمایي مس هم نه تولیدوي . دلته یاعلت دادی چې بې وزلې هېوادونه یا اصلاً دغسې کانونه نه لري او یا هم تراوسه دهغو په استخراج او تفحص کې ډېر وروسته پاتې دي او لاسبري لاندې یې نه دي راوستي تر ډېره وخته د افریقا یي هېوادونو کانونه د فرانسې ، پرتګال او انګلستان له خوا استخراج او ګټه یې د هغو په جیب کې لویده. د استعمار په دوره کې د ګڼو آسیایي هېوادونو کانونه هم دهمدغو استعماري هېوادو په واسطه استخراج کېدل. د جستو او سربو زېرمې او کانونه هم لکه نور فلزات په صنعت او داقتصاد په وده کې مهم رول لري له دې پلوه یو شمېر هېوادونه لکه کاناډا د امریکا متحده ایالات ، پېرو ، استرالیا او مکسیکو له نورو ډېر مخکې دي د ۱۹۸۳ کال دارقامو له مخې دغه کال کې ٤ , ٤ میلیون ټنه جست او ۸ , ۳ میلیون ټنه سرپ استخراج او تولید کړي وو، چې د نورو هېوادو پر څلورمې برخې په اندازه و او په ټوله نړۍ کې یې لومړی مقام ګټلی و . په دې پښې جست په المان ،

سویډن ، ایرلنډ ، مکسیکو جنوبي افریقا او جاپان کې زیات استخراجیږي.
جاپان دجستو په تولید کې لومړی مقام لري .

د سرپو په هکله هم صنعتي پر مختللي هېوادونه لکه دنورو کافي مـوادو په شان حالت لري مثلاً امریکا متحده ایالات دنړی ٣٠٪ سرب تولید وي. المان ، انگلستان ، جاپان او استرالیا په ترتیب دویم ، دریم ، او څلورم مقامونه لري. یوشمېر پانگوالي هېوادونه لکه بلجیم چې ځینې کاني مواد نه لري نو هغوی بیا ددغو موادو په ذوب او غني کولو بوخت دي او له دې لارې لوړ عواید تر لاسه کوي.

دقلعي په برخه کې بر خلاف ، د آسیا جنوب ختیځ هېوادونه مخکې دي. لکه ددې پر درېیمه برخه د نړۍ ټول قلعي چې په کال کې ۱۹۰۰۰۰-۲۰۰۰۰۰ تنو ته رسېږي مالیزیا کې استخراجېږي ، همدارنگه په دې پسې بولیویا د قلعي لوی استخراج کوونکی هېوادو چې دوی دواړو هېوادو په اقتصاد کې دغې مادې ډېر رول لوبولی او ددې دغه کانونه له بحري معادنو استخراجوي. په مالیزیا کې له جاپان سره په گډه پانگه قلعي استخراج او بیا یې په صنعت کې کاروي ، انگلستان هم د قلعي په استخراج کې نامتو هېواد دی، خو امریکا د خپل صنعت لپاره له نورو هېوادو څخه قلعي وارد وي حتی د نړۍ نیم قلعي ، دامریکا په متحده ایالاتو کې په صنعت کې استعمالېږي په دې توگه لیدل کېږي چې هغه شمېر هېوادونه چې په اقتصاد کې یې کاني مواد مهم رول لري،نو که خپله ځینې کاني مواد نه لري یې له بهر څخه یې واردوي او بیا یې په صنعت کې استعمال او خپل دغه صنعتي محصلات بیا صادروي چې په دې شکل کې هم ددوی په اقتصاد کې ستر رول لوبوي پر مختللي صنعتي هېوادونه فلزات یا په ورقه یې شکل ( په تېره بیا اوسپنه) یا په میله یې شکل

(په تیره بیا فولاد) وروسته پاتې او پرمختیایي هېوادو ته هم صادروي چې طبعاً له پرمختیایي او وروسته پاتې هېوادو څخه زیات اسعار ورتر لاسه کېږي. سربېره پردې دوی د ماشین جوړولو یا ثقیله صنایعو کارخانې د ترکتورنو، ټرانسپورتي وسایلو، په واسطه وسایل تولیداو بیا هغه بهرته صادروي چې د دوی عمده پیرودونکي همدا وروسته پاتې او پرمختیایي هېوادونه دي لکه د امریکا د متحده ایالاتو انټرنشنل کمپنۍ موټر، د فورد کمپنۍ موټر یا د روسیې زیل، ګاز، او نورې فابریکې او د جرمني بنز کمپنۍ چې د خپلو فولادو د کلکوالي د درجې له مخې یې نړیوال شهرت موندلی او ډېر صادرات لري. همدارنګه جاپان هم هغه هېواد دی چې د وارداتو په مقایسه یې د ماشین آلاتو صادرات زیات دي. پرته له څو محدودو لږ پر مختللو هېوادو لکه هندوستان، برازیل، ارجنتاین، مکسیکو، جنوبي کوریا او سنګاپور نور ټول عمده ماشین الات او د فلزي پرزو تولیدونکي هېوادونه پر مختللي صنعتي هېوادونه لکه د غربي اروپا هېوادونه، د امریکا متحده ایالات کاناډا او انګلستان دي چې په پیمانه د کانونو په استخراج او بهره برداري کې ډېر پر مختللي. آن تر دې چې له لسو برخو څخه ۹ د فلزو د پروسس د تجهیزاتو تولید د غربي اروپا هېوادو شمالي امریکا او په جاپان کې کېږي. په دې برخه کې د دغو هېوادو تر منځ نن زیات رقابت هم موجود دی. د فلزي موادو د کانونو د استخراج سربېره په دغو تولیدي برخو کې تخنیکي، ربړ، ښیښې جوړولو صنعت هم وده کړې چې دا هم په خپله د کاني موادو پیدا وار پورې اړه لري. د دغو هېوادو د همدغه صنعت له برکته وچې د صادراتو ځانګړیو ماشین آلاتو او فلزي پرزو صادرول یې چې اوچت شول لکه جاپان په ۱۹۸۳ کال کې ۱۱ میلیونه بار بري او ۷ میلیونه تیز رفتار موټر صادر کړي وروسته تر، جاپان،

فرانسه او جرمني دريیم اوڅلورم درجه د موټرو توليدوونکي هېوادونه دي وروسته تر هغو انګلستان ، ايټاليا او کاناډا دغه راز روسيه هم د موټرو او تخنيکي پرزو تراکتورا و کمباين لوی توليدوونکی هېواد دی. کاني فلزي مواد په هوايي او کيهاني راکټي وسايلو کې هم د استعمال پراخ ځای لري چې په دې کې د امريکا متحده ايالات ، روسيه او درې نور پرمختللي هېوادونه لوړ مقام لري.

يو شمېر نا وسپنيز طبيعي مواد او توکي چې په تېره بيا له پطروسيمې صنايعو څخه د دضمني محصولاتو په توګه تر لاسه کېږي هم نن په صنعت کې د انرژيکي منبع په توګه په کار ځي مثلاً ايتان ، پروپان او بوتان چې دا هم غوره اقتصادي اهميت لري. دغه راز امونيا ک روهيليم د طبيعي ګازو له کانو تر لاسه کېږي چې بيا په ځينو کيمياوي صنايعو او په تيره د کرنې لپاره له کيمياوي سرو کې استعمالېږي په دې توګه يو شمېر کاني غير فلزي مواد د کرنې سکتور د ترقي لپاره پکارېږي چې دا د کرنې او کاني زېرمو اړيکي زياتوي . سلفر چې يو بله مهمه کاني ماده ده ، چې په نړۍ کې هر کال ۳۰-۳۵ ميليون ټنه توليدېږي عمده توليدونکي يې متحده ايالات (يو په دريمه برخه) کاناډا ( يو په پنځمه برخه) جاپان ، فرانسه مکسيکو ، جرمني او روسيه دي، حتی کانادا هر کال ۷ ميليون ټنه سلفر بهر ته صادروي چې په اقتصادي عوايدو کې يې ستررول لري، چې دا بيا د ګوګړ د تيزاب د لاس ته راوړنې لپاره پکارېږي او يوه برخه يې کيمياوي سرې ته پکارېږي. دغه راز په ناوسپنيزو کاني توکيو کې مالګه هم راځي چې دا هم په زياته پيمانه د امريکا متحده ايالاتو ، آلمان ، انګلستان ، فرانسه ،کاناډا ، مکسيکو ، آستراليا او نيوزرلنډ دی. چې سربېره په خوراکي مالګې دسوډا ، سوډيم بای کاربونيت او کلورين د لاسته راوړلو

لپاره هم پکاریږي چې په اوسمهالي صنایع کې غوره ونډه لري. نړۍ په کال کې ۱۰۰ میلیون ټنه فاسفوریت مصرفوي، چې دا هم زیاته برخه د متحده ایالاتو ، مراکش، تونس، الجزایر ، سینګال ، او په بنین کې استخراجیږي . لندن او اسرائیل هم دغه کانونه لري. په دې توګه لیدل کیږي چې د معاصرې نړۍ د پر مختللو هېوادو په تېره بیا د صنعتي پر مختللو هېوادو اقتصادي تخنیکي ، صنعتي وده او هغوی پر طبیعي منابعو او کاني موادو باندې استواره ده . دغو هېوادو له خپلو طبیعي ترڅمکې لاندې زېرمو سره د خپل کارځواک ، مهارت ، ټکنالوژي او منجمنټ یوځای کړاونن ورځ د ترقۍ لوړو پوړیو ته رسیدلي . یو شمېر پر مختیایي هېوادونه هم په کافي اندازه کانونه لري حتی یو شمېر لکه د لاتیني امریکا ، افریقا او جنوبي آسیا هېوادونه د خپلو زېر زمیني زېرمو له کبله ډېر شتمن هېوادونه بلل شوي، چې دوی هم اوس د خپلې اقتصادي ودې لپاره د دغه کانو لټون او را ایستنې ته متوجه شوي او ځینو هېوادو لکه هندوستان ، ایران ، قزاقستان ، ازبکستان ، پاکستان، مراکش ، الجزایر او کاناډا په دې ورروستیو کې د خپلو کانونو په استخراج او د هغو پر اساس داخلي صنایعو ته په ودې ورکولو سره خپل اقتصاد کې یو قوي تحرک را منځ ته کړی یو شمېر له دې هېواد څخه د کاني موادو او له هغو څخه پروسس شوي صنعتي املاکو مهم صادرونکي هم دي. د هېوادونو د ملي اقتصاد د اړتیا له مخې نن ورځ د کانونو په برخه کې د ملي کدرونو روزنې او د دغو کانونو پلټنې ته زیاته توجه کیږي.

## د افغانستان پلټل شوي او پېژندل شوي کانونه

له بده مرغه افغانستان د جیولوژیکي یا ځمکپوهنې د څېړنو له پلوه

ډېر وروسته تر مطالعې او کتنې لاندې نيول شوی. که چيرې په هېواد کې که دځمکپوهنيزو څېړنو شاليد ته وګورو ، نو آن تر ۱۹۵٤ زېږدي کال پورې په ملي او نړيواله کچه کوم څېړنيز کارونه نه دي شوي، تر هغې کاله جيولوژيکي نقشو افغانستان سپين پرېښي ـ او دکانې پلټنو علايم پکې نه و ثبت ، سره له دې چې په لومړنۍ بڼه ځينې څېړنې او کتنې شوې وې ، د بېلګې په ډول د ۱۹۲٦-۱۹۵۱ ز کلونو تر منځ يوځل يو فرانسوي جيولوژيست ( فيورون ) او يو شمېر نورو د کابل ولايت يوه کوچنۍ سيمه په تجربوي ډول تر کتنې لاندې نيولې وه ، خو کومې جوتې پايلې يې نه وې موندلې ، نو ځکه تر دې وخته دځمکپوهنيزو څېړونو کار ډېر د ستاينې او يادونې وړ نه دي کوموسويډني پوهانو چې د سرپل د انګوت په سيمه کې څېړنې کړې وې هغه هم نيمګړې وې انګريز ځکمپوهانو ( کريز باخ ) او (هايدن) هم څه څېړنې کړې دي،خو چندان د پام وړ نه دي او نه يې مثبت نتايج درلودل وروسته تر ۱۹۵۵ ز په دې برخه کې ژورې څېړنې پيل شوې ، همدا وخت ودې ځانګه کې دولتي اداري جوړې او په علمي ډول دځمکپوهنې او کانونو د پلټنو کار له ۱۹۵۵ ز کال څخه را په دې خوا په کابل کې ( د نفت او ګازو د ځانګې ) له رامنځ ته کېدو سره سم پيل شو. سره له دې چې په بدخشان کې له ډېرو لرغونو زمانو څخه را په دې خوا لاجورد پېژندل شوی او ايستل شوی و ، مالګه هم چې کاني توکی دی له ډېر پخوا پېژندل شوې او کارول کېده خو دا په لومړني شکل و . همدارنګه زموږ خلکو په ځينو سيمو کې کاني تيږې او خاورې لکه د سرمينځلو خاوره او ګچ هم را ايستل او کارول يې خو دا نا رسمي ، عنعنوي او لومړني کارونه وو.

کله چې په ۱۹۵۵ ز کې د نفت او ګازو رياست رسماً جوړ شو دافغانستان رسمي پاليسي په دې برخه کې وټاکل شوه او اړوند و ځانګو

لازمه پاملرنه ورته واړوله . په ۱۹۵۸ ز کال کې دهېواد په شمال کې دنفت او گازو د پلټلو او څېړنو کار په علمي ، مستدله او فني توگه پیل شو . داهڅې دځمکپوهنیز جوړښت له هر اړخیزو څېړنو او اړوندو نقشو جوړولو سره یو ځای پر مخ لاړې . له ۱۹۵۸ ز نه تر ۱۹۵۹ ز کال پورې په کابل کې فرانسوي پوهانو ( منیسیه ) او ( لاپاران ) ځمکنۍ نقشې وکښلې ، چې ځینې کاني سیمې په کې اټکلې وښوول شوې . په ۱۹۵۹ ز کال کې جرمني کار پوهانو هم هڅې وکړې خو کار یې ډېر په ځنډ روان و . د کانونو د پلټنو په برخه کې بنسټیز کارونه په ۱۹۶۰ ز کال کې پیل شول دا وخت روسي کارپوهان هم دافغانستان دکانو او صنایعو د اداراتو د قرارداد له مخې هېواد ته راغلي وو . په ۱۹۶۵ ز کال کې په افغانستان کې « دکانو او ځمکپوهنې څانگه » را منځ ته شوه چې پوره فني پرسونل یې ومونده او خپل پام یې تر ځمکې لاندې زېرمو ته واړاوه . همدا وخت د ډبرو سکرو ، اوسپنې ، سروزرو او لاجوردو څېړنې په بنسټیزه توگه پیل شوې ، چې دهمدې هڅو په پای کې دحاجیگک د اوسپنې کان وموندل شو . دا دنړۍ تر ټولو لومړنی کان دی چې په سلو کې پنځه شپیته ( ٪۶۵ ) سوچه او سپنه لري . دا وخت دهېواد په شمال کې له پلخمري څخه تر هرات پورې په ټوله پراخه ساحه کې د ډبرو د سکرو پلټنې تر سره شول ، د بریلوم او باریت زېرمې هم وپېژندل شوې او د سروزرو مهم کانونه کشف شول . دغو څېړنو وښوده چې افغانستان د پنځیزو سرچینو له پلوه ډېر شتمن هېواد دی . له ۱۹۶۵ ز کال را په دې خوا په افغانستان کې سرپ ، جست ، سره زر ، مس ، باریت ، ابرک ، سلفر ، فاسفوریت ، دډبرو سکاره ، کاني منرالي ، اوبه چې شمېر یې ۱۱۲ چینو ته رسېږي . مالگه او زیات شمېر غیر فلزي او دسون مایع کاني توکي لکه نفت او طبیعي گاز تر اوږدې ځمکپوهنیزو څېړنو لاندې ونیول شول او څرک یې ولگول سو . په دې لړکې په ۱۹۷۳ ز کال کې د

هېواد په شمال لوېديځ او څه هم لوېديزو پراخو دښتو کې د ارکونيت لوی کان وموندل شو او دهرات په شمال کې د باريت کان وسپړل شو. په ۱۹۷٤ ز کال کې د مسو يو لوی کان په لوګر (عينک) کې وپېژندل شو او کار پرې پيل



- د ډبرو سکاره
- Δ – ګاز
- – مالګه
- تېل
- – قيمتي ډبرې لکه لاجبر (لاجورد)
- – حرارتي برېښنا (انرژيکي سرچينه)
- – د اوبو برېښنا (انرژيکي سرچينه)
- – صنعتي مراکزو ته کېښل شوي پايپ لاين

- – ماشين جوړونه ( يوه د جنګلک فابريکه په کابل کې او بل عصري ورکشاپ په جلال آباد کې
- – کيمياوي سرې او له هغې سره يو ځای نور جوړېدونکي توکي لکه ګاز
- – سمنټ

شو . همدا وخت د ټول افغانستان لپاره د کاني توکيو د پلټلو بشپړې نقشې وايستل شوې ، چې په ځمکپوهنيزو څېړنو کې خورا ارزښت لري په دې توګه د هېواد د کاني پنځيزو سرچينو د سپړنې ، څېړنې او پېژندنې په بهير کې د ۱۹۵۵ ز ۱۹۷۵ ز پورې چې شل کاله کېږي ډېر د قدر وړ کار وشو . همدا هڅې وې چې ايله دهېواد دغه مهم کانونه وپېژندل شول ، آن دا چې په سلو کې ٦۵ سوچه اوسپنې او د ډېر زيات ګازلرونکو کانونو سپړنې نړيوال هک پک کړل او دې کار د يو زيات شمېر هېوادو پاملرنه افغانستان ته را واړوله .

تر اوسه پورې د پنځيزو سرچينو د پلټلو په ترڅ کې په افغانستان کې

د لاندنيو توکيو کانونه پېژندل شوي دي:

- دسون وړ توکي لکه د ډبرو سکاره ، نفت ، ګاز ، تورف ، نسواري رنګه سکاره او سوځيدونکي سلانسونه .

- فلزي عناصر لکه اوسپنه ، مس ، منګنيز ، کرومين ، سرب ، جست ، المونيم ، مولبديم ، ويلفرام ، قلعي ، بيسموت ، ارسنيک ، رانجه .

- ګران بيه عناصر لکه بريليوم ، ليتيم ، سيزيوم ، روبيديم ، تاشاليم ، نيوبي ، کاديوم ، يورانيم او توريوم.

- نجيبه عناصر لکه سره زر ، سپين زر او پلاتين.

- غير فلزي مفيده عناصر لکه سلفر ، فلورايت ، باريت ، سلتين ، فاسفورس او اپاتيت .

- ارزښتمني ساختماني او نا ساختماني نا فلزي ډبرې لکه مرمر ، ابرک ، سوبه لی ( تالک ) ، لاجورد سرپانتين ، غرنی بلور ، سلانډې او داسې نور .

له دغو شتمنيو او کاني زېرمو څخه ځينې يې د بېلابېلو ځمکنيو پوړونو د جوړيدو او رسوبي دورو په ترڅ کې جوړ شوي ، د بېلګې په توګه دارخين ، پاليوزويک ، کمبرين او سليورين ، ترسبات ، د ديونين ، پيرمين ، کاربن ، ترياسيک ، جوراسيک ، تباشير ، نيوجن ، پاليزجن ، انتروپوجن او سينيوزيويک ترسبات ، ځينې يې بياډېرې ژورې ډبرې ( انتروزيفي تيږې ) دي چې هغه يو څه په ژورو پوړونو کې دي ، حال دا چې بدليدونکې ډبرې بيا ډېرې برسيرنې او د ځمکې پرسر دي.

# دافغانستان د کانونو ډولونه:

څرنگه چې دکانونو د پېژندنې په برخه کې وویل شول؛ کاني توکي په بېلابېلو برخو ویشل شوي وو. دلته به دافغانستان کانونه دهمدغو تقسیماتو او ویشنې په رڼا کې ذکر کړو:

## ۱) دسون توکي:

- د ډبرو سکاره: په افغانستان کې د ډبرو د سکرو په اړه څېړنې لومړی ځل په ۱۳۲۰ لمریز کال کې دهندوستاني ځمکپوهانو له خوا د کهمرد، اش پشتي، صوف درې او برفک په سیموکې پیل شوې، وروسته دغو را بر سیره کولو دوام وموند. د جیولوژیکي څېړنو له مخې دهېواد د ډبرو سکاره زیاتره دجیوراسیک په پوړونو کې دي. دسکرو دساحې پراخوالی ټول ټال پینځه دیرش زره مربع کیلو متره دی. چې تراوسه یوولس کانونه پلټل شوي، دسکرو اندازه یې ۳۰۰۰۰-۵۰۰۰۰۰ میلیونو ټنو پورې رسېږي. دډبرو د سکرو هغه کانونه چې تر اوسه تر گټې اخیستنې لاندې راغلي هغه دادي:

**الف) دصوف درې کان:** دا کان په سمنگان کې دی چې دسکرو زېرمه یې ۷٤۰۰۰۰۰۰ (څلور او یا ملیونو ټنو) ته رسېږي. ددې کان سکاره د خپل څرنگوالی له کبله ډېره لوړ گڼل شوي، په یو کیلو گرامو کې یې د انرژي قدرت یا اندازه ۷۰۰۰-۸۲۰۰ کالوریو پورې رسېږي.

**ب) داشپشتې کان:** دا کان په بغلان کې دی چې زېرمې یې ۵۰۰۰۰۰ ټنو ته رسېږي. په یو کیلو گرام کې ۵۸۰۰-۹۰۰۰ کالوري انرژي لري. داد سکرو د څرنگوالي (کیفیت) له پلوه دویم ځای لري.

**پ) کوکران:** دا کان د پلخمري ختیځ لوري ته پروت دی، دسکرو توله زېرمه يې (د سکرو پوړونه يې ۳ متره ژور والی (عمق) لري) ۱۵۰۰۰۰۰ (پنځلس میلیونه) ټنه کېږي په یو کیلو ګرام کې يې ۵۶۰۰-۶۵۰۰ کالوري انرژي شته. د نړیوالو معیارونو له مخې دځرنګوالي له مخې لوړ ارزیابي کېږي. دغه کان صنعتي مرکزونه او دهېواد لویو لارو ته د نږديوالي له امله په هېواد کې ډېر زیات اقتصادي ارزښت لري. دجنګونو له توندیدو څخه مخکې له دې کانونو څخه هره ورځ په منځني ډول تر ۳۰۰ ټنو پورې سکاره تر لاسه کیدل.

**ت) د مسجد چوبي او سبزک کان:** دا کان دهرات ختیځ لوري ته په ۱۸۰ کیلومتره واټن کې پروت دی. له ۱۳۲۳ لمریز کال څخه را په دې خوا سکاره ورڅخه ایستل کېږي. توله زېرمه يې نهه نیم میلیون ټنه ده او په یو کیلو ګرام کې يې دانرژۍ اندازه ۷۷۷۳ کالوري ده دا هم له نړیوالو معیارونو سره سم، د لوړ کیفیت سکاره بلل کېږي. دمسجد چوبي له کان سره یو ځای د سبزک په سیمه کې هم یو دسکرو کان شته چې زېرمه يې پنځه میلیونه ټنه ښوول شوې او په هرکیلو ګرام کې ۷۰۰۰ کالوري انرژي لري.

پر یادوشویو کانونو سربېره دافغانستان په ځینو نورو ولایتونو او سیمو کې هم د ډېرو سکرو پوره اندازه کانونه شته لکه ګردیز، ننګرهار، خوست، غوربند، کرمان، (په تیره د ننګرهار، په هسکه مینه او کوټ کې) چې دغه کانونه لا تر اوسه نه دي پلټل شوي او ور پاملرنه ورته نه ده شوې. آن دا چې د هغو د نقشه ایستنې علمي پلټلو، اټکلونو او دځرنګوالي جوتولو ته يې هم پام نه دی شوی.

# نفت او گاز

داهم د سون په کاني توکيو کې راځي چې وروسته د ډبرو له سکرو زموږ په هېواد کې دويمه درجه اقتصادي ارزښت لري ، خو د کارولو او آسانتياوو له کبله د ډبرو د سکرو په پرتله ځينې ښيګڼې لري. د بېلګې په توګه : د سرکونو د کښېنلو پرځای يوازې پايپ لاين (نل ليکه) غواړي، دا يستلو چارې به يې لږ څه لوړه پانګه غواړي، خو لږو کار کوونکو ته اړتيا لري او داسې نورې ښيګڼې.

په هېواد کې د نفتو او ګازو جيولوژيکي پلټنې او څېړنې له ۱۳۱۰ لمريز کال څخه را په دې خوا پيل شوي، چې په پای کې يې دا خبره سپينه شوه چې د هېواد په شمال کې د نفتو او ګازو پوره زېرمې شته. لومړی ځل د نفتو د سيمو پلټنه يوې امريکايي جيولوژيکي کمپنۍ په غاړه اخيستې وه، دوی د شبرغان د ښار په لس کيلومترۍ کې د يتيم تاق سيمه په نښه کړه. وروسته د سيويډن د هېواد متخصصينو د انګوت په سيمه کې يوه څا وکيندله، خو پايله يې په زړه پورې نه وه ، وروسته د ۱۹۵۸ زېږدي کال د جنوري په درېيمه د پخواني شوروي د تخنو اکسپورت له موسسې سره قرار داد وشو. د دغه قرار داد په پايله کې ژورې جيولوجيکي پلټنې وشوې چې لاس ته راوړنې يې په زړه پورې وې. په همدې وخت کې د ۴۰۰ او ۲۰۰۰ مترو په ژوروالي ځينې اکتشافي څاګانې وکيندل شوې او د جيوراسيک په پوړيو کې د نفتو زېرمې او د طبيعي ګازو زېرمې تثبيت شوې. د هېواد په لومړني پينځه کلن تولنوتيز پلان کې (۱۳۳۵ - ۱۳٤۰ لمريز) د زېرمو د پلټنو او جيولوجيکي چارو کار په ښه توګه پای ته ورسيد. د هېواد دويم تولنو تيز پينځه کلن پلان کې ۸۱ اکتشافي څاګانې او ۶۲

استخراجي ځاګاني د ۱۲۰۰ او ۱٤۰۰ مترو په ژوروالي برمه شوې. په هغې توګه په دريم پلان کې دوه ميليارده متره مکعب ټنه استخراج تر سره شو چې په هغې کې پټرول، د خاورو تيل، ډيزل، مازو (تورتيل) اوقير شامل وو. دهيواد دګازو اندازه ۹۰۰-۱۱۰۰ ميلياردو مکعب مترو اټکل شوې وه. په ۱۳٥٤ کال کې چې څه نورې ځيرنې هم وشوې، دغه اندازه، نوره هم لوړه وښوول شوه، داوخت يوه بله زيرمه (داق درياسيمه کې) وموندل شوه چې د طبيعي ګازو زيرمه يې ۶۰۲ ميليون ټنه اټکل شوي و. دانګوت دکان زيرمه ۷،۲ ميليون ټنه وښوول شوه. د هيواد له شمالي سيمو پرته په جنوبي سيمو کې هم دګازو پوره زيرمې ښوول شوي له همدې امله د کټواز د سيمې دنفتو او ګازو د پلټلو قرارداد له يوې فرانسوي توتال کمپنۍ سره تر سره شوی و، خو بيرته وران شو. نو ځکه ددغو زيرمو اندازه معلومه نه شوه. دغه راز دهيواد په لويديځ کې هم دنفتو اوګازو زيرمې شته، آن دا چې په ۱۳٤٥ لمريز کال کې يې علمي کارونه پيل شوي هم وو او د تيرپل بای محمد اوغوريانو په سيمو کې يې زيرمې تثبيت شوې، خو نور کارونه يې بشپړ نه شول.

## ۲) دفلزي ګټورو توکيو کانونه:

**په افغانستان کې د وسپنې زيرمې:** وسپنه يو هغه مهم کاني توکی دی چې انسان له ډيرې اوږدې مودې راهيسې هغه پېژندلې او تر کار اخيستنې لاندې يې ده. په منځني ډول هغه وسپنه چې انسان ورځ څه ګټه اخلي او کاروي يې پنځوس ځله له مسو څخه زياته ده، په بله وينا دغه فلزي کاني توکي تر نورو فلزاتو د کارولو پراخه ډګر لري. دجيولوجې د پوهنې له مخې د وسپنې پنځيزې زيرمې ډيرې زياتې دي. زموږ په هيواد کې له لسو څخه

زياتې د وسپنې زېرمې شته. دلته به يې په لنډه توګه نومونه واخلو:

**- د باميانو د حاجي ګک د وسپنې کان:** دغه کان د باميان ولايت په سويل کې پروت دی.



**(۹) نقشه:**

**د هېواد هغه مهم کانونه چې تر اوسه پېژندل شوي او څېړل شوي دي.**

چې د افغانستان د وسپنې يو لوی کان بلل کېږي. د دغه کان څېړنيز کارونه په ۴۳-۱۳۴۴ لمريز کلونو کې پای ته ورسيدل او ټولې زېرمې يې ۱۰۹ ميليونه ټنه ښوول شوي چې سلواله يې ۶۳ ده.

**- د حاجي علم کان:** دغه کان د کندهار په شمال کې د دغه ښار په ۱۳۰ کيلومترۍ کې پروت دی چې د کندهار د خاکريز په ولسوالی پورې اړه لري. د هغه د وسپنې ډبرې د (مګناتايت) يا نورو تيږو له ډولونو څخه دی چې د وسپنې ډېرعالي جنس بلل کېږي.

**- د اسد کلا د وسپنې کان:** دغه کان هم د کندهار د ښار په شمال کې په ۱۰۰ کيلومترې واټن کې پروت دی، چې د ډبرو ډول يې مګناتايت دی. د هغه ډبرې تر ۶۳٪ سوچه وسپنه لري.

**- د پغمان کان:** دغه کان د پغمان د لوی بې سويل لويديځ خواته

پروت دی، ددغه کان د رګ اوږدوالی ۱۵۰ متره او سور یې دوه متره دی، ژور والی یې ۷ مترو ته رسیږي په سلو کې خلور وسپنه لري.

- **د سپادرې کان:** دغه کان هم د کندهار په ولایت کې دی چې د رګ اوږدوالی یې ۳۰۰ متره او سور یې دوه متره او ژور والی یې ۵۰ مترو ته رسیږي.

- **دچینار درې کان:** دغه کان د کندهار په خاکریز کې دی چې د کندهار له ښار څخه ۱۲۰ کیلومتره واټن لري. ددغه کان د وسپنې د ډبرو ډول (هماتایت) یا سور رنګه تیږې دي.

- **دجبل السراج کان:** دغه کان د جبل السراج ولسوالۍ د (ارګ) شمال لوري ته پروت دی، دهغه د وسپنې سلواله تر ٤٥ رسیږي. ژور والی یې ۵۰۰ متره او د وسپنې د زیرمې ټوله اندازه یې ۸ میلیونه ټنه اټکل شوې ده.

- **دغورېند د چهلان کان:** دغه کان دغوربند د درې کیڼ لوري ته په ۷ کیلو متري واټن کې د چیلان په سیمه کې پروت دی د وسپنې ډول یې هماتایت یا سرې رنګه ډبرې دي.

- **د بدخشان د کران د درې کان:** دغه کان هم دهېواد د وسپنې یو شتمن کان دی چې په بدخشان کې دلاجوردو له کان سره مخامخ پروت دی، پر یروالی یې په منځني ډول ۱۰ متره او اوږدوالی یې ۲۰۰ متره دی، د ډبرو نوعیت یې (هماتایت) دی. داو کران لویدیز خواته یو څه په لوړه سیمه کې پلټل شوی چې دغوره کیفیت لرونکی دي.

- **د بدخشان د ارغنج خواه کان:** د وسپنې دا کان د بدخشان د بهارک شمال ختیځ لوري ته په پنځه کیلومتري کې پروت دی، دهغه نګه وسپنه ۱۰۰۰۰ ټنو ته رسیږي (۱۳)

**- د بدخشان د شغنان کان:** دا کان د بدخشان ولایت د شغنان سیمې په ختیځ لوري کې د دوه کیلومترو په واټن پروت دی . اوږدوالی یې یو کیلومتر او پریړوالی یې پینځو مترو ته رسیږي.

د وسپنې له پورتنیو کانونو پرته ، زموږ د هېواد په بېلابېلو نورو سیمو کې هم د اوسپنې دکانونو ثرک لګیدلی چې هغه د کلات د بایلاغ ، دغزني د واغز کان ، د اندراب ، د پنجشیر درې . غوربند ، یکاولنګ ، د کندهار د دهلې کان ، دهرات ځینې سیمې او دهېواد نور ځایونه دی چې تر اوسه یې پوره پلټنه نه دي شوي نو د هغو په هکله څه شمیرنې هم نه شته . په دې سره ویل کېدای شي چې دهېواد په زیاترو سیمو کې د وسپنې زېرمې شته چې تر اوسه یې اندازه نه ده ښکاره شوې (۱۳)

## مس:

مس هم د فلزي ډېرو کاني توکی دی، چې یو ارزښتمن اقتصادي فلز دی. دغه کاني توکی په تیره بیا په نننې صنعت کې لکه ، د بریښنا صنایعو، د لوښو جوړولو ، فلزي پایپونو ، او نورو کې خورا ارزښت لري. له نیکه مرغه زموږ دهېواد په ګڼ شمېر سیمو کې ددغې قیمتي کاني زېرمې شته والی زیات لیدل شوی . د بېلګې په توګه : د لوګر دعینک کان ، د پنجشیر د جنګک کان ، د دربند کان ، دمیدان ولایت د کهنه خاړ کان ، زنان کور ،بزګران او دتخته پل له مسو کانونو څخه یادونه کېدای شي.

مس هم لکه د وسپنې په شان یو لرغونی پېژندل شوی توکی دی ، آن دا چې دغه توکی او له هغه څخه کار اخیستنه زموږ په هېواد کې ډېره لرغونې تاریخچه لري. هغه مسي لوښي چې نجیبو آریاییانو د خپلو ورځینو چارو لپاره جوړ کړي و . اوتر نن ورځې د تاریخي ، فرهنګي میراث

په ډول ارزښت لري، دا ښيي چې زموږ نيکونو ددغه توکي ايستلو او له هغه څخه د اسبابونو په جوړولو کې مهارت درلود او له هغه يې راز راز لوښي جوړول. د بېلګې په ډول تاريخي شواهد زيات توي چې د عينک له مسو څخه څلور زره کاله مخکې کار اخيستل شوی ! دغه کان د کابل جنوب لوري ته د لوګر ولايت ختيځ ته پروت دی. تاريخ څېړونکي وايي چې په افغانستان کې له مسو څخه کار اخيستل د برونز (مفرغ) دورې پورې رسېږي، ځينې پوهان وايي چې دا منل شوې خبره ده چې برونز لومړی ځل همدلته کشف شوي. په لرغونو زمانو کې زموږ په ګران هېواد کې مس په سکه وهلو، نيزه جوړولو، د پخولو لوښو (دېګ، کاسه، څمڅې) او نورو کې کارول کېدل. په يوه چينايي نسخه کې چې په درېيمې يا څلورمې زېږدي پېړۍ پورې اړه لري د لوګر د مسو دکان يادونه شوې. هغه څېړنې او پايلې چې د عينک د مسو له کان څخه تر لاسه شوي، ښکاره کوي چې دلته هم د مسو خالص منرالونه او هم د خالکو پيرپيت، بورنيت، خلکوزينس، ملحيت او کوپريت منرالونه شته چې سلواله يې تر دوو رسېږي، په تيره د دغه کان لويديځ خوا د خالصو مسو او کوپريت منرالونه لري. د دغه کان د مسو ژوروالی تر ۳۵۰ يا ۵۰۰ مترو رسېږي. د اکتشافي څېړنو له مخې د عينکو په مرکزي برخه کې د ۵ ,۱-۲ ميليونو ټنو د مسو زېرمې شته، خو د ټولې سيمې اندازه تر ۵ ,۱۱ ميليون ټنو رسېږي، دغه شمېر ته په نړۍ کې د مسو تر ټولو لوی د مسو کان (بينګان) سره د پرتلې وړ ده.

## کرومين:

کرومين يو ارزښتمن کاني توکی دی چې د لومړۍ درجه فولادو په لاس ته راوړلو کې په کارېږي. لومړۍ درجه فولاد په يوشمېر درنو

ماشینونو او کلکو پرزو کې په کار راځي ، لوړ اقتصادي ارزښت لري.نو ځکه دهغو په جوړولو کې دکرومین په شان ارزښتمن توکي لوړه بیه پیدا کوي. په افغانستان کې دکرومینو کان د لوګر په ولایت کې شته . دغه کان د ٤٢٪ کاني ډبرو په لرلو د ۱۸۰ زرو ټنو معدني تیږو لرونکی کان دی، سره له دې چې جرمني جیولوجستانو دهغه اندازه دوه دومره ښوولې ده .

## د سرپ او جستو کانونه :

د سرپو او جستو سرچینې زموږ په هېواد کې زیاتې دي ، دغوربند فرنجل ، د کندهار دبي بي ګوهرو کان ، د دره نور د سرپو او جستو کان ، دتولک کان او د دایزنګي د لعل قزل کان ددې بېلګې دي.

## یورانیم:

یورانیم په اوسني پېړۍ کې ډېر قیمتي کاني توکی دی، له یورانیم څخه یوه ډېره لویه انرژیکي قوه جوړېږي ، د پنځیزو شتمنیو په وتپوهنه کې دغه توکی د ( ډېرې مهمې ستراتیژیکي مادې) په نوم پېژندل کېږي. هغه ستر ستېشنونه چې نن ورځ د برېښنا تولید ته جوړېږي ، هم په یورانیمو سره په کار اچول کېږي ، دغه توکي د کندهار شاوخوا شته.

## د سرو زرو او سپینو زرو کانونه :

د کوکچې د سیند په اوږدو کې په بېلابېلو سیمو کې زر موندل کېږي ، چې پخوا د سیمې د خلکو له خوا په ډېره ابتدایي بڼه تر لاسه کېدل ، آن دا چې د دوی اقتصادي حالت یې ډېر ښه کړی و ، وروسته یې ټولول له (۲۵۰-Dray) ماشینونو سره پیل شول . پردې سربېره د تخار ولایت په

شمال ختیځ کې دنورالله په چینه کې ، په خاکسار چینه او په چل کان چینو کې هم زر شته . دفیض آباد د (کوهي ریشاو) سیمې سره زر هم نوم لري ، د آمو سیند دافغاني غاړې یاجنوبي اړخ ځنډوته هم سره زر شته چې دا زیاتره رسوبي زر دی ، خو له رسوبي زرو څخه تر اوسه ګټه نه ده اخیستل شوې . په کندهار کې هم سره زر موندل شوي خو علمي څېړنې یې نه دي بشپړې شوي، د (زرکشان) د سیند په تګلاره کې پوره اندازه ، زر موندل شوی چې دا د کوچنیو پلنو پاڼو په بڼه دي پنجشیر او دکندهار په خاکریز کې د سرو زرو کانونه شته پخوا ورڅخه زر ایستل کېدل. خو اوس کار نه ورڅخه اخیستل کېږي.

## ۳- نا فلزي ګټور کانونه:

- **د افغانستان د تالک کانونه:** د تالک له معدني تیږو څخه نن ورځ په ډېرو زیاتو ځایونو کې کار اخلي ، د ښلګې په ډول د ماشومانو د پوډرو په جوړولو کې د ښځو لپاره د مخ د پوډرونو په جوړولو کې ، د پایپ فلتر کې ، موزائیک خښتو په جوړولو کې په برقي هولډرونو اونورو کې . په افغانستان کې ددغې ډبرې کانونه د ننګرهار په اچین او ماماخیلو کې شته . څه ناڅه ۳۵ کاله پخوا دغه کانونه د سیمې دخلکو له خوا په غیر فني ډول ایستل کېدل. په بیا یو شمېر پاکستاني دلالانو باندې په ارزانه بیه پلورل کېدل وروسته دافغانستان دولت په هماغه وخت کې پوډې کار بندیز ولګاوه او پاکستان ته یې په خرو او کچر په نا قانونه لارو دهغو لیږدول په کلکه بند کړل ، دلته یو شمېر اکتشافي او څېړنیز کارونه پیل شوي وو ، چې ځینې جیولوجیکي نقشې جوړې او د ښکاره شوه چې د اچین په کان کې ددې ډبرو اوږدوالی د ۸۶۰ کیلومترو شاوخوا دی له دې

سره یو ځای دا هم ثابته شوې ، چې په همدې سیمه کې ۱۵۰ - ۸۰۰ مترو په اوږدوالي او د ۲۰ - ۱۵۰ مترو په پریړوالي د منیزیت ډبرې هم شته ، دماماخیلو د تالک ډبرې برسیرنې او بربنډې دي. خو داچیس د سیمې دغه مهمې کاني ډبرې ژورو په پوړونو کې دي چې دفني کیندنو غوښتنه کوي.

بیرایت : بیرایت یو مهم صنعتي او اقتصادي توکی دی، دا یوه غیر فلزي تیږه ده چې په ربړ جوړولو ، رنګ جوړولو ، پلاستیک جوړولو ، د ژورو څاګانو په کیندنو د چاودیدونکو موادو په جوړولو ، په ښیښې جوړولو ، صابون جوړولو او یو شمېر نورو صنعتي چارو ته په کار ځي . دا دهرات سنګلان په سیمه کې شته په پخوا کلونو کې دهغې ایستنې پیل شوې وې ، دبېلګې په ډول په ۱۳۵٤ کال کې دهرات له سنګلان کان څخه ۵۲۰۰ ټنه بیرات ایستل شوي وو ، یوه اندازه د شمال د ګازو اونفتو په څاګانو کې لګیدلي وو، نور یې یو ټن په ۳۳ امریکایي ډالرو بهر ته صادر شوی و . د بیراتیو ددغه کان زېرمه ٤ , ۱ میلیون ټنه ښوول شوې. د بیراتیو بل کان دغوربند ( پرینجل ) کې دی چې تر ۲۰۰۰۰۰ ټنه بیرایت لري.

**مالګه:** مالګه یوه نامتو غیر فلزي ډبره ده چې له نیکه مرغه زموږ په هېواد کې یې پوره زېرمې شته مالګه دخوراکي توکي ، په چرمګري ، غوښې سالکو ، سودا جوړولو او د کلورین د ترلاسه کولو له پاره په کاریږي. زموږ په هېواد کې مالګه له ډېر پخوا ایستل کېږي ډبرین کانونه یې په تالقانو کې د تاخچه خاني ، کلفګان او چان کان دی. په هېواد کې پر ډبرینو کانو سربېره د مالګې رسوبي کانونه هم شته چې دهېواد د مالګې لوی کانونه د نمک آب د سیمې زېرمې دي ، چې اندازه یې ۱۳۰۰۰۰۰۰ (یوسل او دیرش میلیونه ټنه ) ده دغه مالګه تر ۱۳۰۰ کلونو د هېواد ټولې اړتیاوې پوره کولای شي دغه راز اندخوی ، سمنګان ، تاشقرغان ، هرات ، هلمند ،

چخانسور او د مقر د ملک دین خیلو د سیمې د مالګې کانونه دي له مالګې څخه د څا... په خوراکه کې هم کار اخیستل کېږي. په نا فلزي ډبرو کې د ودانیو د جوړولو ډبرې هم راځي لکه مرمر ، رخام ، ګچ ، شګه او نورې.

د افغانستان مرمر ډېر په زړه پورې دي او نړیوال نوم لري. دغه مرمر بېلابېل رنګونه لري لکه سپین ، ګلابي ، ژېړ ، شین ، خړ ، نسواري او نور ښکلي رنګونه د غه ډبرې ډېرې ښې تراشل کېدای شي. د مرمرو کانونه په هلمند ، کندهار ، پکتیا ، ننګرهار ، کابل او یو شمېر نورو سیمو کې په بېلابېلو ... او اندازه شته ، په پخوا کلونو کې د دغې ډبرې څخه د ګټې اخیستنې ... په کابل او هلمند کې د تېرو تورلو بشپړې او ډېرې ښې فابریکې وې چې فني او لایق کار کوونکي یې لرل د هېواد زیاتره جوماتونو ... دولتي ودانیو د همدغو فابریکو په زیار د هېواد د همدغو کانونو له مرمر جوړې شوې ، له دې څخه ډېرو ښکلي اسبابونه ، انتیک باب او ... لوازم هم جوړېدل او له هېواده بهر پلورل کېدل چې په استخدام او صادراتو کې یې غوره رول درلود.

ګچ بله تعمیراتي ماده ده چې په ننګرهار او کندهار کې ډېر دي پخوا دهغو کانونه اجاره لرونکیو ته په اجاره ورکول کېدل او په دولتي عوایدو کې یې برخه لرله. له دې سره یو ځای دلوګر د اوبازک د سیمې د سرخاورې کان او د ... د سیمې د سپینې خاورې کانونه هم د یادولو وړ دی دغه کانونه هم د دولت له خوا د داوطلبی په بڼه په اجاره ورکول کېدل او عواید یې د دولت په حساب تحویل او په عامه خدماتو کې ورڅخه کار اخیستل کېده .

ازبست ډبرې: دې ته سنګ ریشه هم ویل کېږي په صنایعو کې په کارېږي ... بېښنا او تودوخه ورڅخه نه تېرېږي لوی کانونه یې په پکتیا

ځدرانیو اونورو سیمو کې دی.

ابرک: ابرک (مایکا) په صنعتي چارو کې په کارېږي چې سپین او تور ډولونه لري دا دالماس درې، رخه، د میدان په تکانه، بدخشان او دکاپیسا بچه غان کې تثبیت شوې.

قیمتي او زینتي ډبرې: داټول کریمه احجار لکه الماس، لاجورد، لال، زمرد، کونیست، امتیت، یاقوت، فیروزه، تورمالین، بیریل، شاه مقصود ډبرې او نورې را اخلي چې له نیکه مرغه زموږ په هېواد کې دغه قیمتي ډبرې له پخوا زمانو پېژندل شوي او پوره زېرمې یې شته، ځینو یې نړیوال نوم گټلی دلته به یې ځینې بېلگې راوړو.

## لاجورد:

یوه ښکلې ډبره ده، چې د غاړکیو، گوتمیو، مریو او د پخوانیو پاچایانو په تاج کې کارول کېدل له پوډر څخه یې پوخ رنگ تر لاسه کېږي، چې په انځور گرۍ کې په کارېږي. د لاجوردو سوداگرې زرگونه کاله پخوا رواج وه چې هند او بابلستان ته وړل کېدل په لرغونو زمانو کې دافغانستان لاجوردو، مصر، یونان، هندوستان او روم کې ډېر پېریدونکي درلودل. هغه لاجورد چې د مصر د فرعونانو په اهرامونو کې کارول شوي، زموږ د هېواد دي، چې له میلاد څخه مخکې پېړیو کې له بدخشان څخه وړل شوي. په اوسني وخت کې دافغانستان لاجورد نړیوالو مارکیټو کې د ښه رنگ، ښکلا، نرموالی او ځلا له امله ښه نوم لري چې یو کیلو یې تر ۳۰۰ ډالرو بیه لري. د لاجوردو کانونه که د دولت له پلان سره سم په فني توگه استخراج او بهر ته صادر شي نو په ملي اقتصاد کې ډېر غوره اغېزه لرلای شي.

## لال (لعل):

یوه لومړۍ درجه قیمتي تیږه ده ، ځلنده سور رنګ لري ، په تېره د افغانستان د بدخشان لال نړیوال نوم لري. آن مقدوني سکندر له میلاد څخه مخکې زمونږ له هېواد څخه لال وړي وو. همدارنګه مشهور ایتالوي نړۍ ګرځیدونکی ( مارکوپولو ) د بدخشان د لال ستاینې کړې. دا دهېواد قیمتي ملي ثروت دی چې په اشکاشم ، بهارک او زردیو سیمو کې یې نامتو کانونه شته.

## زمرد :

دا په کریمه احجارو کې نړیوال لوړ ارزښت لرونکی کاني توکی دی، چې له ګلبهار څخه نیولې بیا د پنجشیر دره او پریان په سیمو کې موندل کېږي.

## کونیت:

دا یو ډول قیمتي او کمیابه ډبره ده ، چې د نورستان په کولام کې هم موندل کېږي له بده مرغه په دې هکله ډېرې څېړنې او پلټنې نه دي شوي .

## امیتیست:

دې ته بیازي لال هم ویل کېږي، یوه قیمتي تیږه ده په لغمان او کندهار کې موندل کېږي،تر اوسه فني مطالعات نه دي پرې تر سره شوي او زېرمې یې هم نه دي اټکل شوي.

## یاقوت:

دا دبیې له پلوه په دویمو درجو تیږو کې راځي ،خو بیا هم د پنځیزو شتمنیو په اقتصاد کې داقتصادي توکي په توګه ارزښت لري، علمي نوم یې (ګرانات) دی. زموږ په هېواد کې یې مشهور کان د سروبي ولسوالۍ د جګدلک او میارسول بابا په سیمو کې ښوول شوی. پوره سروې یې نه ده شوې او زېرمې یې نه دي ښودل شوي.

## شاه مقصود ډبرې :

دا هم یوه کاني ډبره ده ، لومړۍ درجه قیمتي تیږو کې نه راځي ، خو بیا هم د تسپو، ګاڼو په جوړولو او نورو برخو کې کار ترې اخیستل کېږي علمي نوم یې (سیر پنټین) دی ،رنګ یې ژیړ بخن سپین دی تراوسه د کابل ولایت د ماهیپر او دننګرهار ولایت د حصارک په سیمو کې لیدل شوي ، پوره جیولوژیکي څېړنې یې نه دي تر سره شوي نو ځکه یې د زېرمو اندازه نه ده معلومه . ددغې تېږې تسپې ښکلی رنګ او ښه بیه لري. د یادوشویو ډبرو تر څنګ یو بل ډول تیږه چې بیریل نومېږي د کونړ چپه دره کې لیدل شوې . په کونړ کې تور مالین کاني توکي هم لیدل شوي، خو پوره علمي څېړنې نه دي پرې شوي، دا دواړه تیږې په احجار نیمه کریمه کې شمېرل کېږي چې حکاکي او صنعت کې په کارېږي.

لکه چې وویل شول زموږ ګران هېواد د کاني سرچینو له پلوه شتمن دی. ان دا چې ځینې کاني توکي یې زرګونه کاله مخکې ترکار لاندې نیول شوي وو. چې په دې ډول زباتېږي چې کاني سرچینې دهېواد په اقتصاد کې خورا ارزښت لري، خو له بدهمرغه یوشمېر لاملونه شته ،چې د کانونو راتلونکې

ګټه اخیستنه او په ښه ساتنه کې باید هغو ته پاملرنه وشي. د بېلګې په ډول لکه چې مور د پنځیزو شتمنیو د پالیسۍ په هکله د کتاب په لومړي څپرکي کې یادونه کړې وه، چې د پنځیزو سرچینو په هکله پالیسي، د اړونده ادارو او دولتي ارګانو هغه نظرات دي، چې د دغې سرچینې د پرابلمونو په هکله موجود وي. همدارنګ مو د منجمنت او ادارې په برخه کې ویلي وو، چې باید پنځیزې سرچینې وکتل شي، سروې یې سرته ورسیږي. دهغو په هکله احصائیوي محاسبې موجودې اوسي، دهغو په هکله علمي څېړنه (Research) وشي، بیا د دې څېړنې له تخنیکي اړخونو سره اړه ومومي او دامو هم غوره بللې وه، چې ښه به وي چې پنځیزې شتمنۍ، زېرمې او سرچینې د عامه سکتور له خوا اداره شي. دلته به د کانونو په هکله ووایو چې غوره بریښي دافغانستان په شرایطو کې په تېره بیا قیمتي کاني توکي د دولت یا عامه سکتور له خوا پلان، اداره او استخراج شي او له عامه ګټو سره سم یې رهنمایي او کار اخیستنه تر سره شي، باید د کانونو په هکله هر اړخیزې پاملرنې راواړول شي، په دې برخه کې باید لایحې، قوانین، نظامنامې او مقررې وضع او نافذې شي، باید د لاسوهنو، غیر مجازو سوداګریو اوخپل سریو مخه ونیول شي. د کانونو په برخه کې په کلکه سره دا اړتیا لیدل کیږي چې ژورې پوهنیزې څېړنې او کتنې (مطالعات) تر سره او دهغو ریښتنې زېرمې تثبیت او بیا لازم پلانونه ورته جوړ شي، کېدای شي یوشمېر لږ بیه او پریمانه کاني توکي لکه سپینه خاوره، د سرمینځلو خاوره، ګچ، ساختماني ډبرې مرمر او نور په ډېر ښه ډول اجاره دارانو او خصوصي متشبثینو ته وسپارل شي، دقیمتي کاني توکیو لپاره دې مناسب نړیوال مارکیټونه په نظر کې ونیول شي. که چیرې یوشمېر کاني توکي د پروسس او صنعتي پړاوونو د تیرولو غوښتنه کوي،

نو ښه به وي چې ترهېواد دننه يې چارې پر مخ بوتلل شي . د کانونو په خپل سري ، غير فني ، غير قانوني او غير مجازه کيندنه او سپړنه ، په تيره بيا په کانونو کې دچاودنو تر سره کول او په نامناسبه تکنالوژۍ دهغو ايستل په کلکه منع او پرته له قانوني ، مجازو او فني چارو څخه نور هر راز لاسوهنې پرته د فني چارو او چارواکو ازګانونو نور دهرچا تثبت يو ناوړه کار ګڼل کېږي او آن ملي خيانت شمېرل کېږي . بايد عامه خلکو ته د کانونو او نورو پنځيزو سرچينو اهميت د ملي ثروت په توګه له هغو څخه عامه بهره برداري او دهغو د نه ضايع کولو په برخه کې معلومات ورکړل شي. د ملي شتمنيو او زېرمو په هکله پاملرنه بايد زموږ دخلکو د ملي شعور جز وګرځي ، کاني سرچينې په تيره هغه چې جرياني ځانګړتيا لري ، بايد تر لازمي پاملرنې لاندې وساتل شي او د له لاسه وتلو مخنيوی يې وشي ، دضايع کيدو پر ځای بايد هغه ښې وکارول شي او اعظمي او ښه ګټه ورڅخه واخيستل شي ، د بېلګې په توګه کاني چينې ( جرياني منابع ) دي ، داد وګړو دروغتيا لپاره ډېرې ګټورې دي او زياتره هېوادونه د اډول چينې نه لري. ښه به وي هغه په ارزان بيه پلاستيکي کڅوړو يا بوتلونو کې بوتل بندي او بيا بهرنيو مارکيټونو ته د صحي توکي په توګه عرضه شي او هم به ښه وي د ګرځندوي د ملي اداري له خوا دهغو شاوخوا د استراحت مرکزونه هوټلونه ، سناتوريم او نورې آسانتياوې برابرې شي دا د کاني سرچينو په هکله د ښې کار اخيستنې ساده بېلګه وه چې يادونه يې وشوه.

# اتم څپرکی

## په اقتصادي وده کې د پنځيزو سرچينو ارزښت

ان په کلاسيک اقتصاد کې د پنځيزو شتمنيو او سرچينو ارزښت ته غوټه نغوته شوې وه او پنځيزې سرچينې ( ثروت) بلل شوې وې ، بيا کله چې د انساني ټولنو اړتياوې زياتې شوې ورسره نوې پراختياوې را منځ ته شوې، له دې سره يوځای نويو جنسونو ، امتعو ، کاليو ، توکيو او د چارو سرته رسولو ته اړتيا پيښيده ، ورسره د پنځيزو سرچينو ارزښت هم زياتيده او ددغو شتمنيو وتيزه پر مختيا اسانه او ښه کيدله ، له بلې خوا ددغو سرچينو کارول او ورڅخه داړتيا وړ توکيو په را منځ ته کولو کې دهغو سيده لګول ډېرنوي څيزونه را منځ ته کوي چې دا د اقتصادي ودې بنسټيز لامل کيږي.

پنځيزې سرچينې ( طبيعي منابع) نه يوازې دا چې لويه پانګه او شتمني ده ، آن دا چې د نويو کيدونکو هغو ارزښت يې بيا تر پانګې هم لوړ دی ، له دغو سرچينو او شمتنيو څخه يو هم ځمکه ده ، سره له دې چې ځمکه د هغې په پراخه مانا پر هغې باندې ، تر هغې لاندې او په هغې کې شته ټولې شتمنې ، زېرمې اوسرچينې لکه اوبه ، ځنګلونه ، څرځايونه ، کانونه ، وحشي ژوي اونور ټول را اخلي ، خو بيا هم په ځانګړي ډول ځمکه د هغې په عام مفهوم وګړو ته داوسيدو ځای، دګرځيدو او هوساينې سيمه ( شنې کروندې ، باغونه

او نور هوساینځایونه) او نور برابروي ، خو دلته د طبیعي منابعو د اقتصاد (د پنځیزې سرچینې وتپوهنه ) کې هغه مورږ ته لومړی په کرنه کې د تولیدي عامل (Productive factor) په توګه ارزښت لري، ځکه کرنه د یو ټاکلي تولیدي پروسس په لړلو سره دلمر انرژي دونو ، بوټو او څارویو د بیولوژیکي ودې له لارې په سیده ډول تر ګټې اخیستنې لاندې راولي ،نو ډېر زیات شیان ، ان دا چې هر هغه څه چې مورږ یې دانرژي اوغذا ( خوړو ) په توګه کاروو د شنو پوښونو ( ټول ونې او بوټې) څخه را تر لاسه کېږي ، دا بیا نیغ په نیغه کاروو او زموږ خوراکي توکي جوړوي ، لکه غلې ، دانې ، مېوې ، سابه او نور ، یا یې له یو بیل پړاو څخه وروسته په کار وړو ( څاروي روزل ،بیا دهغو له محصولاتو ګټه اخیستل چې څاروي په خپله له همدغو بوټو څخه تغذیه کېږي ) .

دلته د لمر انرژی د فوتو سنتیز د پړاو په تیرولو په ونو او بوټو کې بدلون مومي ، نو د بیوسفیر فوتو سنتیک سطحه مخامخ د نباتاتو په کرنې پورې اړه لري ! چې دا په خپله دښې خاورې ( Soil ) شته والي پورې تړلی او هېڅوک ددې له ارزښت څخه سترګې نه شي پټولای ( ۲۷ ) .

دځمکې پر مخ ونې ، بوټي (Plants) د لمر رڼا ( نورې انرژی) په کیمیاوي او انرژي ( خوړو ) باندې بدلوي. واښه خوړونکې څاروي نیغ په نیغه له همدغو بوټو څخه ا و وګړي بیا له ژویو اوونو بوټو ( نباتاتو ) څخه یعنې له دواړو څخه ګټه اخلي ( ۲۰ ) حال دا چې د کانونو او دځمکنیو زېرمو او تر ځمکې لاندې ګټورو توکیو د اقتصادي ګټې اخیستنې لپاره بیا دانسان فعالیت د بیوسفیر د مولدیت د کیفي بدلونونو تابع دی او دا جیولوژیکي ځانګړتیا لري. ځمکو او پر ځمکه د کرنیزو فعالیتونو او له هغو څخه د اقتصادي حوایجو پوره کولو انسان دی ته اړ ایستې چې دځمکې

د مولديت سطحه تر ممکن حده اوچته کړي . د غلو دانو حاصل چې له ۱۵
پېړۍ څخه تر ۱۸ پېړۍ پورې په يوه هکتار کې ۶۰۰-۷۰۰ کيلوګرامو او
اوس په پرمختللو هېوادو کې ۱۶۰۰ کيلوګرامو پورې له يو هکتار څخه
اوچت شوي او تخمين کېږي، چې د يو ويشتمې پېړۍ په نيمايي کې به له
يوه هکتار څخه ۳۰۰۰-۴۰۰۰ کيلوګرامو پورې دغه حاصل اوچت شي
(۲۷) دغه ارقام ښکاره کوي چې طبيعي منابع او له هغې جملې ځمکه نه
يوازې پخوا يا اوس اهميت درلود او لري يې بلکې اهميت يې ورځ په ورځ
زياتېږي هم Raligh Barlow د د خپلې څېړنې په نتيجه کې په خپل
مشهور اثر (غير معقوله شتمني) کې د کاناډا او متحده ايالاتو د ترقي راز
د هغو په حاصلخيزو کرنيزو ځمکو کې بولي. هغه شمېر سيمې چې د هر
څېړځايونه لري د رمو او ګلو په روزنه کې اغيزناکې بلل شوي. او د مالدارۍ
د ترقي سبب شوي مثلاً همدا اوس آستراليا د همدې منبع په لرلو سره د
تولې نړۍ نيمايي برخه وړۍ توليد او بهرته لېږي او د غو ښې د توليد له
پلوه لوړ مقام لري . دغه راز روسيه هم د کافي مالدارۍ له پلوه د غوښې مهم
توليدونکی هېواد دی د امريکا متحده ايالات د څړځايونو د لرلو له کبله د
۱۱۰ ميليونو څارويو په لرلو درېيم هېواد بلل کېږي د امريکا د لويديځ
څړځايونو او د سويل ختيځ په څړځايونو کې د غوښې د توليد خوسکي روزل
کېږي د امريکا په څړځايونو کې د تکزاس ، آيووا ، نراسکا او کانزاس د غوا
روزلو فارمونه شهرت لري، چې په کال کې ۹٤ ليتر ، شيدې توليدوي چې د
نشنل دايرې او بوراني ادارو له خوا کنترولېږي . د کاناډا مانيتوبا ،
ساسکاچيوان ، او البرته سيمې د څړځايونو او زراعتي محصولاتو په لرلو د
کاناډا مهمې اقتصادي سيمې دي انګلستان د خپلو پشمي توليداتو له
مخې نړيوال شهرت لري، چې د دغه هېواد ۷۰ په سلو کې کرنيزې

ځمکې او څرځایونه دي. هغه کافي اندازه حیواني خوراکه چې له دغو څرځایونو ترلاسه کېږي. د مالداري سکتور ته یې رونق ورکړی. همدا اوس په انګلستان کې ۱۳ میلیونه غواوې او ۳٤ میلیونه پسونه چې لوړې ګټې لرونکې دي روزل کېږي چې دا د کافي څرځایونو د موجودیت له برکته ده، چې د دوی په اقتصاد کې ستره ونډه لري. په تېره بیا په اوسني وخت کې چې ځینې حیواني محصولات لکه لبنیات، چرم، غوښه او کولمې ډېر لوړ ارزښت لري او یوشمېر حیواني محصولات لکه وړۍ فوق العاده صنعتي ارزښت لري. د طبیعي منابعو په لړ کې ځنګلونه دهغو د لرګیو (خصوصاً د صنعتي لرګیو دارزښت) له پلوه خورا ډېر مهم دي. نن ورځ لرګي د هغه د اهمیت له مخې چې لري یې یوه باارزښته ماده بلل کېږي. همدارنګه د صنعت له پرمختګ سره د کاني موادو اقتصادي اهمیت فوق العاده لوړ دی. هغو مېوادو چې د کانونو استخراج ته یې وده ورکړې د غه منابع د دوی د اقتصادي ودې غوره توکي بلل شوي په تېره بیا فلزات هغه مهم کاني مواد دي چې هم د هېوادونو ملي محصول او هم په بهرني تجارت کې مهم رول لري چې په نهایت کې د دوی د اقتصادي ودې لامل کېږي، پورتني مثالونه چې ذکر شول. د نړۍ په پرمختللیو هېوادو کې دي باید ووایو چې د پرمختیایي هېوادو لپاره د دوی طبیعي منابع د دوی په اقتصادي وده کې لازیات اهمیت لري. داځکه چې په دې کې هیڅ شک نشته چې د پرمختیایي هېوادو د صنعتي کولو او اقتصادي ودې ډېر مهم فکتور د موجود و طبیعي منابعو خصوصیت دی. د دغو منابعو اهمیت یوازې په دې کې نه دی چې له هغوی څخه په صنعت کې د کار اخیستلو امکانات شته دي، بلکې په دې کې هم دي چې د دوی (احتمالي ماشینونه) هم دي (۲۱) ځکه چې هر پرمختیایي هېواد (د خپل وروسته پاتې والي

ددرجې له مخې په بېلابېلو اندازو) له صنعتي هېوادونو څخه د ماشینونو او تجهیزاتو واردولو ته اړتیا لري او ددغو وارداتو تمویل د اومو موادو د صادراتو د پیسو په واسطه د پرمختیایي هېوادو د اقتصادي او سیاسي خپلواکۍ له مخې ددوی د صنعتي کېدو په لومړیو پړاوونو کې یو ډېر ناوړه حالت دی ځکه دوی له صادراتو څخه ډېرې لږې پیسې. تر لاسه کولای شي مګر په وارداتو باندې ډېر زیات اسعار لګوي، نو دوی ته یوه مناسبه لاره له خپلو کورنیو منابعو څخه ښه او معقوله استفاده ده.

# د افغانستان د ځانګړي جغرافیاوي موقعیت او ځانګړنو له مخې د طبیعي منابعو اقتصادي ارزښت

دهېوادونو په اقتصادي رفاه، وده او حتی سیاسي، اجتماعي او کولتوري حالت باندې د دوی جغرافیاوي موقعیت اغېز لري. بې ځایه نه ده چې ویل کېږي چې مثلاً A یا B هېواد نظر یو بل C هېواد ته د مناسب جغرافیاوي موقعیت له کبله وده موندلې. یو شمېر هېوادونه دخپل جغرافیاوي موقعیت له مخې د تاریخ په بېلابېلو وختونو کې د سوداګرۍ په لارو کې موقعیت درلود چې دغه عامل ددوی په عوایدو او اقتصادي حالت غوره اغېزه لرلې. ځینو هېوادونو مثلاً د سویس او پانامې کانال په څېر یا دمهمو بندري تاسیساتو په لرلو سره مهم عایداتي مدارک لري. ځینې بیا یوازې د یوې طبیعي منبع په لرلو سره خپله اقتصادي وده تامین کړې مثلاً د خلیج هېوادونو د نفتو په را ایستنه او صدور او یو شمېر

افریقایي هېوادونو د قیمتي احجارو او د نجیبه عناصرو په را ایستنه شهرت گټلی او ددوی په اقتصاد یې غوره اغیز کړی. زموږ هېواد د خپل جغرافیاوي موقعیت او جغرافیاوي ځانگړنو له مخې له نیکه مرغه راز راز اقلیم لري او د طبیعي شتمنیو له پلوه شتمن هېواد دی مگر د ټرانسپورټي لاروسټونزې لري، له دې کبله چې د وچې په واسطه را چاپېر دی له بحري ټرانسپورټ څخه محروم دی، ځمکنی ټرانسپورټ د نه تېرونکیو غرونو او پېچو مولو له امله ستونزې لري او هوایي ټرانسپورټ ډېر گران تمامېږي همدارنگه کوم ځانگړی بندري لاره هم نه لري. له بله پلوه د هېواد اقتصادي جوړښت داسې دی چې تراوسه پوره واکمن سکټور کرنه ده. له بده مرغه په دغه سکټور کې زیات شمېر وگړي (د ټول نفوس ۸۵٪ برخه د بشري ځواکونو ۸۱٪ برخه) په دې سکټور کې بوخت ده خو د ځینو ستونزو له امله نور سکټورونه خورا کمزوري دي زموږ د هېواد اقتصادي ځانگړنې داسې دي:

- **د ټولو ملي تولیداتو (G.N.P) ډېره ټیټه سطحه:** د ملگرو ملتونو د ۱۹۹۶ کال له راپور سره سم، افغانستان د نړۍ ۱۵۰ هېوادونو په ډله کې او د منځني آسیا د لسو هېوادونو په ببل گروپ کې د ۲۸۰ ډالرو ملي کلنۍ مجموعي تولید په لرلو وروستی ځای لري په ۱۳۵۷ کال کې یې سړي سر کلني عاید ۱۸۰ ډالره ښوول شوي.

- **د مارکیټ وروسته پاتې مکانیزم:** په ښارونو کې د مارکیټ د میکانیزم یوڅه نسبي شته خو هغه لږ پرتې سیمې، چې د جغرافیایي عواملو له کبله له ښارونو او مارکیټ سره ضعیفې اړیکې لري او د طبیعي عوارضو، او غرونو له کبله اساسي لارې نه دي راغلي، هلته د کالیو تولید او بازارته د وړاندې کولو په موخه د هغو پروسس ډېر لږ لیدل کېږي حتی

دغو د ښاري عواملو له کبله لرې پرتو ګوښه سیموکې اوسي هم یو ډول ( د طبیعي اقتصاد دورې ) واکمن دی.

- **بوازې د یو سکتـــور (زراعت) :** مسلط والی او دملي اقتصاد نا انډوله جوړښت.

- داچې د پروفیسور لېتیف له وینا سره سم د طبیعي منابعو سرچینه جغرافیاوي او جیولوژیکي سرچینه لري زمونږ هېواد هم کافي راز راز طبیعي منابع لري مګر دغه منابع تر اوسه پوره لاسبري لاندې نه دي راغلي مثلاً له روانو اوبو څخه ۳۰ فیصده ګټه هم نه اخیستل کېږي ، د څړځایونو ځنګلونو او ځینې رابرسیره شویو کانونو په تېره بیا دشمال پسیمه کې تر علمي او فني استفادې لاندې نه دي حتی دهغو د تخریب او لوټیدو خطر موجود دی.

- داغېزمنې او مولدې پانګې لږوالی :

په دې توګه لیدل کېږي چې دهېوادو وروسته پاتې حالت د جغرافیاوي موقعیت او خصوصیاتو له مخې دځانګړو تدابیرو په نیولو ښه کېدای شي او د طبیعي منابعو تر لاسبري لاندې راوستل او په علمي او فني توګه دهغو اداره او ګټه اخیستنه غوره اړتیا ده . د دغو منابعو ګټه اخیستنه د اقتصادي جوړښت (Economics Stucture) دښه کېدو ، د په کار ګومارلو د سم مهال را منځته کول ، د ټولو جغرافیاوي سیمو سم انډوله وده ، د مولدو سکتورونو د پرمختګ ، کرنې ته د وسایلو او اړتیاو برابرول په بهرنې تجارت کې د بېلانس را منځ ته کېدو ، د خامو موادو ښه تخصیص ، د مولدې او اغېزمنې پانګې د تشکل او بالاخره د کامل اقتصاد خوځنده او مثبت بدلون لامل کېږي . مثلاً د اوبو د منبع ښه په کار اچونه د پوره بوازې کرنیزو ځمکو د پراختیا ، د بریښنا د انرژۍ د زیاتوالي او دکبانو د

روزنې لامل کېدای شي ، د کرنيز وځمکو پراختيا د زراعتي محصولاتو د زياتوالي لامل کېږي ، د بريښنا انرژي ښارونو او هغو سيمو ته چې له دغو روانو سيندونو سره نږدې موقعيت لري د ګټې اخيستنې وړ کېږي او خلک د ځنګلونو د لرګيو په مصرف کې کمښت راولي مګر بالمقابل لرې پرتو سيمو ته چې جغرافياوي موقعيت له امله بريښنا رسول ستونزمن دي نوايجاب کوي چې د نفتو او ګازو د ډبرو د سکرو منابع وپلټل شي. صنعت ته له کرنې سره په سم انډوله ورکولې د لاندنيو دلايلو له مخې ضرور ده.

- دهېواد د ځانګړي جغرافياوي موقعيت له مخې د زياترو وارداتي اقلامو بيه ډېره اوچته تماميږي د ځينو اقلامو دټرانسپورټ لګښت په خپله دجنس له بيې څخه هم لوړ تماميږي حال دا چې د کانونو په را ايستلو سره کېدای شي داسې توکي زياتره ترهېواد دننه توليد شي ساختماني مواد ، مالګه ، دسون مواد ( د ډبرو سکاره ، نفت او ګاز )

- د کرنې د سکتور زياتې اړتياوې دنورو منابعو په ښه تاکنه ، پلټنه ، را ايستلو ، تنظيم او چمتو کولو سره پوره کېدای شي چې له نيکه مرغه دغه امکان زموږ په هېواد کې شته مثلاً د اوبو د بندونو په جوړولو کرنيزې ځمکې پراختيا موندلای شي، دکاني موادو په را ايستلو او د صنعت له پرمختګ سره کرنې ته کيمياوي سره ، درمل ، اسباب او وسايل او نور په ښه توګه دهېواد د توليد او عرضه کېدای شي ، د ډبرو دسکرو اونفتو په استخراج د ځنګلونو د بيځايه وهلو او د څرځايونو ، بوټو د سون مخنيوی کېږي او په نتيجه کې دا د مالدارۍ په برخه کې مثبت رول لوبولای شي او داسې نور مثالونه ، برسېره پردې موږ اړيو د اقتصادي جوړښت د ښه کېدو لپاره صنعت ته کرنې سره په متوازنې توګه وده ورکړو يعنې له طبيعي منابعو څخه اغيزمنه ګټه واخلو او د ملي اقتصاد د مناسبې ودې رشد

Balanced growth لامل کېدای شي، چې دلته د هېواد په بېلابېلو سیموکې بېلابېل انډولونه په عین زمان کې وده کوي او اقتصادي ویش د اقتصادي بېلابېلو مرحلو په ترڅ کې په هماهنګه توګه وده مومي او دا په هېواد کې د جغرافیاوي سیمو د اقتصادي ، اجتماعي ، کولتوري ودې نا انډوله حالت رفع او متوازنه وده را منځ ته کوي او په پایله کې له تولیداتو سره مرسته کېږي ، دکار ښه ویش د تخنیکي ، محلي او عضوي مهارتونو څخه د ښې استفادې د خامو موادو ښه کارولو د مارکیټونو د پراختیا د کار له ځواکونو او پانګې څخه ښې بهره بردارۍ سبب کېږي . له طبیعي منابعو څخه په تدریج سره استفاده د تولید حجم زیاتېږي او خارجي اسعارو د جذب زمینه برابره او پانګه تشکیل مومي او په خپله صنعتي پرمختګ ته زمینه برابروي ( ۲۸ ) او له دې سره یوځای دسکتورونو تر منځ د سرمایې تبادله لوړېږي. او لویې شبکې لکه عامه خدمات او ترانسپورټ چې له بده مرغه د ځینو جغرافیاوي موانعو له کبله محدودې وي ښه والی مومي د دې حالت ښه کیدل د دې لامل ګرځي، چې د ښارونو فابریکو تولید شوي توکي له ښار څخه کلیو ته انتقال شي . د نویو منابعو په کار اچونه د هغو اجاره ، کرایه ، ټکس او نور د دولت د عایداتو د لوړیدو سبب کېږي او د غه عایدات بیا د خلکو په ښوونه روزنه ، صحي خدماتو او نورو کې لګېږي په تېره بیا دا په جغرافیاوي سیمو کې د عادلانه ویش امکان برابر وي. له طبیعي منابعو څخه د مناسبې ګټې اخیستنې یوه بله ګټه داده چې پانګه را کده نه پاتې کېږي، یعنې د کومې اقتصادي برخې د پانګې اچونې له پلوه د بسیاینې تر بریده رسېږي نو اضافي پانګه د نورو طبیعي منابعو په کار اچونه کې لګول کېدای شي او دا په خپله د تولید د لازم انډول لامل کېږي او د اقتصاد ټولو برخو ته خام مواد چمتو

کېږي يعنې د خامومو ادو کموالی هم له منځه ځي. د طبيعي منابعو بشپړه په کار اچونه د خلکو په مصرفي توکيو کې رنګارنګي راولي، چې پخوا تر دې دجغرافياوي عواملو له کبله د دغې رنګارنګۍ امکان موجود نه و ، خو دهرې طبيعي منبع له په کار اچونې سره دراز راز محصولاتو توليد او بيا دهغو عرضه دا رنګارنګي ممکنه کوي.

* * * *

د پوهنيزو څېړنو او پلټنو له مخې داسې ښکاري چې زموږ هېواد د طبيعي منابعو د لرلو له مخې ډېر يو شتمن هېواد دی ، داچې تر اوسه دغه منابع په لازمه توګه نه دي پلټل شوي او د پرمختللې او مناسبې ټکنالوژۍ ، مهارتونو ، او کافي فني کدرونو د پانګې دکمښت له امله بيخي تر کار لاندې نه دي راغلي دا بېله خبره ده . دهېواد داقتصادي سيمو موقعيت او طبيعي جوړښت داسې دی چې په هغه کې راز راز اقليم لکه ډېرې سړې او تودې سيمې ، معتدلې او دلوند ژمي لرونکې سيمې د لوند اقليم حتی د مديترانه يي ځانګړنو لرونکې سيمې ، او د دښتو او لرونکې سيمې ، هواره جلګې د هامونونو ، ځوړ لرونکو سيندونو ، کافي د لمر وړانګو او نورو خواص لرونکې سيمې شته. مساعد اقليم د لمر ځلنده وړانګې داوبو کافي کلنی جريان د دې سبب کېدای شي چې راتلونکې کې کرنې ته ښه انکشاف ورکړی شي ، که دهېواد له مساحت څخه ۳۹۶۱۰ زره هکتاره د کرنې وړ ځمکه ټوله ترکښت لاندې راشي يعنې د ځمکې اقتصادي چوکاټ تر يوه خده دهغې فزيکي چوکاټ ته نږدې کړای شي او دغه منبسط استعمال د يوې پروسې په توګه ومنو او د خاورې ګټورتيا ، دهغې دښې او ډېرې ګټې اخيستنې لپاره هڅې وشي د ډېر لوړ حاصل تمه کېدای شي ، يعنې دلته لوړې ګټې دفني واحد د حاصلاتو د لوړو په پرتله، دکرنيزو ځمکو پراخيا

په نظر کې لرو. اما دغه منبسط استعمال په هېواد کې دځړځايونو او ځنګلونو اړول په کروندو په نظر کې نه بلکې په ښارو او خاره ځمکو کې د افغانستان د ځمکو د راتلونکي پېر په هکله دهغې ساتنه (Conservation of Land Resource) مهمه ده. دځمکې ساتنه د تخنيکي ښکارېنو له نظره داده چې د هغې د خاورې له منځه تلل، دخاورو د حاصل ...دل د باد او سيلاب په واسطه دهغې تخريب او سوليدو مخه ونيول شي او په پراخه مانا ساتنه بله مانا هم لري يعني د هر استعمال ساتنه ځانګړې ځاى، چې دلته موسساتي، اخلاقي، تفريحي او نور ټول په نظر کې نيول کېږي دا به مناسبه نه وي چې تفريحي ځمکه ټرانسپورټي استعمال باندې بدله کړو يا خدماتي ځمکې د تجارت لپاره يا هم کرنيزې ځمکې د استوګنې لپاره غوره شي چې دهغې ناتاواني شوى ماهيت او د سم استعمال اجازه خوندي پاتې شي. او راتلونکې نسلونه يې هم د همدې موخو لپاره وکارولاى شي دځمکې په استعمال کې بايد داصلي (لوړو) ګټو تر څنګ غير محسوسې ګټې او فرعي ګټې ټولې په نظر کې ونيول شي يعنې هغه کيورتياوې چې په ارقامو نشي ارائه کېداى او اضافي ارزښتونه هم راواخلي. دځمکې د دوراني او راتلونکې کارونې لپاره بايد يو ټولنيز علمي سيستم پلان موجود وي او د ښارو، سيمو او ناحيو محلاتو د قانون او پلان جوړونو ارګانونه اجازه ورنه کړي چې مثلاً کرنيزې ځمکې د اوسيدو لپاره وکاروي يا دخاورې تخريب پيل شي يا ځنګلونه او ځړځايونه تر ډېر استعمال لاندې راشي دا چې دځمکو کرنيز استعمال په هغو باندې د ښاتانو ښه کول افاده کوي، نو دلته دځمکې د منبع کيفيت مهم دى او کيفيت د اقليم، تودوخې، توپوګرافي او اوبو له څرنګوالي څخه عبارت دي له نيکه مرغه دهېواد زياتره ځمکې داقليم، لازمې تودوخې (د لمر له

وړانگو څخه برخمنې دي مگر د اوبو د رسولو د شبکو او د اوبخور سیستم ستونزې دهغو څرنگوالی محدود کړی د چې که چیرې دغې ټولې ځمکې ته اوبه ورسول شي نو کرنیز محصولات داوس په پرتله څو څو ځله لوړېدای شي. د دې موخې لپاره یو اړین اقدام د اوبو له منابعو څخه لازمه استفاده ده. داوبو د منبع د دورني په هکله باید ځینې حقایق له نظره تیر کړو. د اوبو منبع د افغانستان دکرنې مالدارۍ په برخه کې زیات رول لري د راتلونکې لپاره دهریررود، فراه رود، کوکچې، کونړ، کابل آمو او هلمند له سیندونو څخه د ډېرې پراخې استفادې امکان شته چې هم د بریښنا په تولید هم دکبانو په روزنې او هم دکرنیزو ځمکو د خړوبولو لپاره مهار او تنظیم کېدای شي. دهېواد اوبو د ټول ۵۰-۵۵ میلیارد متر مکعب کلنې جریان له جملې څخه د آمو سیند 2000m2/sec دکونړ سیند ۳۷۳ مترمکعبه په یوه ثانیه کې او دهلمند سیند ۲۰۰ متره مکعبه اوبه په یوه ثانیه کې لري. د آمو حوزه د ټولې هېواد د اوبو د منابعو ۳۲٪ برخه د سیستان حوزه یې ۲٤٪ برخه جوړوي. دبلخ او آقچې د سیندونو له اوبو څخه په استفادې ۸۰۰۰۰ هکتاره نوره د کرنې وړ ځمکه اوبه ترلاسه کولای شي، چې تراوسه شاړه ده د آمو له سیند څخه دخوش تیپه موجوده لامزروع ځمکې او به کېدای شي کوکچه سربېره پردې چې د «سفلا کوکچه» په برخه کې د بریښنا د تولید کافي امکان لري. دقلعه تخار د ښتې، دارچې دښتې او شیرماهي سیمې خړوبولای شي. فرار رود ۱,۲ میلیون متر مکعته کلنی جریان لري چې ۸۵۰۰۰ هکتاره نوري کرنیزې ځمکې په دغو سیمو کې خړوبیدلای شي د فرار رود په سیند باندې د بخش اسجار د بند په جوړولو سره د فراه او نیمروز ټولې هموارې ځمکې چې زرگونه هکتاره کېږي تر کرنې لاندې راتلای شي، هریررود ۷۳۰۰۰

هکتاره لویه کرنیزه ځمکه ابادولای شي . د هلمند سیند دستري شتمنۍ آر دادی چې د کمال خان او سیخ سربندونو په جوړ لو ډېرې برخې دښتې چې دهېواد په سویل او سویل لویدیزو ولایاتو کې دي په کرنیزو ځمکو بدلوي. آن ددغه سیند اوبه گودزرې پورې هم رسول کېدای شي بیا د هلمند او نیمروز پراخې دښتې آبادولای شي. دغه راز که د کونړ او پنجشیر سیمې (خصوصاً له گلبهار څخه یو کیلو متر پورته) اود کابل په سیند بېلابېلو واټنونو کې کانالونه ، ویالې او بندونه جوړ شي د څړځایونو تر شپړو کلو اودبرېښنا د ارزانۍ لپاره لازم امکانات برابروي .

ځنګلونه د هېواد هغه شتمني ده ، چې نه یوازې د یو استعمال (لرگیو) له پلوه بلکې له څو څو پلوه فوق العاده اهمیت لري. نورستان ، کونړ ، ځاځي ارگون ځدران او د پکتیا او د میدان په خوله کې هغه ځنګلونه دي چې د بې میوو ونو له پلوه ډېر غني دي دا ځنګلونه سره له دې چې دخپلو ونو د ترتیب له پلوه اکثراً گډ دي، مگر د بادغیس ځنګلونه بیا د پستې د تولید له پلوه فوق العاده ارزښت لري، دځینې ولایتونو لکه دننگرهار ، لغمان او پکتیکا ځنګلونو د جلغوزې ، بادامو ، غوزو او عنابو او نورو له پلوه اهمیت لري په هر ترتیب له بده مرغه د هېواد د ځنګلونو لرلید ته دغیرفني اشخاصو د لرگو د تجارو او بیرحمانه پرې کولو له امله تهدید متوجه دی د پکتیا یو شمېر خلکو د کرنیزو ،ځمکو د پیدا کولو لپاره دځنګلونو پرې کولو ته ملا تړلې که وغواړو د ځنګلونو د لرلید لپاره دهېواد د محلي ارنیاوو په نظر کې نیولو سره لاندې ټکي د پاملرنې وړ دي:

۱) له ځنګلونو څخه د گټې اخیستنې په صورت کې باید هغه ونې چې دفني کسانو له نظر نه تیرې شوې دي،پرې او په ځای یې ځنګل ته دبېرته شنه کېدو موقع او دنویو نیالگیو د رسیدلو موقع ورکړی شي. پرته له هغه

باید د بېړنیو موخو په پرتله داوږدې مودې موخو ته لومړیتوب ورکړی شي او د ځنګلونو یوهدفه استعمال د هغه د څو هدفه استعمال تابع شي.

۲) باید د کرنیزو ځمکو ، څړځایونو او ځنګلونو د تنظیم تر منځ برابرې اړیکې را منځ ته شي او له لوایحو سره سمې برابرې شي.

۳) دنویو ځنګلونو احداث ته کلکه اړتیا ده.

٤) داچې په هر حالت کې دځنګلونو لرګیو ته ضرورت شته نو هڅه دې وشي چې له لرګیو څخه په اقتصادي توګه استفاده وشي.

٥) یو شمېر مسلکي ځنګل ساتونکي وروزل شي او بیا په لازمو ځایو کې استخدام شي.

٦) دځنګل او څړځای ساتنو د قوانیو جوړول اونافذول، هغه اقدام دی چې د ځنګلونو او څړځایونو راتلونکی ساتي .

ددې تر څنګ څړځایونه د هېواد د مالدارۍ په برخه کې مهم اهمیت لري که چېرې دهغه په استعمال کې تناوب وساتل شي د بې ځایه للمي کرنې له استعمال څخه وژغورل شي نو راتلونکې یې روښانه ښکاري.

وحشي ژوي د هېواد مهم ثروت دی، چې د خپلو محصولاتو ( غوښې، څرمن ، ښکرو ، ښکو ) له مخې او ځینې یې د خپل کمیابۍ او ښکلا له مخې او ځینې د محلي اهلي ژویو دنسل په ښه کولو او ځینې یې دعلمي پوهنیزو څېړنو له مخې ارزښت لري په راتلونکې کې د وحشي ژویو روزنې د هغوی د بیولوژیکي هبیتات ساتنې ، دهغو د غیر مجاز ښکار مخنیوی ، دځنګلونو او څړځایو ساتنې او په یو شمېر سیمو کې هغو ته د اوبو په برابرولو تضمین کېدای شي. په تیره بیا هغه ژوي چې بلینوم ژوند لري نو هلته باید د ایکو او فزیکي سېستم د ټولو اجزاوو رعایت وشي. په ځینو هېوادو کې د دغو ثروتونو ( هم ځنګل هم څړځای هم وحشي ژویو ) د ساتنې

لپاره ښې سیمې ( ملي پارکونو National Parks ) په توګه اعلان او هلته د ښکار ، دونو د وهلو داهلي ژویو د مضرځې دحریق او میشته کیدو ممانعت اعلانېږي. زموږ په هېواد کې د غزني ولاړې اوبه ، لوی پامیر اجرستان ، نورستان ، بندامیر د ملي پارکونو په توګه ښودل شوي دي او دهغو لازم مراقبت به کېده او په هر کال به په زرګونو بهرنیانو له هغو څخه لیدنه او عکس برداري کوله او زموږ یوشمېر هېوادوال به د تفریح لپاره ورتلل. پرمختللي هېوادونه په دې برخه کې ډېر دقت کوي او دخپلو طبیعي شتمنیو ساتلو لپاره کلک قوانین او بې شمېره پوهنیزې او څېړنیزې ادارې لري. مثلاً دامریکا په متحده ایالاتو کې دفدرالي ځمکو او طبیعي زېرمو د ساتنې لپاره خپلواکې لویې ادارې شته ، د بېلګې په توګه د کبانو او وحشي ځناورو د خدمانو اداره ، دوحشي ژویو د ٤٤٢ سیمو ساتنه کوي ، او دځینې مرغانو داوسیدلو اوزېږېدنې داوبو د ډنډونو د ١٥٠ سیمو د وحشي حیواناتو د تکثیر او د کبانو د روزنې او هګۍ اچولو د ډنډونو ساتنه کوي، د ملي پارکونو خدمات له ٣٤٠ څخه د زیاتو ملي پارکونو او تاریخي منظرو ، د سیندونو لارې ، د سمندرونو غارې ، تفریحي ځایونو او تاریخي منظرو دساتلو او اداره کولو مسوولیت لري . دځمکو داداري د دفتر له لارې دځمکو او سرچینو ساتنه کوي همدارنګه د معدنونو تنظیم دمنرالونو د منابعو (سرچینو) له لارې کوي ( ٢٢ ) په دې توګه د راتلونکي لپاره د هېواد د طبیعي منابعو لرلید له طبیعي منابعو څخه په سمې ګټې اخیستنې پورې اړه لري، نه دا چې په خپل حال پرېښودل شي ، باید داسې تدبیرونه وسنجول شي چې طبیعي منابع لکه خاوره نباتات او حیوانات د چاپیریال ککړتیا د ایکولوژیکي کړنلارې له مخې وڅېړل شي د کیمیاوي زهري مرکباتو بې ځایه علاوه کول هم په چاپیریال کې په طبیعي منابعو منفي اغېزه لرلای شي .

نو باید ټول آفت وژونکي صنعتي اضافي محلولونه ، زهري ګازي او نور مسموم کوونکي مرکبات د فني اشخاصو تر نظر لاندې رفع او استعمال شي. دانه یوازې دونو بوټو او دوچې وحشي ژویو په هکله مهمه خبره ده بلکې په راتلونکي کې د کبانو لپاره هم مهمه خبره ده. د راتلونکي لپاره باید د چاپیریال د ساتلو قوانین ، دښکار قانون د ځنګلونو قانون د څرځایونو قانون داوبه خور قانون او داسې نور قوانین ولرو ، دهیواد طبیعي منابعو راتلونکې په دې پورې هم اړه لري چې د چاپیریال ککړتیا او د ایکو سیستمونو پر فزیالوجۍ باندې د هغې اغېزې په علمي ډول په سمه توګه وڅېړل شي . ددولتي ارګانونو ، دکرنې وزارت ، ښاروالي ګانې ، د پلان وزارت ، دهیواد د چاپیریال ساتنې کمیټه (چې په نړۍ کې دغه کمېټه د MAB په نوم یادېږي او دیو نسکو د ملي کمیسیون یوه څانګه ده) دښوونې اوروزنې ریاست په دې هکله ځانګړې رسالت اومسولیت لري .

په ځینو سیمو کې د ژورو څاګانو کیندل دغه لرلید نوره هم امیدواره کوونکي کولای شي لکه په سویل او سویل لویدیزو دښتو کې چې کافي ګرونتې زیرمې لري، دا چې له بده مرغه زمونږ په هیواد کې هم ( د یوویشتمې پېړۍ په پیل کې ) د انرژي لویه سرچینه د سون لرګي دي او آن ۹۹ فیصده کړکۍ، دروازې او کتارې له لرګي څخه جوړېږي نو باید له هغه تخنیک څخه کار واخلو چې د لرګیو مصرف یې کم وي، یا هم په ډېره اغېزمنه توګه استعمال شي. قوریې اونرسري ګانې دځنګلونو دښې راتلونکې ضامنې بلل کېږي . دغه راز د هیواد کانونه او معادن هم مهمه شتمني ده، په دې برخه کې له بده مرغه پوهنیزې څېړنې او پلټنې ډېرې ناڅیزه او کمې دي ، دغه زیرمې تر هغه څه چې اوس ټاکلې او تخمین شوي څو څو ځله زیاتې دي. له بده مرغه په دې برخه کې اوسنۍ دودیاله ټکنالوژي وروسته پاتې ده، د افغانستان کانونه د راتلونکي لپاره د لا زیاتو څېړنو او پرمختللې ټکنالوژۍ او جیولوژیکي څېړنو او شننو غوښتنه کوي.

# اخځونه


۱ - امین ، حمیدالله : نظرې به جغرافیایي زراعتي افغانستان : د ادبیاتو او بشري پوهنو پوهنځی کابل پوهنتون - ۱۳۵۲ لمریز

۲ - امین ، حمیدالله : جغرافیاي صنعتي افغانستان : کابل پوهنتون خپرونې - ۱۳۶۰ لمریز

۳ - امین ، حمیدالله او پوهنوال محمد ظریف تنیوال : جغرافیایي اقتصادي افغانستان ، کابل پوهنتون ۱۳۶۵ لمریز

٤ - حسن یار ، سید امیر شاه : جنگل های طبیعي افغانستان ، د کابل پوهنتون د کرنې پوهنځي ۱۳٦٤ لمریز

۵ - حسن یار ، سید امیر شاه : اکولوجي افغانستان د کابل پوهنتون کرنې پوهنځی ۱۳٦۳ لمریز.

٦ - حسن یار سید امیر شاه : په افغانستان کې د چاپیریال ساتنه (ژباړونکي : لطف الرحمن خاموش) ، د اریک کتاب خپرولو اداره ، پېښور ۱۳۷۸.

۷ - ځواکمن ، رحمت گل : د ننگرهار ، کرنیزه جغرافیه د افغانستان د علومو اکاډمي ، د کیمیا او بیولوژي مرکز ۱۳٦۸ کابل.

۸ - م . در علم انتي دورېنگ د چاپ او خپرونو دولتي کومېټه ، کال پر له پسې گڼه ۵۷ .

۹- دوديال ، محمد بشير : ( پوويشتمه پېړۍ او ايکولوژيکي ستونزې ) پېغام جريده ، څلورم کال ، شپږمه گڼه ، پر له پسې گڼه ۷۴-۷۵ ، ۱۳۷۵ د افغانستان د اسلامي فرهنگي مرکز خپرونه .

۱۰- دوديال ،محمد بشير : ( د افغانستان د کرنې په سکتور .... ) هيله مجله ، دويم کال ، شپږمه گڼه ۱۳۷۷ پېښور .

۱۱- دريځ ، امين الله : ( دافغانستان دکانونو بيا رغاونه ) تعاون (مجله) د متا خپرونه پينځمه گڼه، شپږم کال پېښور ۱۳۷۷ .

۱۲- رحمتي ، محب الله : جغرافيايي بشري افغانستان کابل پوهنتون ۱۳٦٤ .

۱۳- زهير ، د پلوم انجنير ستانه مير : جنگهای بیست ساله وتباهی ذخاير معدني افغانستان د افغانستان د مطالعاتو مرکز(A.S.C)۱۹۹۸ ع.

۱٤- سرابي ، عبدالواحد : تاريخ نظريات اقتصادي اقتصاد پوهنځې کابل پوهنتون ۱۳٦۳ .

۱۵- شبان ، محمد انور : تيوريها ، عوامل وسياست های انکشاف ، يونين ،پېښور ۱۳۷۵ .

۱٦- صافي ، لطف الله : جغرافيای عمومي افغانستان دانش کتابتون ، قصه خواني بازار پېښور ، ۱۳۷۷ - ۱۹۹۸ م .

۱۷- ضرابي ، محدم صديق : ابياري رو زمين دکابل پوهنتون د کرنې پوهنځی خپرونې ۱۳٦۷ - کابل.

۱۸- فرهمند ، دوکتور حبيب الله : ( افغانستان فردا... ) آزاد افغانستان ، مجله د افغانستان د مطالعاتو مرکز (A.S.C) پېښور دريمه گڼه ۱۳۷۷ .

۱۹- کامبیز ، غلام دستگیر او یو شمېر نور لیکوال ، جغرافیای اقتصادي کشور های سرمایه داري وروبه انکشاف د لوړو زدکړو د موسسو لپاره درسي کتاب ، دلوړو زده کړو وزارت چاپ . کابل.
۲۰- گردیوال ، شیر احمد : په افغانستان کې چاپیریال ته ورپېښ خطرونه ، دافغانستان د مطالعاتو مرکز ۱۳۷۸ .
۲۱- یوهان لورنغ شمیت : ( ژباړونکې : عبدالروف خپلواک ) پر مختیایي هېوادونه ، کابل پوهنتون ۱۳۵۹ .
۲۲- ... د متحده ایالاتو حکومتي سیستم ، د امریکا د فرهنگي خدماتو اداره اباسین پریس ، پاکستان ، پېښور ۱۹۹۹م .
۲۳- قانون اساسي جمهوري افغانستان دویم څپرکی ۳۲ توک د دولتي چاپخانې چاپ .
۲٤- ... سیمینار ملي انتقال و ترویج تکنالوژي مناسب ، لکچر ها ، د لوړو زده کړو وزارت کابل ، قوس ۱۳٦۰ .
۲۵- .... سالنامهٔ احصائیوي وزارت احصائیه مرکزي ، کابل ۱۳٦۸ .

26- A, Anchishin, National Economic planning progress publishers . 1980.

27- I, Laptev. The world of man in the world of Nature 1979.

28- M.L, Jhingan. The Economios of Development and Planiring. Delhi 1993.

29- Meller, Jhon.w. The Economec of Agricultural Development, Cornell Universituy U.A.A 1969.

30- Raleigh, Bar lowe. Land Resources Economic

(The Economics of Real property), Machigan State University , 1989.

31- Robert, A.Lynn. Basic Economic Principle Mc Graw HIL L, Book Company , New york . 1965.

32- Shvyr kov, M. Centralised Planning of the Economy Progres Publighors. 1980.

33- Snodgraos, Milton and Luther T.wallace. Agriculture Economic and growth , Meredith Publishing Company, Newyork, 1969.

34- Valentey, Prof. D.I. The theory of popalation , Progress Publishers. 1978.

35- .... The progress of Nations, Jurnal of UNICEF, 1996.

36- .....Using Our National Resources. U.S.A 1992.

# د اصطلاحاتو دلنډې شرحې ضميمه

Arable Land: د پنځيزو شتمنيو په وتپوهنه کې د کرنې په سکتور کې هغې دکرنې وړ ځمکې ته ويل کېږي، چې له دايمي څرځايونو او ځنګلونو سره توپير لري او عموماً ترکرنې لاندې وي يعنې ځينې وخت نه شي کرل کېداى ، خو هرو مرو ځنګل ياڅرځاى هم نه وي.

Biosphere: داد ځمکې پرمخ يوازې هغې برخې ته ويل کېږي، چې د بېلابېلو ژونديو ژويو د ژوند نښې په کې وي او ژوند په کې تېروي . دا دليتوسفير ، هايدروسفير ( په سمندرونو او سيندونو کې ژوندي ژوي) او اتوموسفير ( د هوا کوچني موجودات ) هم را اخلي يا په بله وينا : د ځمکې حياتي قشر.

Biom: دژويو اوبوټو ګډ ژوند ، طرز اوسيمې لکه په ځنګلوکې د ژويو ژوند.

Climate : په يوه ټاکلي ځاى کې په ټاکلي وخت کې ټولې مترولوجيکي ښکارندې .

Debit : هغه اندازه اوبه چې په سيند کې بهيږي او دهغو له اړوندې حوزې وځي. دا په يو ثانيه کې په مکعب مترو ښوول کېږي.

Dune: هغه کوچنۍ او لويې شګلنې غونډۍ، چې په دښتو او شګلنو خاورو کې دبادونو د لګيدو له امله جوړيږي.

Erosion: د باد ، تونده باران ، او واورې د شړيدو له امله د خاورې ښوييدل ، په تېره د کرنيزو خاورو بې ځايه کيدنه يا ترلرې ځايونو دهغې

لیږدیدل او په پایله کې د کرنیزو خاورو له لاسه وتل.

Ground water : هغه تر ځمکې لاندې اوبه چې د اور ښتونو له امله زېرمه کېږي .

Humus: د بوټو او ژویو له ناژوندي پاتې شونې، چې کیمیاوي بدلونونو له امله ګډې وډې شوې وي او له خاورو سره ګډې موندل کېږي دا په کرنیزو بوټو غوره اغېزه لري.

Irrigated Land: هغه کرنیزې ځمکې چې ثابته د ابو منبع لري او د کښت او کرنې له پاره د اوبو له همدې تاکلې سرچینې څخه خړوبېږي.

Desert: ( سارا یا دښته ) هغه پراخه ځمکه چې بې وښو ، بوټو ، ونو او آن دا چې د ژوند لپاره وړتیا نه لري ، اورښت یې ډېر لږ او دشپې او ورځې تر منځ یې د تودوخې توپیر ډېر وي ، ډېر وچ اقلیم لري ، ځینې وخت ځینې ځانګړې دوچې اغزن ډوله بوټې په کې شنه کېږي.

Dry forming: بې ابو ( للمه ) کرنه؛ چې هلته د اوبو کومه ثابته سرچینه لکه سیند ، کانال ، ویاله کاریز یا نور نه وي ، یوازې د اورښت په تمه کرل کېږي.

Evaporation: له مایع شکل څخه د بخار په بڼه بړاس او داوبو له لاسه وتل.

Habitat: د یو ژوندي ژوي د ژوند محیط او چاپیریال .

Hydrospher: دځمکې د غونداري اوبلن قشر ( پوړ ) یا هغه ټوله برخه چې اوبه په یوه بڼه نه په یوه بڼه (بړاس ، کنګل ،ویلې ،نم ) په هغې کې ولیدل شي.

National Park: هغه پراخه ساحې چې ځانګړي بوټي ، ونې او

وحشي ژوي لري او دځانګړي پنځيز يا کولتوري ارزښت درلودونکي وي.

Research: علمي څېړنه ، د يوې ټاکلې موضوع په باب ريښتينې ، ژوره او پوهنيزه پلټنه ده ، چې په هغې کې حقايق ، واقعيتونه او مسايل تحليل او تفسير کېږي يا د ليکنې دعلمي مېتود دتحليل پر بنسټ په دقيق او سيستماتيک ډول د وسايلو ښوول او دبېلابېلو ښکارندو اړيکې روښانه کول.

Steppe : طبيعي چمنزارونه

(پای)

Download From: Aghalibrary.com

PROPERTY OF ACKU 9140

# Introduction of Natural Resources of Afghanistan

By
Pro. Mohammad Bashir Doodyal

ACKU

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني
VEREIN ZUR FORDERUNG DER
AFGHANISCHEN KULTUR E . V
د خپرونو لړ: (۱۹)